Made with Xodo PDF Reader and Editor

درېم چاپ

د نوي زياتونو سره

زبدة المسائل

پښتو

اول فصل
د اسلامي اقتصاد د اساساتو لنډه پيژندنه

دوهم فصل
د اخستلو اوخرڅولو د مسائلو پيژندنه

دريم فصل
د شرکت پيژندنه

څلورم فصل
د مضاربت پيژندنه

پنځم فصل
د اجارې پيژندنه

شپږم فصل
د سود پيژندنه

اووم فصل
د اسلامي اقتصاد په ارتباط خلوېښت (۴۰) احاديث

من تاليفات

الفاضل الشيخ الجليل العالم النبيل العلامة
الدكتور ابو محمد كل الرحمن الاريوبي الحقاني
المهاجر المدني دامت فيضه الجاري

ناشر
مکتبه مدنیه
کاهی کجه بکه ضلع منگر ۰۳۳۲۱۸۷۵۶۵۰

ژباړونکی
قاری مجیب الرحمن مدنی

Made with Xodo PDF Reader and Editor

پيسي خو هسې يو رواج دی د ثواب پکې څه نشته

زما په جنازه کې دې تقسيم شي کتابونه

بسم الله الرحمن الرحيم

رحماني کتابتون

د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 يادونه : په ټليګرام کې رحماني کتابتون په سرچ

سره هم پيدا کولای شئ که ئې په انګلسي سرچ

کړئ يا هم پښتو ملګرو .!

Rahmani library

رحماني کتابتون

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

زبدة المسائل

(دریم چاپ)

له نویوزیادتونوسره

اول فصل: داسلامي اقتصاد داساساتولنه ه پیژندنه

دوهم فصل: داخستلواوخرڅول دمسائلو پیژندنه

دریم فصل: دشرکت پیژ ندنه

څلورم فصل: دمضاربت پیژندنه

پنځم فصل: داجاری پیژندنه

شپږم فصل: دسود پیژندنه

اووم فصل: داسلامی اقتصادپه ارتباط څلوېښت(۴۰)احادیث

مؤلف

ابومحمد مولوی ګل الرحمن حقانی المهاجر مدنی

ناشر

مکتبه مدنیةکاهی کچه پکه هنګو

۰۳۳۲۱۸۷۵۶۵۰

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دچاپ اوهردول
نشرحقوق ئی دمؤلف
سره خوندی دی

دکتاب نوم : زبدة المسائل

مؤلف نوم : ابومحمد مولوي کل الرحمن حقانی المهاجر مدنی مدظله عالی

کمپوزنګ چاری: ابومحبوب الحاج مولوی فضل الرحمن فضلی

زیراهتمام : ابوعابد الحاج قاری مجیب الرحمن مدنی

تعداد : (۱۰۰۰)

تعدادصفحات: (۱۵۹)

دریم چاپ: له نویوزیادتونوسره

دچاپ کال:- ۱۸ \شوال\۱۴۳۵ھ ق/الموافق۱۵/۸/۲۰۱۴ء

ناشر:
مکتبه مدانیةکاهی کچه پکه هنګو، مکتبه فاروقیه،محله جنګی پشاور،

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



(خوشخبري)

محترمو مدرسينو او متعلمينو!

په دغه **زبدة المسائل** رساله

کی دفقهی کتابونو کتاب البیوع

اوخصوصًا دآخري هدايو مغلق

مواضع حل شويدي ستاسی ترينه

په آساني سره استفاده کوليشي.

فضل الرحمن فضلی عفی عنه

الباری

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

﴿فهرست﴾.....(أ)
﴿تقريظات﴾.....(ط)
﴿ سريزه ﴾.....(١)
﴿اول فصل: داسلامي اقتصاد داساساتولند ه پيژندنه﴾.....(٢)
﴿اول بحث: داسلامي اقتصاد اهميت﴾.....(٢)
﴿ دوهم بحث: دبيعى پيژندنه ﴾.....(٣)
الف:- دبيعى لغوي معنى:.....(٣)
ب:- دبيعى اصطلاحى معنى:.....(٤)
ج:- دبيعى اصطلاحات:.....(٤)
﴿دريم بحث: دبيعى اقسام﴾.....(٥)
الف:- دبدلينو په اعتبارسره د بيعى څلور اقسام دى:.....(٥)
ب:دبدل واحديعنى دروپى په اعتبارسره هم دبيعى څلوراقسام دي:.....(٦)
ج:- دحكم په اعتبارسره دبيعى څلور اقسام دي:.....(٧)
﴿ څلورم بحث: دبيعى شرائط﴾.....(٨)
الف:- دانعقاد دبيعى شرائط: .....(٨)
ب:- دصحت دبيعى شرائط: .....(٩)
﴿پنځم بحث: دبيعى حكم ﴾.....(١٠)
﴿ شپږم بحث: د بيعى محل ﴾.....(١٠)
﴿اوم بحث: دبيعى ركن ﴾.....(١٠)
﴿دوهم فصل: داخستلواوخرڅول دمسائلو پيژندنه ﴾.....(١٠)
﴿ اول بحث: داخستلواوخرڅولو شرطونه ﴾.....(١٠)
الف:- داخستونكي اوخرڅونكى داقوالو تحقيق:.....(١٠)
ب:- دمبيعى اوقيمت تاكل:.....(١١)
ج:- دمجلس خيار اندازه:.....(١٢)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

د:- دبیعی تعاطی حکم:.....(۱۳)
ه:- دمبیعی تعین کولو حکم:.....(۱۳)
و:- دمبیعی قیمت ورکولو حکم:.....(۱۴)
ز:- دنقدو،نسئیه اودقسطو په صورت کی د بیعی حکم:.....(۱۴)
﴿دوهم بحث:دغلی دانی داخستلواوخرڅول شرعی طریقی﴾.....(۱۵)
الف:- دپیمانه اووزن کولوترتیب شرعی حکم :.....(۱۵)
ب:- دغلی دانی تخمنی بیعی حکم:.....(۱۶)
﴿دریم بحث: درخت(کپړی)خرڅولواواخستولودوي طریقی﴾.....(۱۸)
﴿څلورم بحث:دونو بوټو خرڅولو اواخستولوشرعی طریقی﴾.....(۱۸)
الف:- دباغواومیوو دخرڅولو او اخستولو اووه صورتونه:.....(۱۸)
ب:- دزهرجنو بوټو دخرڅولو اواخستولو حکم:.....(۲۲)
﴿پنځم بحث: دزمکو خرڅولو اواخستولوشرعی طریقی﴾.....(۲۲)
الف:- دزمکی دبیعی یومهم صورت:.....(۲۲)
ب:- دشاړه زمکی دآبادي شرعی حکم:.....(۲۳)
ج:- دفضا د خرڅولو اواخستولوشرعی حکم:.....(۲۳)
د:- د بیعانه ورکولو حکم:.....(۲۴)
ه:- دفرضی شریک سره دبیعی حکم:.....(۲۵)
﴿ شپږم بحث:دخرڅولو اواخستولو ممنوع صورتونه﴾.....(۲۵)
الف: - دلسو ممنوعو صورتونوتوضیح:.....(۲۵)
ب:- غله شوی شئ اخستلو حکم:.....(۲۹)
ج:- دافیمو هیروینو اوحرامو د بیعه حکم:.....(۲۹)
د:- بیعه عینه حکم:.....(۳۰)
ه: - دقیمت په معامله کی شرعی لاربنوني:.....(۳۰)
و:- داحتکارشرعی حکم:.....(۳۱)
﴿ اوم بحث: دحیوناتو خرڅولو اواخستولو حکم ﴾.....(۳۲)
الف:- دربښمو چینجئی اودخزندو خرڅولو اواخستلوحکم: .....(۳۲)
ب:- دبزو میکو خرڅولو اواخستولو شرعی طریقی:.....(۳۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ج:- هغه شيان چې بغيردياډونې نه په مبيعې کې داخل وي:.....(۳۳)
د:- دحوض دماهيانورانيول خرڅول حکم:.....(۳۴)
ه:- دحمل بيعې حکم:.....(۳۶)
ز:- دخرمنو خرڅولو اواخستلوحکم:.....(۳۶)
﴿ اتم بحث: دخرڅولو اواخستلولپاره مهم هدايات ﴾.....(۳۷)
الف:- دمال متقوم توضيح:.....(۳۷)
ب:- دمبيعې دموجوديت مهمه مسئله:.....(۳۸)
ج:- دکميشن کاربار کولوشرعې طريقه:.....(۳۹)
د:-دنقدوپه نسبت په قرض باندې په زياتوروپيوسره دبيعې حکم:.....(۴۱)
ه:- غبن فاحش دصورت توضيح: .....(۴۲)
﴿نهم بحث:دخيارشرط،خيارروٴيت،اوخيارعيب حکمتونه ﴾.....(۴۲)
الف:- دخيارشرط مهم صورتونه:.....(۴۲)
ب:- عقدکونکو په خيارشرط کې دصلاحيت توضيح :.....(۴۳)
ج:- دخيارروٴيت توضيح:.....(۴۴)
د:- مبيعې لره وکيل اويادقاصد ليدلوحکم:.....(۴۵)
ه:- درانده دبيعې حکم: .....(۴۵)
و:- دخيارعيب توضيح:.....(۴۶)
ز:-دعيب نه دصلح شرعې طريقه:.....(۴۷)
ح:- مالک داجازت نه بغيرديوشئ دبيعې حکم:.....(۴۸)
ط:- مبيعې کې دتصرف نه وروسته په پخوانې عيب باندې دخبرکيدلوحکم:.....(۴۹)
ي- مبيعه کې دننه دزياتې ددوه قسمونه توضيح:.....(۴۹)
ک:- مبيعې کې دعيب معلوميدلو طريقه:.....(۵۱)
﴿ لسم بحث: په مسائلومتفرقوباندې تبصيره﴾.....(۵۲)
الف:- دمسجد شريف زياتې سامان خرڅولو حکم:.....(۵۲)
ب:- حق تلفې ، صورت کې رشوت ورکول حکم:.....(۵۳)
ج:- دقبضې نه وړاندې د شيانو خرڅولوحکم: .....(۵۳)
د:- دقرض خرڅول ناروا دي:.....(۵۶)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ه:- اقاله (رنگول دبیعی) حکم:.....(۵۴)
و:- داقاله دصورتونو توضیح:.....(۵۵)
ز:- تول او پیمانه کی کمئی کولوسزا:.....(۵۶)
ح:- دکفارسره معامله:.....(۵۷)
ط:-د پگړی شرعی حکم:.....(۵۷)
ي:- دبیعی سلم توضیح:.....(۵۷)
ک:-دزکوة په اداکولوکښی به دموجوده بنارقیمت معتبروی نه داخستالوقیمت:(۵۸)
ل:-په تجارتی کرایه اوذاتی استعمال والا موټروکښی دزکوة حکم:.....(۵۸)
م:- زر ضمانت،دکرایه کورونو،اودوکانونو کښې دزکوة حکم:.....(۵۹)
ن:- دغرائزوونو اولرګو کښې دعُشرحکم:.....(۶۰)
س:- داجاری مزارعت عاریت اودفصل خرڅولو په صورت کښې دعشرحکم:..(۶۱)
﴿ دریم فصل: د شرکت پیژ ندنه ﴾.....(۶۲)
﴿ اول بحث:د شرکت مشروعه توضیح ﴾.....(۶۲)
﴿ دوهم بحث: دشرکت املاک احکام ﴾.....(۶۳)
﴿ دریم بحث: دشرکت مفاوضه احکام ﴾.....(۶۳)
الف:- شرکت مفاوضه توضیح :.....(۶۳)
ب:- شرکت مفاوضه کی شریکانو لپاره هدیات:.....(۶۴)
ج:-دشرکت مفاوضه شرایط:.....(۶۵)
د:-شریک اختیارات:.....(۶۵)
﴿ څلورم بحث: دشرکت عنان احکام ﴾.....(۶۵)
الف:- دشرکت عنان توضیح:.....(۶۵)
ب:- شرکت عنان کی شریکانو لپاره هدیات:.....(۶۶)
ج:- دشرکت عنان دباطل کیدلوصورتونه:.....(۶۷)
د:- دشریک مال دزکات آداکولوطریقه:.....(۶۸)
﴿ پنځم بحث: دشرکت صنائعواحکام ﴾.....(۶۹)
الف:- دشرکت صنائعوتوضیح:.....(۶۹)
ب:- شرکت صنائعودشریکانومسؤلیت:.....(۶۹)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿شپږم بحث:دشرکت وجوه احکام﴾ .....(۷۰)
الف:- دشرکت وجوه توضیح:.....(۷۰)
ب:- دشرکت فاسده صورتونه: .....(۷۰)
ج:- دشرکت یوڅو خصوصي صورتونه:.....(۷۱)
د:- دشرکت یونارروا شرط توضیح: .....(۷۲)
ه:- دشراکت دبی برکتی سبب :.....(۷۲)
﴿ څلورم فصل: دمضاربت پیژندنه ﴾.....(۷۳)
﴿ اول بحث: دمضاربت توضیح ﴾.....(۷۳)
﴿ دوهم بحث: دمضاربت دصحت شرطونه﴾.....(۷۴)
الف:-دمضاربت ددریو شرطونه بیان: .....(۷۴)
ب:- دمضاربت شرعی حیثیت:.....(۷۵)
ج:- دمضارب اختیارات:.....(۷۶)
﴿ دریم بحث: دمضاربت حکم ﴾.....(۷۷)
الف:- دمضاربت دهلاک شوي مال حکم : .....(۷۷)
ب:- دمضاربت په مال کی دتصروف کولو حکم: .....(۷۷)
ج:- مضارب بل چا ته په مضاربت سره دمال ورکولوحکم:.....(۷۹)
د:- قرض باندی دمضاربت کولوحکم:.....(۸۰)
ه:- مضارب دمصرف او خرچی کولوحکم:.....(۸۱)
﴿ څلورم بحث: دمضارب اوصاحب المال د اختلاف حل طریقي ﴾....(۸۲)
الف:- جانبینود اختلاف دیومهم صورت حل:.....(۸۲)
ب:- دمضارب معزول کیدلویوضروري صورت حل:.....(۸۲)
﴿ پنځم بحث: مضاربت دختم کیدلوتوضیح ﴾.....(۸۳)
الف:- مضاربت دباطل کیدلوترتیب:.....(۸۳)
ب:- مضاربت دفسخ کیدلوترتیب:.....(۸۴)
ج:- د صاحب المال د مال حفاظت لپاره یوحیله:.....(۸۴)
د:- دمضارب لپاره دتنخوا مقرورول حکم:.....(۸۵)
﴿ پنځم فصل داجاری پیژندنه ﴾ .....(۸۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿اول بحث:دمشروعه اجارى توضيح﴾ .....(۸۵)
﴿ دوهم بحث: دمشروعه اجارى شرطونه﴾.....(۸۶)
الف:- داجارى دصحت شرعى طريقى:.....(۸۶)
ب:- داجارى مهمو شرطونو تشريح:.....(۸۷)
ج:- داجارى مشروطه حكم:.....(۸۷)
د:- مستاجر بل مستاجرته ديو شئ په اجاري وركولوحكم :.....(۸۷)
﴿دريم بحث: دمكان اودوكان داجارى شرعى احكام ﴾.....(۸۸)
الف:-د دمكان اودوكان اجارى كولو شرعى طريقه:.....(۸۸)
ب:- دمستاجرصلاحت اواختيارات:.....(۸۹)
ج:- دمكان اوكوردكرايه يوځومهم صورتونه:.....(۸۹)
د:- دمنقولى شئ اجارى كولوحكم:.....(۹۰)
ه:- دكان ياسراي داجارى شرعى طريقه:.....(۹۱)
و:- دحمام داجارى شرعى حكم:.....(۹۱)
﴿ څلورم بحث: دزمكو داجارى شرعى احكام ﴾.....(۹۲)
الف:- دزمكى داجارى دكروندى توضيح:.....(۹۲)
ب:- زمكه دحاصلاتو دهلاک كيدلو حكم:.....(۹۲)
ج:- دزمكى داجارى ديواختلا فى صورت بيان:.....(۹۳)
د:- دزمكى داجارى اوقفيز الطحان متعلق توضيح:.....(۹۳)
ه:- دمنافعو په منافعوباندى داجارى كولو حكم:.....(۹۴)
و:- اجاره فاسده كى دمزدورى يوخاص حكم:.....(۹۵)
ز:- اجاره فاسده ديوعجيب صورت بيان:.....(۹۵)
ح:- دزمكى داجارى عشرآداكول حكم:.....(۹۵)
﴿پنځم بحث:دسپرتيا ياباروړلولپاره دسواري داجارى شرعى احكام ﴾..(۹۵)
الف:- دسپرتيا ياباروړلولپاره دسواري كرايه اخيستلو شرائط:.....(۹۵)
ب:- دسپرولو اوباروړلولپاره دموټرو داجارى كولو توضيح:.....(۹۶)
ج:- داجاره كړى موټر دهلاک كيدلو دتاوان زمواری تشريح :.....(۹۷)
د:- دمزدوري اوملازمت دتاوانونو دضامن دوه مهم صورتونه:.....(۱۱۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ه:- مزدوردمزدوري دآدايني توضيح:.....(۹۹)
و:- دمزدوري پرآړه ددولت مسؤلت:.....(۱۰۰)
ز:- د ترلي مزدوري پرآړه اسلامي هدايات:.....(۱۰۰)
ح:- دمزدوررانو فرائض اوزموارى:.....(۱۰۱)
ط:- داجرت مثلى يومهم صورت:.....(۱۰۲)
ى:- ناروا ملازمت اومزدوري كولو گناه:.....(۱۰۳)
ک:- دكافر سره مزدورى كول حكم:.....(۱۰۳)
﴿ شپږم بحث: داجارى دفسخى كولواحكام ﴾.....(۱۰۴)
الف:- موجر اومستاجرخيارات:.....(۱۰۴)
ب:- داجارى دفسخه كولو صورتونه:.....(۱۰۵)
﴿ اوم بحث:دښى كارونوباندى اجرت اخستلواحكام ﴾.....(۱۰۵)
الف:- دموضوع په اړه علمى څيړنه:.....(۱۰۵)
ب:- حج بدل باندى اجرت اخستلوحكم:.....(۱۰۶)
ج:- په تحكيم باندى داجرت وركولواخستلو حكم:.....(۱۰۶)
د:- فتوى باندى داجرت اخستلو حكم:.....(۱۰۷)
ه:- ايصال ثواب باندى داجرت اخستلو حكم:.....(۱۰۷)
و:- درخصتى اوچتيانو تنخواه وركول اواخستل حكم:.....(۱۰۷)
﴿ اتم بحث: دصنعت اوكسبگرى ددوه اصولو توضيح ﴾.....(۱۰۸)
﴿ نهم بحث: دمسائلو متفرقو بيان ﴾.....(۱۰۹)
الف:- دډاكتر اووكيل دفيس حكم:.....(۱۰۹)
ب:- دجرمانودَ روپو شرعى حيثت:.....(۱۰۹)
ج:- دورک شوي شى باندى دانعام وركولوحكم:..... (۱۱۰)
د:- دكرائى په سامان اومكان كى دزكوة وركولوحكم:.....(۱۱۱)
ه:- تنخواه كې كوة حسابولوحكم:.....(۱۱۱)
و:- دلال ته اجرت وركول حكم:.....(۱۱۱)
ز:- دمزدورداجرت په اداء كى خاصه توجه:.....(۱۱۲)
﴿ شپږم فصل: دسود پيژندنه ﴾.....(۱۱۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿ اول بحث: دسود توضيح ﴾.....(۱۱۲)
﴿ دوهم بحث: دجاهليت سود تشريح ﴾.....(۱۱۳)
﴿ دريم بحث: د ربوا الفضل تشريح ﴾.....(۱۱۴)
﴿ څلورم بحث: دتجارتی سود تشريح ﴾.....(۱۱۴)
﴿ پنځم بحث: دزمکی دسود تشريح ﴾.....(۱۱۶)
الف:- زمکی دګرهنی سود حکم:.....(۱۱۶)
ب:- دګروي سودکولو حکم:.....(۱۱۶)
﴿ شپږم بحث: دبانکي سود تشريح ﴾.....(۱۱۸)
الف:- بانکي سود معامله:.....(۱۱۸)
ب:- بينک کی دروپيو جمع کولوحکم:.....(۱۱۸)
ج:-ديوواقعی ضرورت په بنا بينک کی دروپيو اينبودلوحکم:.....(۱۱۹)
د:- نوټونه (روپيو) دسودحکم:.....(۱۱۹)
ه:- دبينکی سودروپيودلګولوخايونه:.....(۱۱۹)
و:- ضرورتمندلره دسوداخستل حکم:.....(۱۲۰)
ز:- دارالحرب کی دسودکولوحکم:.....(۱۲۱)
﴿ اوم بحث: دسوددعلتونوتشريح ﴾.....(۱۲۱)
الف:- دسود يوی جامعی قاعدی توضيح:.....(۱۲۱)
ب:- دسودپه معامله کی دصفت اعتبارنشته:.....(۱۲۲)
ج:- دسودپه معامله کی دعدد متقاربوحکم:.....(۱۲۲)
د:- خرمګانودمعاملی ديوصورت بيان:.....(۱۲۲)
ه:- دقماراولاټري شرعی حکم:.....(۱۲۲)
و:- دچټ فنډاچولوحکم:.....(۱۲۳)
ز:- دسود خواړونکی سره دشرکت حکم:.....(۱۲۴)
﴿اووم فصل: داسلامی اقتصادپه ارتباط څلوښت(۴۰)احاديث﴾....(۱۲۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor



Made with Xodo PDF Reader and Editor

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(تقریظ)

فضیلة الشیخ جامع المعقول والمنقول حامل الشریعة والطریقة شیخ الحدیث بدارالعلوم منهاج العلوم نریاب محمدمعلم دامت برکاته.

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدالانبیاء والمرسلین وعلی اله واصحابه الطاهرین.

وبعد داواقعیت ده چی مؤمنان دژوند په تولوبرخوکښی دالله له لوری په ډیرواحکاموځخه مکلف دی خو متاسفانه چی ځینی خلق دمعاملاتو اوسفرله احکام ځخه لاتراوسه ناخبرپاتی دی اوځینی نورتکاسل کوی نو زمونږورور زبدة الصلحاء قدوة المؤلفین العارف بالله واحکامه مولانا کل الرحمن حقانی صاحب دپورتینوموضوعاتوپه اړوندیوه مفصل اومحققه رساله لیکلی چی مسمی ده په (زبدة المسائل) سره، هرخاص اوعام مسلمان ځخه خواهش ده چی له دغی ځخه استفاده اوکړی اوالله دی مؤلف لپاره دعقبی ذهیره وګرځوی.

ان الله لایضیع اجرالمحسنین

اناالعبدالضعیف محمدمعلم جان

خادم العلوم النبویة بجامعة منهاج العلوم نریاب هنګوپاکستان

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(تقريظ)

جامع المعقول والمنقول حاوي الاصول والفروع الشيخ حاجي محمد شيخ الحديث بجامعة العلوم الاسلاميةزرګري.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على سيدالانبياء والمرسلين وآله وصحبه اجمعين

امابعد مولوی ګل الرحمن حقانی دامت برکاتهم العالية چه دډيرو کتابونو مؤلف ده هميشه دتاليف وظيفه ترسره کوی همدغه سلسله کښی يوکتاب دبيع اوشراء متعلق (زبدة المسائل) تاليف اوچهاپ ته وړاندی کړيده.

مافقير هم دهغه مطالعه وکړه ډيرپه زړه پوری اومفيد ده الله تعالی دنورو کتابونوپه شان مقبوليت ورکړی صدقه جاريه دورته وګرځوی.

آمين آمين لاارضی بواحدة اضم اليها الف آمينا.

اخوکم فی الله حاجی محمد عفی عنه (۱۹،شعبان،۱۴۲۷ھ ق)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(شعر)

چه ئی ولیکه کتاب ډک دآثر

خدایه ورباندو کړی ته نظر

څومره بنکلی مسائل پکی موجوددی

خوشبوئی ورنه څی لکه عنبر

هرڅوک ئی که دزړه په سترګوګوری

بیابه ګرځی به دنیاکی بی خطر

چه په نامه دزبدة المسائل سره مشهوردی

ده ځلانده دتیارودی لکه سحر

هرچاچی ترمفیدګټه وکړه

منورپه شغلووی لکه لمر

مولوی صاحب ګل الرحمن پدی تصنیف کی

ماطاهردرویش لیدلی دی ګوهر

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿ بسم الله الر حمن الرحيم ﴾

﴿ سریزه ﴾

الحمد لله الذي شرع الاسلام وسهل شرائعه وميّزبين الحلال والحرام و الصّلوة والسلام على سيدالانام الذي بيّن ماشرع الله لعباده فی جميع شؤون الحياة والانصرام، وعلى آله هداة الانام، واصحابه مصابيح الظلام ،وعلى من درس كتاب الله وسنن رسوله عليه الصلاة والسلام واستنبط منهما الاحكام، ودوّنها فی الكتب وسهلها للخواص والعوام.

پس وائی عاجزبنده گل الرحمن حقانی اریوبی غفرله الباری چی انسان د روح اومادی څخه جوړشویده اودواړه غوښتنی اوتقضاوی لري، نود ده لپاره هغه مذهب دين اوقانون غوره اوبهتره وی کوم چی ددمادی اومعنوی غوښتنی اوضروريات پوره کولای شی اوهغی ته څواب ورکړ ليشی ،اسلام داسی يودين اوقانون دی چی دانسان مادی اومعنوی غوښتنی اوضرويات ئی په نظرکی نيولی،اودهغی سره سم ئی هديات ورکړي،ترڅوانسان په يو اړخ کی کمئی اومشکل حس نکړی، بلکی دهر اړخ لپاره مکمل هدايات لری، مؤمن همه هغه وخت تکميل ته رسيدلی شی چه په عباداتواو معاملاتو دواړوکی دالله تعالی اودرسول کريم ﷺلاره او طريقه غوره اواختيارکړي، او په مکمل اوپوره ډول سره هغه پری ځان اوټولنه باندی عملی کړي، او هغي ده عملی کولو لپاره خپل ټول توان په کارواچوي، نوپه دی معاملاتو کی يوهم اقتصا دی نظام دی چه اسلام ئی پوره لارښودنه کړيده، چه بل نظام ئی نظيرنشی وړاندی کولی، دهمدي خبري په نظرکی نيولی سره اسلامي فقهاؤپه خپلي لوړي نظرئ سره دانسان ژوند دجزئياتودومره احاطه کړ يده چی نوره پوهان ئی متحيرکړيدی،لهداموڅهم دخپلومخلصوورنړو پر لاپسی غوښتني اونوی عصرحلاتوديته متوجی کړو،چی دمسندو کتابونو په

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

حوالوسره دتجارتی مسائلویوه مجموعه ترتیب کړو،ترڅو چی پدی سره یو خوادتجاروپریشانی ختم کړي شی اوبل خوائی دحلالی روزي په ګټولوسره دونیاوي اواخروي سوکالی خوشحالی اونیک بختی په برخه شي پس دغه مجموعه مو﴿زبدة المسائل﴾سره مسمی کړه چه په سریزه او اووه فصلونو باندی مشتمله ده البته په حواله کی موصرف په ترجمه اوخلاصه اکتفاءکړیده لوجی دویري دا وژدوالی نه الله تعالی دی راته ددنیا او آخرت نجات وسیله وګرځوي اوڅوک چی پکی سعی کوي هغی لپاره دکمیابي وسیله کړي آمین بجاه سیدالمرسلین.

﴿اول فصل: داسلامي اقتصاد داساساتولنډه پیژندنه﴾

﴿اول بحث: داسلامي اقتصاد اهمیت﴾

محترموا!انسان که څه هم پدی نړی کي دالله جل جلاله دبند ګی لپاره پیدا شویدی اودغه ددي انسان اصل مقصد دي، البته الله تعالی ده ته دا حساس شعور اوخواهشاتو زبردست قوتونه هم ورکړی دی،اودډول ډول ارتیاوي او غوښتني ئي هم دده له بدنه سره ترلی لکه خوراک څښاک نکاح اوداسی نورضروریات، اسلام ددواړولارو په مابین کي عدل اوبرابرتیا قائمه ، کړه اوددي لپاره ئي ددین اومذهب عبادت او بندګی په معناکي فراخی راوستله، انسانیت ته ئی دفطرت سره برابر او دژوند انقلابي تصور عطا کړه ، اسلام وائي چی انسانی بدن دالله تعالیٰ آمانت دي، پدي کی دانسان خیانت نه کوی دشریعت په حدودکي دي اوسي،یومسلمان که په بازارکي وي،که په کارخانه کي وي ،که په دفترکی وي ،که په عدالت کي وي،اوکه پرسړک په ګرمی کی دخپل ضعیف موراوپلار اوکمزورو بچیانودمړولولپاره خولي تویوي په هرحال دي دحلالي روزي دحصول کوشش به کوي،اودالله تعالی په رازق کیدو دي باورلري، نو هغه انسان دعبادت په حالت کي دي اود

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دين په يوه کارکي مشغول دي. مشهور عالم علامه ماوردي رحمه الله ليکي چي په بنستيزه توګه دکسب اوروزي ګټلودري ډريعي دي، اول: زراعت، دوهم: تجارت، دريم:صنعت؛

پس پدي ذريعو کي کومه وسيله دروزي ګټلولپاره زياته غوره ده؟ علماو کراموپه خپل فکر سره ددي دپاکلو کوشش هم کړيدي، دامام شافعي رحمه الله تعالى په فکرتجارت ترټول زيات غوره دي پخپله دماوردي رحمه الله تعالى رايه ده چي دزاعت فضيلت زيات دي. ([1]) اوامام بخاري رحمه الله تعالى داسي حديثونه يوځاي کړيدي چي په اسلام کي دتجارت، زراعت ،او صنعت کسب ارزښت اودرسول الله صلى الله عليه وسلم په نظر کي دهغو شرف اوفضليت بيانوي.(بخاري کتاب البيوع باب کسب الرجل وعمله بيده). نوروزي په غوښتوکي دحلال اوحرام پرحدودو قائم اوسيدل ارزښت لري ، علامه ابن حجر رحمه الله تعالى هم دى اړخ ته اشاره کړى ده چى فرمائى،قد يختلف باختلاف الاحوال والاشخاص. ([2])يعنى دحالتواوخلقو دتوپيرسره په احکامو کى توپيرکيدلاى شي، يعنى په مختلفوحالاتواوځايو کى دروزي ګټلودذريعوپه ارزښت اوفضيلت کى توپير واقع کيږي.پدى ارتباط په دى کتاب کى به انشاء الله تعالى اهم ضرورى مسائل نويشته کړو.پس دلته دځوامورو پيژندل ضروري دى اول:دبيعه تعريف، دويم: دبيعه اقسام، دريم: دبيعه شرطونه،څلورم: دبيعه حکم، پنځم: دبيعه محل، شپږم: دبيعه رکن .

﴿ دوهم بحث: دبيعى پيژندنه ﴾

{الف:-دبيعى لغوي معنى}

پس زده کړه داخبره:-چي لفظ دبيعى دقبيلى داضدادونه دى يعنى په اخستلو

---

[1] عيني على البخارى ج٦ص١٨٦).

[2] فتح البارى، ج٤ص٣٠٤)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

اوخرڅولودواړوکی استعمالیږی لکه څر نکه چه دشراء لفظ په دواړو کی استعمالیږی، په مشکلات خواهرزاده کی لیکلي دي- چی په حقیقت کی دلغت په اعتبارسره دادواړه لفظونه ګویا دخرڅونکی اواخستونکي دواړو ولپاره په طریقه داشتراک سره استعمالیږ ی، لیکن په عرف کی لفظ دبیعی دبائع سره مخصوص ذي ،لکه چي لفظ د شراء اشتراء اوابتیاع دمشتري سره مخصوص دي.

{ب:- دبیعی اصطلاحی معنی}

پس زده کړه داخبره چي لفظ دشراء "اشتراء"،او ابتیاع دامشتري سره مخصوص دی،چي پدی کی دعلماؤ کرامو اختلاف ده ددوي څخه ددی مختلف تعریفونه منقول دی علامه طحاوی رحمه الله تعالی فرمائی چي بهتر تعریف هغه ده چي صاحب دکنـــزوغیره کړیدي ،کوم چه دشیخ الاسلام رحمه الله تعالی نه منقول دی،اوهغه دادی "هومبادلة المال بالمال بالتراضی "یعنی پخپل مینځ کی په رضامندی سره یومال په بل مال سره بدلول دبیعی حقیقت دی ،اودرغبت مفهوم پخپله په مال کی داخل دی.

{ج:- دبیعی اصطلاحات}

پس زده کړه داخبره چي لفظ دعَقَدْ: معاملی ته وائي، اوعَاقِدْ: معامله کوونکی معاملی ته وائي، اومَجْلَس عَقَدْ: هغه ته وائي چه کوم ځای کی چه دعَقَدْ معاملی کیږي،او بَیْعَ:اخستلواو خرڅولوته وائي،اوعَقَدْ بَیْعَ: داخستلو اوخرڅولومعاملی ته وائي،اوبَائِعْ: خرڅونکی ته وائي،اومُشْتَرِی: اخستونکی ته وائي،پس بَائِعْ اومُشْتَرِی کی دلازمي ده چه دواړوبه پوهه سمهجدار وي، اوکم ازکم دوکسان به وي، اومَبِیْعَ: هغه شی ته وائي چه کوم خر څیږي ، پس مبیعه کی دلازمي ده چه هغه مال به وي، اوپه ملکیت کی به وي، اوپه قبضی کی به وي، اوموجود به وي، اومعلوم به وي، اوپه حواله

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کولوباندی به قادروي،اوثَمَن: هغه شئ ته وائي چه دسامان اوسودا بدله کی چه اخستونکی کومی روپی اویاکوم شئ خرڅونکی ته ورکوي دمعاملی په وخت کی،که دمارکیت نرخ سره مطابق وي اوکه مطابق نوي، پس ثَمَن کی دلازمي ده چه هغی مقداربه معلوم وي اووصف به ئي معلوم وي کچيري نسيه وي نووخت به ئي معلوم وي اوشرعًا به مال وي ،او غبن فاحش:هغه قيمت ته وائي چه دکوم يوتاجرسره درست نوي، بعض علماء فرمائي چه په سامان کی پنځه فيصده زيات،اوحيواناتوکی لس فيصده زيات، اوزمکه کی شل فيصده زيات اخستل غبن فاحش دي، نوپدي صورت کی مشتري ته د واپس کولواختيار شته ،اومَال: هغه مباح شئ ته وائي چه هغه نه فائده اخستل جائزوي، اِيجَاب : هغه اولني پيشکش ته وائي ، اوقَبُول : داولني پيشکش نه وروسته ددوهم رضامندی ته وائي، پس اِيجَاب اوقَبُول کی دلازمي ده چه دواړوبه په يو مجلس کی وي،اودواړه به ماضی صيغی وي، اوقبول به دايجاب موافق وي، اوقيمت: دکوم شئ رائج نرخ ، يابازاري ريت ته وائي، اوحَکم البيع: ديته وائي چه کله بيعه درست وي نوبائع ته پسی او رو پئ حلالی وي اومشتري ته سامان حلال وي.

﴿ دريم بحث: دبيعی اقسام ﴾

پس زده کړه داخبره چي بيعه په دوه قسمه ده يوه دبدل په اعتبارسره اوبله دحکم په اعتبارسره. پس دبدل په اعتبارسره بيعه په دوه قسمه دی ،يوه بيعه دبدلينو په اعتبارسره اوبله بيعه دبدل واحد په اعتبارسره دي.

{الف:-دبدلينو په اعتبارسره د بيعی څلور اقسام دی}

﴿۱﴾ بيعه دعين بالعين ده چي ديته بيعه مقائضه هم وائی مثلايو سړی جامه "کپړه"ورکړ ی اوبل په بدله کی غله دانه ورکړی؛ گويا دادبيع هغه صورت دی کوم ته چه په عام عرف کی: تبادله دمال:وائی .

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿۲﴾ بيعه ددين بالدين ده چې دينه بيعه صرف هم وائی داد نقد تبادله په نقدسره کوليشی مثلاً يوسړی ديوی افغاني نوټ ورکړی اوبل سړی ورته په بدله کی ديو کلدار ورکړی کويا روپئ ماتول يا دروپئ ماتی پيسې اخستل او ورکول دادبيعې صرف يوقسم دی.

﴿۳﴾ بيعه ددين بالعين ده چې دينه بيعه سلم هم وائی په کومه کې چه خرڅونکی دخريدار نه دڅه شئ قيمت پيشکی يعني مخکې واخلی، اودابه مقررکوليشی چه خريدارته به ـاشئ په دومره مده يعنی مثلا مياشت يا زيات اوکم کې براره وي.

﴿۴﴾ بيعه دعين بالعين ده دينه بيعه مطلق هم وائی پدی کی ديوشئ بيعه دنقدو په عوض کوليشی مثلا خرڅونکی يومن غنم ورکړل اواخستونکی ددی دقيمت په طورپنځوس روپئ ورکړی په عام طورسره داقسم بيعه رائج دی اوپدی دبيعې اطلاق کيدای شی.

{ب:- دبدل واحد يعنی دروپی په اعتبارسره هم دبيعې څلوراقسام دي}

﴿۱﴾ بيعه مرابحه:-يعنی چه خرڅونکی مبيعی لری دخپل اخستی قيمتی نه په نفعه باندی يو شئ خرڅه کړی.

﴿۲﴾ بيعه توليه:- يعنی چه خرڅونکی مبيعی لره نفع نه بغيرپه هغه قيمت خرڅوه کړی چه په کوم ئی اخستی وي.

﴿۳﴾ بيعه وضيعه:-يعنی چې خرڅونکی مبيعی لره دهغه قيمت نه هم په کم قيمت خرڅه کړی چه په کوم ئی اخستی وي.

﴿۴﴾ بيعه مساومه:-يعنی خرڅونکی اوخريدارپخپل مينځ کی په رضامندی سره دڅه شی خريد فروش چه زړه يې غواړی په هغه قيمت ئې بيعه اوکړی پدیکی دخرڅونکی دقيمت خريده هيڅ لحاظ نوي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ج:-دحكم په اعتبارسره دبيعي څلور اقسام دي}

﴿۱﴾ بيعه نافذه اوصحيحه:-يعنى چى په طرفينو كى مال وى،اوعاقدين د بيعه عاقلان هم وى، دغه دواړه كسان بيع يااصالةً اوكړى او يې وكالةً او كړى او يې ولايةًاوكړى؛په كومه بيعه كى چه داد درى واړه شيان اوموندى شى هغه بيعه به بالكل نافذه اوصحيحه وى؛پس داصالةًمطلب داچه دمبيعى مالک وي ، اووكالةً مطلب داچه دمالک طرفه دبيع اجازه ورته شوى وي ،اوولايةً مطلب داچه دمبيعى ياددى قيمت داصلي مالک والي وي.

﴿۲﴾ بيعه فاسده:- يعنى كومه بيعه چى دنفس معاملى په اعتبار سره خو صحيح وي مګردځه خاص وجه په بنا باندى صحيح نوي، يعنى مفيده دملک نوى بلكه دقبضى په سبب سره بيا مفيده ده ملک وي، بياپه بيعه فاسده كى اسباب دفسادمختلف دي،لكه مثلاپه مبيعى ياپه روپى كى ددا سى جهالت كيدل چه په كي جنجال اوجنک جوړيژي،اويادمبيعى تسليم كيدلو څخه عاجزكيدل، اويادوكه پكى كول، اويا په خلاف دمقتضى دعقد شرط پكى لګول،اويا دماليت نه كيدل،اويا تقوم(قيمتى)نه كيدل اوداسى نوره.

﴿۳﴾ بيعه باطله:- يعنى كومه چه نه په اعتبار داصل سره صحيح وى اونه په اعتبار دوصف سره صحيح وى داقسم بيعه بالكل مفيد دملک نوى لكه دشرابو،خنزير اودآزاد وغيره بيعه چي باطله ده.

﴿۴﴾ بيعه موقوفه:-يعنى كومه بيعه كى چي يوسړى دچا څه شئ لره دده د اجازت يا ولايت نه بغير خرڅ كړى، ددى بيعى حكم دادي چه ترڅو پوري چي داصلى مالک رضامندى اواجازت حاصل نشى ترهغى وخته پوري دا بيعه صحيح كيدلى نشى لكه دغه لاندينى اقسام: اول: دكوچني ممنوع بيعه چي دبيعى اجازه ورته نوي شوي. دوهم: دكوچني غيررشيد بيعه كوم چي دتصرف نه په بنه شان واقف نوي.دريم:دمرهون بيعه، څلورم:دمستاجربيعه.

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

پنځم: دمرتد بيعه. شپږم: بيعه بالرقم په کوم شی چه دهغه روپی لیکلی شویدي. اوم:هغه بيعه په کوم کی چه خیارمجلس وی. اتم: دقبضی نه پس دځر څونکی بيع لره داخستونکی نه علاوه دبل په لاس خرڅول. نهم: دمالک مغصوب شی لره خرڅول. لسم: دهغه روپيه عوض خرڅول دکوم په عوض کښی چه فلانی خرڅ کړیدی هرکله چه اخستونکي ته دغه معلومه نوی. یولسم:دهغه زمکی بيع کومه چه دبل سره په برخه کی وي. دولسم:دهغه بيعی په کومه کی چه ددری ورځونه زيات خياروی. دیرلسم: دامخلوط مال نه دیوشریک خپله حصه خرڅول.څورلسم:دهغی شئ خرڅول دکوم په تسليم کی چه ضرروي. پنځلسم:دمریض سړی دخپل مال نه څه معين شئ لره په بعض وارثانوخرڅول.شپږلسم:دوارث داسی ترکه (پاتي شوي شئ)خرڅول کومه چه مستغرقه بالدين وي يعنی چه مکمله تر قرض لاندي وي.اولسم:دمعتوه يعنی کم عقل بيعه.اتلسم:مدهوش"بی هوشه"بيعه.

﴿ څلورم بحث: دبيعی شرائط﴾

پس زده کړه داخبره چي دانعقاد، صحت،نفاذ،اولزوم په لحاظ سره دبيعی دپاره ډيرشرطونه دي کوم چي صاحب دبحر په تفصيل سره بيان کړيدی موږئی دلته په اختصارسره هغه ليکو.

{الف:- دانعقاد دبيعی شرائط}

{پس پوهه شه! چي دبيعی ترلو لپاره څلورقسمه شرطونه دی}

اول شرط داچي په عاقدينو کښی ئی کيدل ضروری وي، نوبيعه کونکي لپاره دوه شرطونه دي- اول:عاقل کيدل يعنی دليوني اوغيرعاقل بچي بيعه به صحيح نوي. دوهم: متعدد کيدل يعنی ددواړوطرفه د وکيل بيعه به صحيح نوي البته د پلار اوددہ وصي اوقاضي په صورت کي به يي بيعه ترلړ صحيح وي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دوهم شرط داچي د نفس عقد دپاره د لازمي دی چه دایجاب اوقبول موافق به وي،یعنی خرڅونکی چه دمبیعی ایجاب دکوم شئ په عوض کی کړیدي،اخستونکي به دغه لره په همدغی عوض کی قبوله کړي،کچیري د دی خلاف ئی اوکړنودتفرق دصفقه په وجه سره به بیعه منعقده"ترلي" نوی.

دریم شرط داچي دمکان دعقددپاره شرط دادی چه مجلس به متحدوی که مجلس مختلف وو نوبیعه به منعقده" ترلي" نوی.

څلورم شرط:- دمعقود علیه دپاره شپږ شرطونه دی (۱) موجودکیدل (۲) مال کیدل (۳) قیمتی کیدل (۴) پخپله مملوک کیدل (۵) دخرڅونکی مالک کیدل (فیمایبیعه لنفسه) (٦)مقدورالتسلیم کیدل.

پنځم شرط:- دبیعی نفاذ لپاره دوه شرطونه دی (۱)دمالک ملک یاولایت کیدل (۲)په مبیع کی دخرڅونکی نه علاوه دبل چا حق نه کیدل.

{ب:- دصحت دبیعی شرائط}

پس زده کړه داخبره چي شرطونه دصحت دبیعی په دوه قسمه دی، یو شرطونه عامه، اوبل شرطونه خاصه، پس شروط عامه دغه لاندني دی (۱) موقت نه کیدل. (۲)دمبیعی معلوم کیدل.(۳)دروپی (روپیو) معلوم کیدل. (۴) دمفسد عقد شرائطونه خالی کیدل.(۵)دبیع نه دڅه فائدی حاصلیدل.

او شروط خاصه دادی (۱)داخستونکي منقول اودین په بیعه کی دقبضی کیدل. (۲) په مبادله قولیه کی دبدل مسمی کیدل. (۳) په اموال ربویه کی دبدلینوپه مینځ دمماثلث کیدل. (۴)دشبه ربوا نه خالی کیدل. (۵) په بیع سلم کی دشروطو دسلم موندلی کیدل. (٦) په بیع صرف کی مخکی دجدا کیدونه دقبضی کیدل.(۷)دبیع په خیاره سره اشتراک په وضیعه کی دروپی اول معلوم کیدل. اودانعقاداونفاذ نه پس شرط دلزوم دادی چه دخیارشرط، خیارعیب وغیره شرقسم خیاراتو څخه به خالی وی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿ پنځم بحث: دبيعي حكم ﴾

پس زده کړه داخبره چې دبيعي حكم دادی چه داخستونكي دپاره په مبيعي کی اودخرڅونكی دپاره په روپی کی دملک ثابتيدل دی، اوداعبارت دی دقدرت نه په تصرفاتو باندی په محل کی شرعًا، الّا لمانع (يعنی مګرچه مانع موجودوی)

﴿ شپږم بحث: د بيعی محل ﴾

پس زده کړه داخبره چې دبيع محل به مال متقوم وی.

﴿اوم بحث: دبيعی رکن ﴾

پس زده کړه داخبره چې رکن دبيعی مبادله دشی مرغوب دی په شی مرغوب سره. کوم چه کله په ذريعه دقول(وينا)سره وی اوکله په ذريعی دفعل سره وی،پس که ذريعه دقول وه نوديته دفقهاو په عرف کی ايجاب اوقبول وائی اوکه په ذريعه دفعل سره وی نودينه په تعاطی سره تعبير کولی شي اوپدی طريقه سره چه کوم بيعه وشي ديته مراوضيه وائی(يعنی دجانبينو درضامندی بيع). والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿دوهم فصل: داخستلواوخرڅول دمسائلو پيژندنه ﴾

﴿ اول بحث: داخستلواوخرڅولو شرطونه ﴾

{الف:- داخستونكي اوخرڅونكی داقوالو تحقيق}

مسئله:-دمعاملي کونکودجانب نه دايجاب اوقبول دمتحقق کيدونه پس به بيعه ترلی کيږی،يعنی رومبی کلام ته ايجاب اوروستونی کلام ته قبول وائی، کله چی وي د غه دواړه(ايجاب اوقبول)په لفظ دماضی يادحال سره،اويا يو دماضی اوبل دحال وی، لهذا هغه مضارع چی په سين اوسوف سره راغلي وی پدی سره بيع نه صحيح کيږی البته هغه صيغه دامر چه په حال داله وه لکه مثلاخرڅونكی اوويل (خُذْبكذا) يعنی واخله او اخستونكي ورته اوويل

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(اَخَذْتُه) يعنی اخيسی می ده نوپدی سره هم بيعه صحيح کيږی مګرپه طريقه داقتضاءسره.([1])

{ب:- دمبيعی اوقيمت تاکل}

مسئله:- دلازمی دي چي په بيعه کی به سامان اوقيمت دواړه په ښه توګه تاکل کيدلي شي. (کمافی صحيح المسلم کتاب البيوع باب تحريم بيع صبرة التمرالمجهولة القدر بتمر). کچيری سامان پور(قرض)وي بايد دسمان جنس ،اودهغه صفتونه، درانيولو وخت، ځاي اومودہ داټول به په پوره ډول تاکل کيږي. ([2]) اوهمداډول ددي اجازه هم شرعًا نه ده ورکړل شوي دخرڅلاوسامان دي ناټکلی اوشکمن پريښودل شي.([3])اوهمدا ډول که دمختلفو سکواوکرنسی يوملک کی يورنګه رواج وي په قيمت کي دسکوقسم تاکل هم لازمی دي. ([4])ا وهمداډول دخريداو فروش معامله ترهغه پوري مکمله نه بلل کيږی ترڅوچی خريدار مال ونه ګوری، ديته دفقهی اصطلاح کی خياررؤيت ورته وائي تردي حده چی که يوڅوک ديوه شي عيب پټ کړی، خريدارپه خبرنه کړی وروسته خريدارپه هغه عيب خبر شي، خريدار دشريعت له رويه دهغه شي بيرته ورکولو اونه ورکولواختيار لري ،ديته دفقهي په اصطلاح کی خيارعيب وائی، اوهمدرنګه دمعاملي ګټه اوتاوان په ښه توګه ځانته دمعلومولولپاره ددريوورځوپوری خصوصی مهلت ورکړل شويدي، دمهلت سوداګراوخريدارډواړوته شرعًا حاصل دي، ديته دفقهي په اصطلاح کی خيار شرط ويل کيږي.(کمافی بحرالرائق کتاب البيوع).

---

[1] ملخصا فتاوی عالمګيری،ج۳ص۴).

[2] هدايه جلد۲ کتاب البيوع باب السلم).

[3] هدايه۳ص۱۱).

[4] الفتاوی الهنديه،ج۳ص۱۲۲).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ج:- دمجلس خيار اندازه}

مسئله:- دايجاب اوقبول متحقيق كيدلونه پس بيعه لازمه شى او په معاملي كونكوكى چاته هم دخيار عيب اوخيار روئيت(ليدل) نه علاوه دبيعى ماتولو اختيارنوى،خكه چه په تمليكاتو كى په اختلاف دمجلس سره اختياردقبلول ختميږى. پس دمجلس اختلاف په هرهغه عمل سره ثابتيږى كوم چه په اعراض باندى دال وي، لكه اودريدل، خوړل څكل، خبرى كول، مونځ شروع كول وغيره:- البته يوڅه ماړى نيمه خوړل يا دهغى لوخى نه غوړپ نيم اوبه څكل كوم چه دايجاب په وخت دده په لاس كى وه،يا فرض مونځ پوره كول كوم چى ئى شروع كړى وه،پدى سره مجلس نه بدليږى اختيار يې باقي ده كه هغه شئ ترينه اخلي او كه نه يې اخلي دده اختيارشته .(۱)

امام مالک رحمه الله تعالى هم ددى قائل دى،البته دامام شافعى وامام احمد رحمهما الله تعالى په نزدهريوته دبقاء دمجلسه پورى اختيارشته ځكه چى په حديث شريف كى دى(المتبائعان بالخيارمالم يتفرقا.(رواه ائمه سته وابوداود رحمهم الله تعالى وغيرهم) يعنى چه خرڅونكى اواخستونكي مختاردى ترڅو چه دوى جداشوى نوى، لدينه جواب دادى چه پديكى تفريق دابدانويانفريق دمجلس مرادندى بلكه تفريق داقوالومراددى يعنى دايجاب نه پس دبل دوئيل چه زه ئى نه اخلم يادقبلولونه وړاندى دموجب دوائيل چه زه ئى نه اخلم، وجه يې داده چه حديث شريف كى ورته متبائعان وئيلى شوى نه متعاقدان (۲)

مسئله:-اخستونكى لره روادى چه خرڅونكى لره په قيمت كى څه اضافه اوكړى،يعنى څه روپئ زياتي وركړى، اوخرڅونكى لره هم داروا دى چه اخستونكى ته دسودا څخه څه

---

۱ هدايه،ج۳ ص۲۵)مع الزيادة).

۲ هدايه،ج۳ص۲۵)مع الزيادة).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

قدری زیاته شئ ورکړی، یاورته په قیمت کی څه کمی وکړي.(۱)

{د:- دبیعی تعاطی حکم}

مسئله:- په فعل دتعاطی سره بیعه ترلی کیږی مبیعه عمده وی که خرابه وی، دا بیعه صحیح ده،څکه چی دمعاملي کونکونه د یو اود بل رضامندی پدی بیعی سره موجوده ده، دتعاطی مطلب دادی چه دلفظی ایجاب اوقبول نه بغیر خرڅونکی اخستونکي لره مبیعه ورکړی، اواخستونکي خرڅونکی ته روپی ورکړی.(۲)

{ه:- دمبیعی تعین کولو حکم}

مسئله:-که مبیعه اوروپی غیرمشاروو(یعنی اشاره ورته نوی شوی)نودمبیعی مقدار اووصف معلومول ضروری دی،اوهمدارنګه دروپیو وصف معلومول هم ضروری دی ،که داسی نوي نو بیعه به صحیح نوی ، څکه چه بیعی کی تسلیم اوتسلّم ضروري دی ، اودمقدار اووصف نه معلومیدل باعث دنزاع (جنګ) دی،البته که مبیعی اوروپیو طرفته اشاره شوی وه نو بیائی معلومول ضروری ندی،څکه چی پدی صورت کی دنزاع ویره نیشته،پس که خرڅو نکی اخستونکي ته داسی اووائی چه دغنموداډیري مي ددومره روپیو په عو ض کی در باندي خرڅ کړله،کوم شئ چه ستاپه لاس کی موجود دی، او اخستونکي ئی قبوله کړی چه سمده ده نودا بیع درسته ده، لیکن اموال ربو یه ددینه مستثنی دی، پس که دراهم، دنانیر،غنم اوربشی په خپل جنس سره خرڅولی شی اومقدارئی معلوم نوی نودابه جائزنوی،همدارنګه دامام صاحب په نزدیه بیعه سلم کی دا رأس المال مقدارمعلومیدل هم شرط دی. (۳)

---

۱ مختصرالقدوری،صـــــ۹۸).

۲ عالمګیری،ج ۳ ص ۹).

۳ فتاوی الشامیة ج ۴ص ۲۴).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ و:- دمبیعی قیمت ورکولوحکم }

مسئله:- که یوچاسامان په دراهمو اودنانیرو باندی خرڅ کړو نواول بدل ئی قیمت ورکولیشی، چه په روپیو کی دخرڅونکی حق معین شي،ځکه چی په مبیعی کی داخستونکي حق محض په عقد (ایجاب اوقبول)سره متعین شو یدي ، لیکن په روپیو کی دخرڅونکی حق بغیر دقبضی څخه نه متعین کیږی. ځکه چی په اثمانو(روپیو)کی تعین نوی، تردی چی که په یومعینه اشرفی باندی څه شی واخیستلی شي،نود هغی په ځای بله اشرفی هم ورکولي شی، پس حاصل داچی هرکله چه خرڅونکی وربانډی قبضه اوکړی نوددواړوحق ثابت شی،اومساوات به یي متحقق شی،او کچیری سامان ئی دسامان په عوض کی خرڅ کړو،یاروپیو یي دروپیوپه عوض کی خرڅ کړی نو ددواړو تبدلی به شرعًا په یو ځای کولی شی ځکه چه دسامان په صورت کی دواړه معین دی اودروپیو په صورت کی دواړه غیر معین وی، نویولره ورمبی ورکول لازمًا په بل باندی دترجیح بلا مرجح ده چی داروا ندي.(۱)

{ز:- دنقدو،نسئیه اودقسطو په صورت کی د بیعی حکم}

مسئله:- بیعه په نقدو روپیواو په نسئیه دواړوسره صحیح ده،لیکن د نسئیه کیدو په صورت کی دمدی (نیټه) معلومول ضروری دی، چه ورسته دجنګ نوبت رنه شی.(۲) پس که مثلا یوتن یو موټر ،سواري اویایوبل شئ مثلا په یولاک نقد روپیو باندی ورکوی، اوپه یونیم لاک ئی دقرضی اوقسطوارپه صورت کی ورکوی، نوعامو فقهاء کرامودی په جوازتصریخ کړیدی اوپدی کی سودا هم نشته ځکه چه داجل دوجي څخه زیادت په روپیو بلا شبه دروست دی ،البته دنقداو قرض فیصله به مبهمه نوی،

---

[۱] هدایه،ج۴صـــ۳۴).

[۲] مختصرالقدوری ص(۸۸).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ځکه چه دجهالت روپی دوجی نه بيعه فاسده نه شی.(۱)

مسئله:- که چا په عقد دبيعی کی روپی مطلق اووئيل يعنی دروپيو صرف مقدار يې بيان کړو،مثلا چی مادلسوروپوپه عوض سره دغه شئ واخستو، او وصف ئی بيان نه کړه چه درهم،ياکلداری اويا افغانی دی،نو په کوم بازارکی چه بيعه شوی ده، د هغه ځای چه کوم روپی زياتی رائجی وي دهغی روپيو په اعتبار سره به بيعه منعقده وی، پس غلبه درواج اوعرف لره به په منزله دبيان مقررکولی شی،اوکه هغه ځای کی مختلف نقود رائج وو،او په مالیت کی سره مختلف وو، يعنی نرخ ئی کم زيات وه، اوددوی بيان ئی ونکړو نوبيعه به فاسده وی، ځکه چه داجهالت باعث دنزاع دی. (۲)

﴿ دوهم بحث: دغلی داني داخستلواوخرڅول شرعی طريقی ﴾

{الف:- دپيمانه اووزن کولوترتيب شرعی حکم}

مسئله:-که غلی داني لره ئی ددی دمخالف جنس په عوض کی خرڅی کړي،مثلا غنم يې په وربشو باندي خرڅ کړل،نو دادی اندازه لکول به په داسی لوخی سره پيمانه کول چی مقدارئی معلوم وی اويا يې په داسی تيکه (کټه) تلل چی وزن ئی معلوم نوی نو په دواړو صورتوکی بيعه صحيح ده، ځکه چه دنبی صلي الله عليه وسلم ارشادګرامی دی چه کله دواړه جنسونه مختلف وی نوڅنګه يې چه غواړی خرڅوئ. (رواه الجماعة الاالبخاری). مګردصحت دپاره يې څولاندي شرطونه دی،(۱) مبيعه به ممیّز اومشار وي داندازی په صورت کی.(۲)لوخی به نه غټيږی اونه به کچ کيږی،يعنی دلر کی اويادواوسپنی لوخی به وي، که دزنبيل ياخرجی وغيره پشان لوښی وه نو بيعه به جائز نوی.البته داوبو په مشکونو کی درواج اوعرف په وجه سره

---

[۱] هدايه کتاب المرابحه ج۳ص۷۶).

[۲] الفقه الحنفی وادلته،ج۲ص۱۹).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

بیعه جائزدی.(۳) په تیکه(کټه) کی به دماتیدو احتمال نوی.(۴) دبیع سلم راس المال به نوی،ځکه چه ددی مقدار معلومیدل ضروری دی. لیکن که غلی دانه لره دخپل جنس په عوض سره خرڅوی مثلا غنمو دغنمو په عوض سره خرڅوی نو په اټکل سره خرڅول به ئی جائز نوی ، ځکه چه پدی صورت کی دربوا(سود)احتمال دی. ([1])

مسئله:- دغنموبیعه په وګوکی، اودلوبیاو بیعه ددوی په پلوکی، دغه شان وریژو اوکونځلوبیعه ددوی په پوتکی کی داحنافوپه نزدجائزده.امام شافعی رحمه الله تعالی فرمائی چه دتازه لوبیاو بیعه ددوی په پلوکی جائزنه ده، دغه شان ددوی په نزد دغوازانو، بادامو، اوپستیو بیعه ددوی دپا سنی پټ سره جائز نه ده، البته په بادامو وغیره دپاسه چه کوم نرم نری پټ وی هغه په اتفاق سره دبیعی دجواز مانع ندی یعنی بیعه یې روا ده.پس اودغنموبیعه ددوی په وګوکی جائزده اوکه نه ده؟ دامام شافعی نه ددی په بارې کی دوه روایتونه راغلي دی یو روایت داچی دابیعه جائزه ده اکثرو شوافعودروایت غوره کړیدي؛ دویم روایت داچی دابیعه جائزه نه ده دشوافعوپه نزدمنصوص روایت اوظاهرمذهب هم دادي. زموږ احنافوپه نزدمذکوره ټول صورتونه جائزرواه دی. ([2])

{ب:- دغلی داني تخمنی بیعی حکم}

مسئله:-که چادغلی داني یوډیری خرڅ کړه اوویي وئل چی هرقفیز (اوګی)دیودرهم په عوض دی اودا ډیری مقدارئی بیان نه کړو،مثلا چی سل صاعه (منه) دی اوکه پنځوس دی،نودامام اعظم صاحب په نزدبه صرف په یوقفیزکی بیعه جائزوی،اوپه باقی کی به تربیانه پوري موقوفه وی، ځکه چی

---

[1] هدایه، ج۳ص۲۷).

[2] هدایه ، ج۳ص۳۳).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دغلی اوروبی دومره مقدار په یوقفیزکی معلوم دی،اوباقی نورو کی مجهول دی. هان که دتولې ډیري مقدارئی بیان کړو ، نود تولې ډیری بیعه به بیا جائز وي.دصاحبینو په نزدیه دواړوصورتونوکی بیعه جائزده،ائمه ثلاثة هم ددی قائل دی ، ځکه چه په باقی مقدارکی چی کوم جهالت دی ددغی لیری کول ددوی په وس طاقت کی دی ،پس په ظاهرکی دهدایه نه دصاحبینو دقول ترجیح معلومیږی ، اوپه دی فتوی هم دی.([1])

مسئله:- خرڅونکی په وخت دعقد دبیعه کی دتول ډیری مقدار بیان کړو، چه داسل قفیزه (اوکی) دی اودسلو درهمو په مقابله سره دی، هو بیاهغه د دي مقدار بیان شوي نه کم شوو، نو اخستونکي ته اختیاردی که غواړی مو جوده حصه دی ددی په حساب سره واخلی، اوکه غواړی بیعه دی فسخ کړی،اوکه دبیان شوی مقدارنه دشئ زیات وه نودغه زیات شوي شئ دخر څونکی دی،ځکه چه بیعه په یوخاص مقدار یعنی سلوقفیز باندی ترلی شوی وه،نو زائد مقدار په عقد دبیعه کی داخل نه شو،نودغه به دخر څونکی وی؛ اوکه مبیعه رخت(کپړه) یازمکه وه،نودکمی په صورت کی به اخستونکي ته اختیاروی که غواړی په پوره قیمت دی واخلی، اوکه غواړی بیعه دی فسخ کړی، اودزیاتی په صورت کی به زائد مقدار د اخستونکي وی؛ وجه دفرق داده چه په اشیاء مزروعه کی ګز وصف وی اودوصف په مقابله کی روپی نوی، په خلاف دمقدارنه یعنی دپیمانی اووزن نه چه دغه وصف نوي،فافترقا (یعنی الفرق بین الاصل والو صف امابتعیب بالتبعیض والتشقیص فالزیادة و النقصان فیه وصف وما لایتعیب بهما فیهما فیه اصل وقیل الوصف مالوجوده تاثیرفی تقویم غیره ولعدمه تاثیرفی نقصان غیره والاصل مالایکون بهذا المثابه.([2])

---

[1] هدایه، ج۳صـــ۲۷).

[2] الشامیة ،ج۴صـــ۳۳)مع الزیادة)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿ دريم بحث: درخت (کپړی) خر څولو اواخستولو دوي طريقی ﴾

مسئله:- که خرڅونکی دمقدار دمزروع سره ددی ذکرهم اوکړو، چی هر ګزبه ديودرهم په عوض سره وی،نو بيا دا رخت(کپړه) کمه شوو، نو اوس اخستونکي ته اختياردی که واغواړی کمه دی واخلی دهغه خصی داندازی قيمت په مطابق چی عقدوربانډی شويدي،اوکه غواړی بيعه دی فسخ کړی، اوکه دارخت زيات شوونوکه غواړی د غه فی ګز رخت دی يو يودرهم په مقابلی سره مکمل واخلی،اوکه غواړی بيعه دی فسخ کړی،ځکه چه ګزاګر چه وصف دی خودلته دهرګز قيمت معلوم کولو په وجه سره اصل شو.(۱)

مسئله:- که خرڅونکی اوويل چه ماد رخت(کپړی)دا بنډل ستاباندي خرڅ کړو، پدیکی لس تانونه دی، اودهرتان قيمت لس درهمه دی، بيا وروسته په دغه بنډل کی يوتان کم شو، نود موجوده تانونو په اندازه به بيعه صحيح وی چی څومره تانونه باقي وي، البته اخستونکي ته به داخستو اونه اخستو دواړو اختيارحاصل وي، اوکه دلسو تانونه څخه زيات شو نو زيات شوي تانونه په وجه به بيعه فاسده وي، ځکه چه مبيعه مجهول دی.(۲)

﴿ څلورم بحث: دونو بوټو خرڅولو اواخستولوشرعی طريقی ﴾

{الف:- دباغواوميوو دخرڅولو اواخستولو اووه صورتونه}

مسئله:- دباغواوميوو رانيول خرڅول: دا دي مسئلی يوڅوصورتونه دي: اول صورت:داچی دميوي ترکيدومخکي باغونه خرڅ کړی داجائزندي پدی هکله صريح او صحيح روايتونه شته، لکه په حديث شريف کي ديته (بيع معادمه) يابيع سنين ويلی شويدي. (۳)

---

۱ هدايه، ج ۳ ص ۲۸).

۲ مختصرالقدری،صـــــ (۹۰).

۳ سنن ترمذي ،ج۱ص۲۴۵ باب ماجاء فی المخابرة والمعادمة).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دوهم صورت:داچي ميوه ئي وکړه مګرهغه داستعمال ورنه ده ،که پدي شرط رانيولی شي چی خريداربه ئي سمدستی شکوي داصورت په اتفاق سره صحيح دي ،ابن قدامه رحمه الله تعالی فرمائی، القسم الثانی: ان يبيعها بشرط القطع فی الحال فيصح بالاجماع لان المنع انما كان خوفًا من تلف الثمرة وحدوث العاهة عليهما قبل اخذها.(۱) بياهم که درانيولواوخرڅولوتر معاملی وروسته خريدارداخواهش وکړچي ترتياريدوپوري دي ميوه پردرختو پري نبودل شي، اودباغ خاوند داخبره ورسره ومنله،پدی کی باک نشته علاءالدين سمرقندي رحمه الله تعالی فرمائي- فان كان ذلک باذن البائع جاز وطاب له.(۲) همدارنګه ميوه يي ترتياريدو مخکی رانيوله، اودرانيولواو خرڅولودمعاملي کولوپه وخت کي داونه تاکل شوچي ميوه به اوس شکوي، اوکه ترتياريدو پوري به ئي پريږدي،يعنی پدی هکله چېتياراغلی وي،نودامام ابوحنيفة رحمه الله تعالی په نزدپدي صورت کی هم معامله صحيح کيږي دنورو امامانوپه نزد نه صحيح کيږی، علامه ابن قدامه رحمه الله تعالی ليکلی القسم الثالث:ان يبيعها مطلقًا ولم يشترط قطعًا ولاتبقيه فالبيع باطل وبه قال مالک والشافعی رحمهما الله تعالی واجازه ابوحنيفة رحمه الله تعالی.(۳)احنافوکه څه هم داجائزه بللی دی مګرددوی په نزدهم داواجب دي چي ددادول معاملي وروسته دي خريدارميوه شکوئي دی داحق نلري چي پر درختو ميوه وساتي، وعلی المشتری قطعها فی الحال اذاباع مطلقًا اوبشرط القطع. (۴)

څلورم صورت: داچی پدي شرط معامله وشي چی مالک به ميوه پردرختو پريږدي ترڅوچی ميوه بخيږي، ددروامامانو په نزد بيع فاسده ده، اودامام

---

۱ المغني ابن قدامه، ج۳ص۷۲).

۲ تحفة الفقهاء ص ٦٥).

۳ المغني، ج۴ص۷۲)

۴ عالمګيري، ج۳ص۱۰۹).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

اعظم ابوحنيفه رحمه الله تعالى په نزدهم صحيح نه ده ، اما اذاباع بشرط الترک فهو فاسد.(۱) ولی چي درانيول خرڅو لو په معامله کی خريداريو داسی شرط ولګاوه چي په هغه کي دده ګټه ده ،او داسی شرط څخه رسول الله صلى الله عليه وسلم منع کړي ده.

پنځم صورت: چي يوڅه ميوه ئي وکړه ،اويوڅه ئی لا تراوسه نه ده کړي بلکی په مستقبل کي ئی امکان شته، دغه موجوده اوآئنده کيدونکي دواړه ډول ميوه خرڅ کړي، دامام مالک رحمه الله تعالى په نزدجائزدي، ددرو امامانوامام ابوحنيفه، امام شافعی اوامام احمد رحمهم الله تعالى په نزد جائز ندی، واذاباع الثمرة الظاهرة ومايظهربعد ذلک لم يصح البيع عندابی حنيفه والشافعی واحمد رحمهم الله تعالى وقال مالک يجوز.(۲)

شپږم صورت: داچی که يوڅه ميوه داستعمال لايق شوه ،اوپاته ميوه لاتر اوسه داستعمل لائق شوي نه ده، بياهم دامام شافعی رحمه الله تعالى اوامام احمد رحمه الله تعالى په خلاف امام مالک رحمه الله تعالى ددي اجازه ورکړي ده، پدی شرط چي په باغ کی به توله درختي ديوي ميوي وي، داحنافو په نزددعمومي اصول په برابردراوتل شوي ميووسره دهغه ميوو خرڅول صحيح نه دي چی تراوسه لاراوتلي نه دي، دحنفي فقهاوو په نزددغه ظاهرروايت دي البته څني متاخرينو فقهاء پدی هکله نرمی غوره کړی ده، لکه چی ابن نجيم رحمه الله تعالى نقل وي چی امام فضلی رحمه الله فرمائی چی په خلکوکی دانګورڼه رانيولواوخرڅولوکی دغه ډول رواج شويدي، اوس ددي څخه په راګرځولوکي خلکوته تکليف شته ،ځکه استحساناً زه داجائزګرځوم،امام محمدرحمه الله تعالى په بوټي لګيدل شوی

---

۱ تخفة الفقهاء،ص۵۵)

۲ رحمةالامةص۱۷۷).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ګلاهودرانيولو اوخرڅولواجازه ور کړي ده ،حالانکه دګلاهو ګلان په يوه پلانه غورڅي، والله تعالى اعلم بالصواب.

اوم صورت: داچې ميوه ئې وکړه اودانساني استعمال ورڅم شوه چې دفقه اوحديث په اصطلاح کې،،بدوصلاح،، ورته ويل کيږي، ددرووامامانو امام مالک امام شافعي اوامام احمد رحمهم الله تعالى په نزدپدې صورت کې هر ډول رانيول اوخرڅول صحيح دي ،که بې شرطه رانيول اوخرڅول وي، يا سمدستي دشکولو شرط وي، ياترتياريدو پوري دميوي ساتلو شرط وي، خريدار ته به په بې شرطه معامله کي، ياترتياريدو پوري په درختې ساتلو په شرط کې داحق لري چې ميوه ترتياريدوپوري په درخته پريږدي، وجملة ذلک انه اذابدا الصلاح فى الثمرة جازبيعها مطلقًا وبشرط القطع وبذلک قال مالک والشافعي وقال ابوحنيفة واصحابه لايجوز بشرط التبقية.(۱) دامام ابوحنيفه رحمه الله تعالى اوقاضي ابويوسف رحمه الله تعالى په نزدکه پردرخته تريوي مدي پوري دميوي دپرينبودلوشرط ولګول شي بيع نه صحيح کيږي،امام محمد رحمه الله تعالى ددي تفصيل بيان کړيدی چې که ميوه تياره شوي وه په داسې شرط لګولوکي باک نشته، اوداشرط اعتبارهم لري، اوکه دميوي ترتياريدومخکې داسي معامله وشي بيع نه صحيح کيږي، دعموم بلوی(چې عمومًا ټول خلق په اخته وی)له کبله علامه طحاوي رحمه الله تعالى هم دااختيارکړي ده، ابن نجيم اوحصکفي وغيرهما رحمهما الله تعالى په بيان فتواهم پردي ده.

مسئله:-که مالک لپاره دباغ يوه درخته وټاکل شي چې ددي ميوه به پخپله مالک اخلي، لکه په ځينو سيموکې ديته ،،جنس،، وائي بياخوددي صورت په جوازکي هيڅ شکه نشته، ولي چې فقهاوو کراموپه خرڅولو کي ديوي

---

[۱] (المغني ابن قدامه، ج۴ص۷۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

تاکل شوي درختي استثناء صحيح بللي ده، مګرکه ددرختي پرځاي ئې دميوي مقدارمستثنی کړ چی دومره دومره میوه به مالک ته ورکړي، لکه څنګه چي نن سبا په عامه توګه رواج دي، داصورت داحنافو ااوشوافع اواحنابلوپه نزد جائزندي، اودمالکیانو په نزدجائزده ،لایجوز ان یبیع ثمرة یستثنی منها ارطالا معلومة خلافًا لمالک رحمه الله تعالی.([1])

{ب:- دزهرجنو بوټو دخرڅولو اواخستولو حکم}

مسئله:- دزهرجنو بوټو چی په دوایانوکی استعمالیږي ددي په باره کی دصاحب داقناع بیان دی چ که فائده تری نشی اخستلي، نوخریدوفروش به ئی روا نوي، اوکه دعلاج په کارکی راځی نوبیا به روا وي . ([2])

﴿ پنځم بحث: دزمکو خرڅولو اواخستولوشرعی طریقی ﴾

{الف:- زمکی دبیعی یومهم صورت}

مسئله:- که یو سړی مثلاًنیم جریب زمکه په یوکس خرڅه کړه، په دغه طریقه چه زه به بیا ددغه زمکه په عوض کی یا نیم جریب نوره زمکه در کړم یعنی تبادله به سره وکړو، اویابه ئی قیمت درکړم، نوبیادغه کس دده په اجازه دغه قطعه زمکه کی سرایی یادباغ آبادی جوړه کړه، نوددده مسئله حکم دادی: چه دغه بیعه فاسده ده، ولی چی جهالت په ثمنو کی ده دغه سبب جنګ اواختلاف ده ،نوهره بیعه چه مفضی الی النزاع وي هغه بیعه فاسده وی ،البته بائع حق دفسخه کولودبیع نلري، لکه علامه شامی رحمه الله تعالی فرمائی فیما اشتراه فاسدًا لزمه قیمتها وامتنع الفسخ .([3]) او که کچیری ددوی دواړو په قیمت کی اختلاف وه، چه وړانده ددغه زمکی ئی

---

[1] هدایه، ج۳ص۱۱وفتح القدیر، ج۵ص۳۹۵).

[2] الاقناع، ج۲صـــ۶۰)

[3] الشامی ج۴ص۱۴۶).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

قيمت کم وه اوس دزمکی قيمت زيات شويدي،نوپدی صورت کی چه د بيعی په ورځ کوم قيمت د زمکو وؤ هغه قيمت به معتبروی، ولی چی زيات شوي قيمت لره اعتبارنشته هغه پخوانی قيمت يی به اخلی. علامه شامی رحمه الله تعالی فرمائی قال عليه قيمتها يوم وقع البيع ويوم وقع القبض ... وعليه الفتوی. (۱)

{ب:- دشاړه زمکی دآبادي شرعی حکم}

مسئله:- شاړه زمکه چه دفقهی په اصطلاح کي ،،موات،، ورته وايي، دغسي زمکه چي هرڅوک آباده کړي جائزده. (ابوداود) دامام ابوحنيفه رحمه الله تعالی په نزد دغه دول حکومتي زمکه چي نه وي کرل شوي، دحکومت په اجازه کرل کيدلای شي،که دحکومت لخوادزمکي تروړکولو وروسته دري کاله تيرشي،او دی هيڅ فائده ځني پورته نه کړي، دغه زمکي به د ده ځخه اخلي، اوبل چاته به يې ورکوي چي نورخلک استفاده ځيني وکړي.(۲) دامام شافعي اوامام احمد رحمهما الله تعالي په نزد دداسي شاړي زمکي دآبادولولپاره حکومتي اجازې ته اړتيانشته.(۳)

{ج:- دفضا د خرڅولو اواخستولوشرعی حکم}

مسئله:- دفضا بيعه درسته ده خوشرائط يې دا لاندني دی:

اول شرط:- دا چی يا به په زمکه دجوړشوي تعميردچت دسطحی نه فضاء خرڅول کړی شی،اويابه دمکان جوړشوي نوی، بلکه اخستونکی ته داسی اووئی چه تاسی پدی زمکه باندی مکان جوړکړه ،دهغی دچت دپاسه زمکه درباندی خرڅوم .

---

۱ شامی،ج۴ص۲۶-۲۷)

۲ خلاصة الفتاوای ج۴ ص۳)

۳ رحمة الامة ص ۳۶).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دوهم شرط:- دا چی دناجوړکړی تعميراوړدوالی اوپلنوالی دی وټاکلی شی، چه ديونامعلوم شی خرڅول رانشی.

دريم شرط:- دا چی دبالائی (پاسنی) منزل حدبندی دداسی اوشی چه دعمارت مکانيت، اودهغی په تعمير کښی استعماليدونکی سامان (خښتی ،مصالحه وغيره دمقررکړی شی ولی چه ددی پټی په لاندنی چت باندی پورته کوی ،پدی باره کی دصاوی الفظ دادی: بان يصف ذات البناء من العظم والخفة والطول، مايصف مابنی به من حجر او اجر،([1])

اوبل دا چی ددی بيعی په وجی سره به دلاندينی چت مالک دهغه زمکی داندرون مالک وی ، اودپورتنی چت دپاسه دفضا مالک به هغه څوک وی چه پورتنی چت ئی جوړکړی وی، البته هغه په مخ په پورته دنورتعميرکولو حقدارنه وی،ولی چه دادلوظ او قول نه خلاف کول دی، اوبله خبره داده چه دزيات تعمير په وجه لاندينی منزل ته دزيان رسيدوخطره وي.([2])

{د:- د بيعانه ورکولو حکم}

مسئله:- هرکله چه داخستلو خرڅولو يوه معامله جوړه شی، نو پس اخستو نکی څه پيسی دهغه ټاکلی قيمت نه خرڅونکی ته ورکړی،چه دا بيعانه بللی شی ،دفقهی په اصطلاح کښی دداسی قسم ورکړی بيعانی څه بديت نشته، ځکه چه دغه د مبيعه څه قدری قيمت مخکی دقبضی نه ور کول دي، البته که اخستونکي دغه مبيعه وانخستوله نو هغه بيعانه به ئی وسوزی ،يعنی وا پس به دغه روپي نه ورکوي،نودا صورت حرام دی،لکه شاولی الله محدث دهلوی رحمه الله تعالی ليکلی دی چه هغوی صلي الله عليه وسلم دبيع عربان نه منعه فرمائيل ده،دی صورت دادی چه خرڅونکی ته دقيمت څه برخه ورکړی

---

[1] حاشيه القاری علی الشرح الصغير، ج ۴صـــ ۳۰).

[2] جديدفقهی مسائل ،ج۲ صـــ۳۸۹).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

شی که دغه شی واخستو نوورکړی قیمت به ورته په باقي قیمت کی حساب شی، او که وانخستونوخرڅونکی ته به دغه رقم بی بدله (ویړپا) همداسی پاتی شی، پدی کی دجواری صورت موندي شی.([1])

{ه:- دفرضی شریک سره دبیعی حکم}

مسئله:- څنی عرب ملکونوکی داقانون جوړشویدی،چه دنورروملکونوخلق په دغه ملک کی هلته تجارت کولیشی، چه ددغه ملک باشنده به ورسره هم پکی شریک وي، یواځی خان ته مستقل تجارت نشی کولی، لهذا داسی کیږی چه دبل ملک باشنده دغه ملک کی دیوشریکوال نوم حکومت ته بسکاره کړی، او دغه کس ته میاشت په میاشت یا مثلا کال په کال ددغی نوم لیکلو څه ټاکلی رقم (رو پي) په معاوضه کی ورکوی، دا صورت څکه روانه دی چه دا رشوت جوړ یږی، چی هیڅ داسی مجبوری نشته دکومی په وجه چه رشوت ورکړه روا ګرځیدلی شی، اوبل خوا دکوم فرضی شریک نوم چه ورکړی شویدي هغه دپاره ټاکلی رقم یادا رشوت اخستل، یامال غصب یعنی په زوراخستل دی ،چی شرعًا ددی جواز نشته.

پس دادی صحیح طریقه داده:- چی دغه مقامی(ملکی)سړي هم خپل یو صحیح شریک جوړکړی،که هغه دیته نه تیاریږی نواصل سوداګر دی ورته دخپلی پنګه نه څه برخه دقرض په ډول ورکړی، اوپه خپلی معاملی کی دی شریک اوګرځوی او په تناست سره دده دپاره روا نفعه مقرره کړي.([2])

﴿ شپږم بحث:دخرڅولو اواخستولو ممنوع صورتونه ﴾

{الف:-دلسو ممنوعو صورتونوتوضیح}

مسئله:- په شریعت مطهره کی دخریدوفرش ډیرداسی صورتونه شته

---

[1] حجة البالغة،ج۲صـــ۱۰۰)

[2] جدید فقهی مسائل ج۲ص ۲۵).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

چې دهغه څخه منعه شوی ده اول صورت سوم علی سوم اخیه ده:- داسوم علی سوم اخیه بیعه دیته وائي چې یوڅوک یو شئ رانیسی اودخرڅوونکي سره په معامله کولو لګیا اومصروف وي، چې یوبل څوک راشي اوپه سودا کی ئي ورولویږی،اودغه نوی رانیوونکي تردا بل نسبتاً ډیري پیسي (روپی) ورته ووائي دصورت جائزندي.

دوهم صورت بیع علی بیع اخیه ده:-دا بیع علی بیع اخیه دیته وائي چې یوڅوک یوشئ خرڅوی بل څوک راشي اوخریدارته ووائي چه دغه ډول شئ زه په کم قیمت درکوم. رسول الله صلی الله علیه وسلم ددي دواړوخبرو (سوم علی سوم اخیه، بیع علی بیع اخیه) څخه منع کړی ده، ځکه چې پدي سره ددووکسانو یاډلوترمنځ درقابت اوخوابدتیا دپیداکیدو قوی اندیښنه شته. (کما فی صحیح البخاري کتاب البیوع باب لایبیع علی بیع اخیه). البته دامنع هغه وخت ده کله چې دسامان په رانیوخرڅولوخریدار راضي شوی وي. ([1])مګر دنیلام صورت ددي څخه وتلی دي، چې په هغه کي یوڅوک دلوړقیمت دحصول په خاطر بولی لګوي، اوپخپله درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دغسی خریدوفروشی ثابت دي. ([2])

دریم صورت بیع حاضرللبادده:دا بیع حاضرللبادمطلب دادی چې دصحرا اوکلي خلک خپل مالونه بنارته راوړی،اودبنارتجاران ددوي مالونه رانیسي، پخپله ئي په بنارکی خرڅ کړي، دوي فکرکوي چې داصحرایانوبه په لږه بیعه داشیان خرڅ کړي مارکیت به خراب شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ددي څخه هم منع وکړه ، چې په دي کي دعاموخلقو لپاره تاوان شته. (کمافی تر ما - کتاب البیوع باب ماجاء لایبیع حاضرلباد).

---

[1] عمدة ال (۳۶۰-).

[2] عمده القاري (۲۵۸-).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

څلورم صورت تلقی جلب ده:- دا تلقی جلب معنی داده چې له تجارتي قافلی څخه ترښاردباندي سامان په ارزانه بيعه رانيول شي، اودقافلی خلکوته دښاردبازارپه هکله درواغ ووائي، مثلاً ورته ووائي چې په ښارکي شيان ارزانه شويدي، لکه څنګه چې معلومه ده چی دغه صورت دمال له خاوندانو سره دوکه اودهغوخطاايستل دي.(۱)

پنځم صورت نجش ياتناجش ده:-دا نجش ياتناجش معنی داده چې يود را نيولو اراده نه لري، مګر نورو خريدارانوته ددوکه ورکولو په نيت سره يو څوک ناحقه زيات قيمت ووائي، مطلب يې خريدار نوته دوکه ورکول وي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ترينه منع کړيدی. کما فی صحيح مسلم باب تحريم النجش).

شپږم صورت تصريه ده:-داتصريه معنی داده چې يوڅوک دغوا يا بزه پدی نسبت نه لوشي چی خريداردوکه پروخوری، چه رسول صلی الله عليه وسلم ددينه هم منعه کړيده ولي چه داهم ښکار دوکه ده. کما فی صحيح مسلم کتاب البيوع باب تحريمه التصرية).

اوم صورت توليه اومرابحه ده:- داتوليه اومرابحه معنی داده چې يوچا يو څه سامان رانيول،اوبل چاته ئي دخرڅولو پروخت وويل چې زه دغه سامان په هغه بيعه تاته درکوم،په کومه بيعه چی مارانيول دي، اودبيعی په ويلوکي درواغ ورته ووائي،يادا‌سی ورته ووائي چه ماپه دونه رانيولی دی اودونه کټه درڅخه غواړم، حالا نکه دخريد په قيمت کی ئي درواغ ورته ويلی وي، دغه دواړوصورتوکی خريدار دحق لري چی دغه سودا ختم کړي، يادهغه څخه دغه زياتوب پيسي بيرته واخلی. (۲)

---

۱ صحيح مسلم کتاب البيوع باب تحريم للقي الجلب. وبذل المجهود،ج۴ص۲۶۸).

۲ الهدايه،ج۳ص۵۵).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

اتم صورت بيع عندآذان الجمعة:دا بيع عندآذان الجمعة معنى داده چې كله دجمعي آذان وشي نوخريدفروش به پريږدئي، يعنى تجارت كى شريعت له هغه صورت څخه هم منع كړيده چې دهغه له كبله په خالص عبادت كى خلل راشي، الله تعالى په قرانكريم كى دجمعي په هكله په خصوصيت سره تاكيد كړيدى چې كله دجمعي آذان وشي لمانځه ته ولاړشى، خريدفروش پريږدئي (سورت الجمعه ايات ۹) لكه څرنګه چى دجمعي دلمونځه لپاره زيات وخت پكاروى اودلمونځه سره خطبه هم وي، نوځكه خاص توجه ورته شويدي، كه نه دهرعبادت اولمانځه لپاره دغه حكم دى؛ پس دجمعى داذان په وخت كى بيعه دامام مالک امام احمد رحمهماالله تعالى اواهل ظواهرو په نزدباطله ده. ليكن داحنافو شوافع رحمهم الله تعالى بلكه دجمهورو په نزد جائزده، البته مكروه تحريمى ده، مګرپه تللوكى جمعى مسجد ته خريدوفروش مكروه ندى څكه چه ده مانع دسعى ندى، اواصح داده چه دآذان نه مراداول آذان مراددى .([1])

نهم صورت بيع فى المساجد:- بيع فى المساجد معنى داده چې مسجدونه خالص ده دالله تعاليدذكر اودين ته درابللو اوعبادت څايونه دي، پس دلته خريدوفروش كى ممكن ده چى دنوروخلقو په عبادت اولمونځه كى خلل راشي، نوځكه په مسجدونوكى له خريدوفروشه منعه وشوه، البته صرف معتكف دضرورت په وخت كى بدون دحاضرولو دسامان عقد خريد او فروش كولى شى، پس رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى (لااربح الله تجارتک) يعنى چى په مسجدكي په رانيولو وويني ورته وواياست چى الله (تعالى) دي ستاتجارت له كتي بى برخي كړي (كمافى الترمذى كتاب البيوع باب النهي عن البيع فى المساجد).

---

[1] فتح البارى ج۳ص۳۲۴.

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

لسم صورت تحريم الملامسه و المنابذة: داملامسه والمنابذة معنى داده چې په هغه کې دمکملی خوښی پرته پريوکس سودا لازمه وګرځيږي ، يعنې د شريعت عمومي طبعيت دادي چې ددواړو خواوو دمکمل خوښي اورضاپرته معامله بايد ونشي،چې هغه بل کس ته په ضرر اوتاوان تمامه شي، تراسلام دمخه دخريدوفرش ډيرصورتونه مروج وه چې په هغه کې دمکملی خوښی پرته پريوکس به سودالازمه وګرځيدله، چې يوکس به يې مسحه کړو اويا به يې کوم شئ وروغورځولو،سودا به لازمه شوه داسې صورتو ته به ئې ملامسه اومنابذه ويل کيدله، پس اسلام دا ډول ټول صورته نه منع کړل. (ترمذی کتاب البيوع) .

{ب:- غله شوی شئ اخستلو حکم}

مسئله:- کله چه اخستونکی پدی پوهه شی چه دغه مبيعه يعنی سمان غله شويدی، نوددغه غله شوی شئ اخستل دده لپاره حرام دی، ځکه چه پديکی دظالم امداددی په ظلم باندی.

اوهمدارنګه (مضطر) يعنی محتاج سره بيعه منعه دی، چی د محتاجی په وجه داشئ خرڅوي. ([1])

{ج:- دافيمو هيروينو اوحرامو د بيعه حکم}

مسئله:- دمسلمانانو دپاره افيم اوهيروين خرڅول مکروه تحريمی دی، خواه په مسلمانانو باندی وي اوکه په غيرمسلموباندی وي. ([2]) دافيون اخستل اوخرڅول د دوائی دپاره جائز دی، دوائی نه علاوه دافيون اخستل اوخرڅول مکروه تحريمی دی.([3])

---

[1] سنن ابی داود اوبذل المجهودصـــ۲۵۲)

[2] ردالمحتار، ج۵صـــ۲۱۲)

[3] احسن الفتاوی، ج۶صـــ۴۹۴).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

مسئله:- دکوم شی نه چه فائده اخستل حرام دی، ددی اخستل اوخرڅول هم حرام دی ،چونکه ګوته کی انګوشتری اچول مکروه دی بی ضرورت نه، نوددی بیعه اوجوړول هم مکروه دی، اوماپه شرح تنویرکی لیکلی دی چه دکوم شی ذات سره ګناه تړل شوی وی، ددی اخستل او خرڅول مکروه تحریمی دی.(۱)

{د:- بیعه عینه حکم}

مسئله:- بیعه عینه ممنوع دی دادی بیعی صورت دادی: چه یوشئی مثلا په سل روپئی واخلی بیائی په پنځوس روپئی خرڅ کړی، د احنافو په نزد دغه بیعه جائز ندی، اګرچه دویمه بیعه مخکی دنقدروپی څخه وي،ځکه چه دا اخستل په کموروپئی هغه باندی دي چی مخکی یې نقد روپی زیاتی ورکړی وي ، اوکچری دابیعه وروسته دنقد روپیو څخه وی ، نوکه اوله بیعه پدی شرط وه چی بیعه دوهمه به لازمي کوی،نودا بیعه هم جائزندی،لوجه دعدم جواز ددوو بیعونه په یوعقد دبیعی کی،اوکچیری په دوهمی بیعی کی دا شرط نوي نوبیا هم دغه صورت مکروه دی ځکه چه دابیعه دمضطر (محتاج) دی.(۲)

{ه:-دقیمت په معامله کی شرعی لاربنوني}

مسئله:دقیمت په معامله کی شرعی لاربنوني داسی دي چه دولت حکومت دی پدیکی لاس وهنه نکوي،په قدرتي رفتاردی په قیمتونوکی لوړیدل او ټیټدل روان وي، یووارځینی اصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم په خصوصیت سره درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وغوښتل چی قیمتونه دي وټاکل شي،رسول الله صلی الله علیه وسلم ددوی سره رائی سره متفق نه شو،وئی فرمائل:

---

۱ الدرالمنتقی علی هامش المجمع، ج۴ص-۲۱۲)

۲ الفقه الحنفی وادلته، ج۲ص-۴۹)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

په قيمتونوکی ګراني اوارزانی جوړوونکي الله جل جلاله دی (ابن ماجه کتاب التجارات باب من کره ان يتعين) البته ځيني وختونوکی ځني خلق داخلاق داخلقي لاربنوونواثرنه قبلوي ددی لپاره له قانون نه کاراخستل کيږی،نوځکه هوفقهاؤ کرامودداسی خلقودطبيعت معلومولوپه خاطر دګران فروشي دزيدتيدوله له کبله دولت ته اختياروركړی دي،چي قيمتونووتاکی يعنی تاجران بايددي خبري ته مجبور کړی چی دحکومت لخوا په تاکلو قيمتومالونه خرڅ کړي.(۱)

{و:- داحتکارشرعی حکم}

مسئله:- احتکارشريعت کی ممنوع دي،داحتکارمعناده، د ضرورت (اړتيا) دشيانو ذخيره کول، اوبازارڅخه راتول ترڅوچه قيمت ئی پورته شئي،رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي- چی چاڅلويښت ورځی احتکار مکردهغه څخه الله اودهغه رسول بري (بيزار) دي.(۲) داحنافو فقهاو په نزد دخوراک شيان خوندی کول منع دی، په نوروشيانوکی خوندی کول منع نه دی،وجه ئی دادی چه داهروخت پکار راتلونکی شيان دی ددی خوندی کول لپاره يومياشت تاکلی شوی ده،يعنی يومياشت پوری خوراکی شيان خوندی کول احتکار نوميږی، چه منع دی، ځکه چه پدی سره شيان قيمتی (ګرانيږی) ، تردی حده پوری چه فقهاو حکومت اومتعلقه انتظاميه ددی خبری حقداره ګرځولی ده، چه دضرورت په وخت داسی مال جبراً داخوندی مالونه راو باسی اودخرڅولوانتظام دی ئی پخپل واک (نګرانی) کی واخلی البته ذخيره اندوزی کی ضروری ده چه دغه به انسانی يا حيوانی عذا وي،اوبل دا چه دغه يي خريد شوي وي، کچيری دخپل زمکی حاصل وی بيا جائزده، او

---

[۱] (الاشباه والنظائر للسيوطی،۱۸۷).

[۲] مجمع الزوايد ج۴ص۱۰۰،باب الاحتکار).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

بل داچه دغه شهرکی يې واخلی،اويا په داسی ځای ځخه واخلی چه دغه ځای ځخه غله دغه شهرته عموما راځی، اوبل دا چه په دغه ذخيره اندوزی کی خلقو نقصان او تکليف وي، اودغه شهرکی مال زيات وي او خلقو ته تکليف نوي بيا جائزده.(۱) دځينو فقهاوو په نزد احتکار اومال ذخيره کول يوازي په عذائي موادوکی منعه ده، البته امام ابوحنيفه رحمه الله تعالی په نزدپه ټولو شيانوکی احتکارمنع دی.(۲)البته امام ابوحنيفة رحمه الله تعالی ديوشهرځخه غله واخلی،اوبل شهرکی ذخيره اندوزی کوي دغه جائزده بعضی علماء کراموامام ابويوسف رحمه الله تعالی قول د امام صاحب موافق ويلی ده او بعضی علماءکراموامام ابويوسف رحمه الله تعالی قول دامام محمد رحمه الله تعالی موافق ويلی ده يعنی امام محمدرحمه الله تعالی فرمايي چه دغه مذکور صورت مکروه ده (وکره الاحتکار قوة البشروالبهائم في بلد يضر باهله ... ولايکون محتکاربحبس غلة ارضه بلاخلاف ومجلوب من بلداخرخلافاللثانی "ابی يوسف رحمه الله تعالی وعند محمد رحمه الله تعالی ان کان يجلب منه عادة کره وهو المختار... وقوله الملتقی قال في شرحه تبعا لشرنبلاله وقد اخرفی الهداية قول محمد رحمه الله تعالی بدليله أي فان عادته تاخرالدليل ما يختاره. (۳).وقال کل بقعة يمتد منها الی المصرفی العادة فهی بمنزلة فناء يحرم الاحتکارمنه وهوفی غاية الاحتياط.(۴)

﴿ اوم بحث: دحيوناتو خرڅولو اواخستولو حکم ﴾

{الف:- دريښمو چينجئی اودخزندو خرڅولو اواخستلوحکم}

مسئله:-دامام اعظم ابوحنيفه اوامام ابو يوسف رحمهما الله تعالی په نزد

---

[۱] الفتاوی الهنديه، ج۳ص۱۰۳).

[۲] درالمختارکتاب الخظروالاباحة، ج۵ص۲۵۲)

[۳] الفتاوی الشامية ج۶ص۳۹۹)

[۴] (البحرالرائق ج۸ص۳۷۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

د ريښمو چينجئي ، او ددوی هګی خرڅول اخستل جائز نه دي ،البته امام محمدرحمه الله تعالی علیه ئی جائز بولی، اوفتوی هم دامام محمد رحمه الله تعالی په قول با ندي ده، ددي وجه داده چه فائده تر ينه اخستلي شی. (لكونه منتفعا به)([1])

او همدارنګه امام نووی رحمه الله تعالی دنورو حشرات الارض (خزندو) خريد فروخت منعه ليکلي دی، ليکن دشاتود ميچيودخريد اوفروش اجازت ئی ورکړی ده، وجه ئی دا ذکرکړيده چه دا پاک حيوان ده ،فائده تر ينه اخستلي شی. (انه حيوان طاهر منتفع به. ([2])

{ب:- دبزو ميګو خرڅولو اواخستولو شرعی طريقی}

مسئله:- که يوسړي دبزو ميګو يوکنډک بزي ميګي ياد رختو (کپړو) يوتان خرڅ کړو،اووئی وئيل چه هره بزه يا هرګز په يو يودرهم دی، نود امام اعظم صاحب په نزدبه په يوه بيزه اويوګزرخت کی هم بيع جائز نوی، ځکه چه دلته دمبيعی په افرادوکی اختلاف دی، نودټولوقيمت برابرنه شی تقسميدی پس نزاع جنګ به واقع شی،په خلاف دغلی نه يعنی دغنمو دانو کی څه زيات تفاوت نيشته ،پدی وجه هلته په قفيزکی بيع جائزده ،هاکه په وخت دعقدئی دټول کنډک او ټول تان مقداربيان کړی وه نوپه اتفاق به دټولو بيعه صحيح شی، لزوال المانع وهوالجهالة .([3])

{ج:- هغه شيان چی بغيرديادونی نه په مبيعی کی داخل وي}

مسئله:- دلاندي مسئلی په دريو قواعدو باندی مبنی دی:اول: کوم شئ لره چه اسم دمبيعی ورته شامل وي په عرف کي،نودغه شئ بغيردذکر کولو

---

[1] البحرالرائق ،ج٦صـــ٧٨، تبين الحقائق ،ج٦صـــ٤٩).

[2] شرح مهذب ج٩صـــ٩٢٢).

[3] هدايه،ج٣صـــ٢٧).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

نه په مبيعي کي داخل ده. دوهم : کوم شئ چه دمبيعي سره په اتصال دقرار باندی متصل وی نو دغه شئ هم په مبيعي کي داخل ده. دريم:کوم شيان چه ددی دواړو قسمونونه نوي، بلکه دحقوقواومنافعودمبيعي څخه وی، نودغه شيان دحقوقودمبيعي په ذکرکولو سره داخليږی، اوبغير د ذکردحقوقو څخه نه داخليږی ،پس اوس که چامکان يازمکه خرڅه کړه، اودکوراوزمکه نه علاوه څه بل شئی ئی صراحةً ذکرنه کړو،نو په عرف کي لفظ ددار(کور)چه کومو شيانولره شامل وي هغه ټول شيان به په مبيعي کی داخل وي،مثلا دهغی عمارت دبندوولوجرنده،اندرپايه ،مطبخ،اوبيت الخلاء وغيره.دغه شان دزمکی په بيعی کی به اونی (درختی) هم داخلی وي، ځکه چه اونی دزمکی سره متصلی وي په اتصال دقرارسره ، البته اوچه (خشک) درخته به په بيعی کی داخله نوی،ځکه چه دغه دپريکولوپه زدکی راغلی ده ، اودزمکی په بيعی کی به فصل هم داخل نوي،ځکه چه دامتصل په اتصال دقرارسره نوي ، بلکه دريبلودپاره کرلی شی ، البته دبيزی، غوا وينځی ،او داسی نورو په بيعه کی به ددوي حمل يعنی نس کی اولاد داخل وي، اګر چه اتصل دقرارسره ندی بلکه دی خوبه خامخاجداکيږی، جواب:- چونکه دخدای پاک نه سوابل څوک ددی حمل په جدکولوقادر ندي،اوبل جواب دا چی دموراودحمل په مينځ کی مجانست هم موجوددي،پدی وجه باندی جزء دمور مقررکړي شو.([1])

{د:- دحوض دماهيانورانيول خرڅول حکم}

مسئله:دحوض دماهيانورانيول خرڅول:ديوشئ دخرڅولولپاره دوي خبري مهمي دي، اول خبره:- داچی کوم شئ خرڅيږي هغه به دخرڅوونکي ملکيت وي، داخوښکاره خبره ده. دويمه خبره:- داچي دهغه شي حواله

---

[1] مخلصا عالمګيری،ج۳ص۲۹)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کول او سپارل به ممکن وي ،که سمدستي ئي په حواله کولوقدرت نلري بيعه نه صحيح کيږی، مثلاً تبنتيدلی حيوان ياورک شوي سامان خرڅ کړی که څه هم دادخپل اصل مالک په ملکيت کی دي مګرسمدستی دهغه په ورحواله قدرت نه لري.

پس دماهيانوپه لړکي هم دغه تفصيل دی،که ماهيان دده په ملکيت کي دي اودي په آساني دهغه په ورکولوقدرت هم لري ددي رانيول خرڅول صحيح دي که ئی په سپارولو قدرت نه درلود ياتراوسه لاده هغه مالک ګرځيدل نوي ده رانيولواوخرڅولومعامله ئی روانه دده.

دماهی(کب) دمالک ګرځيد دري صورتونه دي اوله داچی : ده ماهيان دپرورش لپاره په خاص توګه په حوض (ډنډ) کی ايله کړي وي ددي ماهي دنسل مالک به دغه سړی وګرځي .

دويم صورت دادي چي ماهيان ده په کي حوض اچولی نوي مګرپه حوض کي دماهيانو دراوستلولپاره يا دماهيانو دبيرته نه تللول پاره ئی يوچل کړی وي ، اوس دی په پدي حوض کي دراتلونکي ماهيانو مالک دي ، دريم صورت دادي چی يوسړي ماهی ښکارکړي اوپخپل لوښی کي ئي وساتي.

اوڅلورم صورت يی هغه دي چي په هغه کي سړی دماهيان مالک نه ګرځی ،هغه داچي ديوچاحوض وي هغه ته ماهيان پخپله راشي ،پدي هکله ده هيڅ کوشش نوی کړی فقط حوض دده په مخکه کي دی ،داخبره ددي لپاره کافی نه ده چي دمخکی مالک به دبچيانو اوهګيوهم مالک وي، بلکي هرڅوک چي دماهيانو چيچيان ياهګی پورته کړی هغه ئي مالک دی: اذافرخ طيرفی ارض رجل فهو لمن اخذه اذاباض فيها.(۱) دماهی په آساني سره دورکولودوه صورتونه دي يوداچي دښکار وروسته ئي په يوه لوښي

---

۱ الهدايه جلد۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کی وساتي، لکه څنګه چی عموماً کيڑي، ياماهيان په داسی کوچنی کډي کي ايله کړي چي دهغه څخه راايستل آسانه وي.اوس ښکاره خبره ده چی په کوموصورتو کي سړی دماهيانومالک نوي په هغه صورتو کي خريد فروش صحيح ندي،اوکله چي دماهيانومالک شی بياهم هغه وخت دي رانيول اوخرڅول صحيح دي کله چی په پورته ذکرشوي دوړاوصورتو کی يوصورت وي. دغه مذکورتفصيل ابن همام رحمه الله تعالی دهدايي په شرح فتح القدير کی ليکلی دی اوابن عابدين رحمه الله تعالی دا رانقل کړيدی.(۱)

{ه:- دحمل بيعی حکم}

مسئله:- دحمل بيعه باطله ده، اودحمل دبچی بيع هم باطله ده ،ځکه چه په حديث شريف کی د دی دواړوممانعت صريحی دی (ابن ماجه ترمذی احمد)اودګډی بيزي په شاباندی دوړيو اوويخته بيعه روا نه ده ، البته امام ابويوسف اوامام مالک رحمهما الله تعالی ديته جائز وائی. اوهدارنګه په عولانځ کی دننه د پيو(شودو) بيعه هم روا نه ده ،ځکه چه په حديث شريف کی د دينه منعه راغلی ده. (طبرانی وابوداود) اوهدارنګه معلومه نه ده چه په غولانځ کی پئی دی اوکه هواده. (۲)

{ز:- دځرمنو خرڅولو اواخستلوحکم}

مسئله:- داکثروفقهاو په نزددځرمنو دپاکيدو دوه صورتونه دی: اول دا چی يوځاروی مسلمان ياکتابی بنده په شرعی طريقه ذبح کړی وي ، نو داسی ځرمن به درنګولو(پخولو)نه وړاندی هم پاکه وی، اوکه په شرعی طريقه ځاروی ذبح نکړی شی اوهم داسی مرادر شونودرنګولو (پخولو)نه پس ئی ځرمن پاکيږی. ("ايما اهاب فقدطهر" رواه ترمذی ونسائی). بله دا

---

[۱] شامي،ج۴ص۱۰۶).

[۲] مختصر القدوری ،صـــــ۹۵).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

چه دباعت (رنگولو) نه مراد دځرمنی داسی برابرول دی چه دهغه بدبوئی ورکه شی، اودسخاکیدواندیښنه ئی ختمه شئ کما قال مایمنع النتن...فهو دباغ. بله داچه کوم څیزونه ناپاک اوپلیت دی نودهغی خرڅول اخستل روا ندی، ولی چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دشرابو مرادری خنزیر اومړه شوی څاروی اخستل خرڅول حرام ګرځولی دی، هرکله چه په ډیوه کی چه دبلولو یه غرض دخنزیر دوازدی په باره کی خلقو دهغوی صلي الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړو، نووی فرمائیل: چه په یهوددالله تعالی لعنت وی هرکله چه الله تعالی په دوي وازده حرامه اوګرځوله ،نو دوی دهغی خرڅول اودهغی کټه خوړل شروع ګړل.(راوه ترمذی ونسائی) یعنی حرامه حیله یي ورته جوړه ګړه ، اوس هغه څرمن ترڅوچه رنګ شوی نوی نو ناپاکه به وی ، چه دټولو فقهاوو پدي اتفاق دی.(كما في حديث متفق عليه) ځکه ئی خرڅول اخستل روانه دی. دغه شان دایواځی په مالګی پوری کولو اولګول سره نه پاکیږی، ولی چه په دی سره بد بوئی اوسخاتو یي نه ختمیږی، البته که دوي نه واخستی شی اورنګ کړی شی دهغی اجرت واخستی شی، اوبیاپه بیعه واخستی شی نو معامله به سمه شی څرمن به یي پاکه شی هلته به ئی اخستل خرڅول جائز (روا) شي.([1])

﴿ اتم بحث: دخرڅولو اواخستلولپاره مهم هدايات ﴾

{الف:- دمال متقوم توضيح}

مسئله:- دخرید اوفروش دصحت لپاره یولازم شرط داهم دي چي کوم شی خرڅیږي هغه دي مال متقوم وي، اوشریعت هغه دقیمت وړهم وبولی. (کونه مالاً موجودًا متقومًا،([2])

---

[1] جدید فقهی مسائل ،ج۱ص۲۵۴).

[2] ردالمحتارج۳ص۵).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دمطلوم اوقيمت ورکيدلو معناداده چې شرعًا دداسی شي څخه ګټه پورته کول ناروا نوي.(المال المباح الانتفاع به شرعًا .(۱) پردي بنسټ داسی شيان چې حرام وي اوشرعًا دهغه څخه ګټه پورته کول مباح نوي. دهغه خريدوفروش جائزندي، لکه خنزيرخريد اوفروش، دوينی خرڅلاو، دشرابو بيعه، تصويرونه، دژوندي شئ مجسمی رانيول اوخرڅول، مردارو شيانوخرڅول، او دفتنی په زمانه کي پر اهل فتنه خلقو داسلحي دخرڅلاو وغيرا، لکه يوار دمکی مکرمی دفتحی يوه موقع رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمائيل چه الله اودهغه رسول صلی الله عليه وسلم شراب مردار خنزير، اودبتان خريدوفروش حرام وګرځول .(کما فی صحيح البخاري کتاب البيوع باب بيع الميتة والاصنام). اوهمچنان رسول کريم صلی الله عليه وسلم دنراوماده حيوان ديو خاي کولو مزدوري ناجائزه وبلله.(کما رواه الترمذی عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما کتاب البيوع باب ماجاء فی کراهية عسب الفحل).اوهمدرنګه فقهاء کرامودانسان دغائطه موادخرڅلاو روا نه بولی، ځکه چی دا نجسه دي البته کچيری خاوره په ګډه شي اوغائطه موادپکی لږشی بياپروا نه لري .(۲)

{ب:- دمبيعی دموجوديت مهمه مسئله}

مسئله:- يوشئ بائد دموجوديت اوقبضی وروسته خرڅ کړي، يعنی دخرڅولو پروخت هغه شی بائد دخرڅوونکی سره په ملک موجوده وي، لهذادی بي دځينوروایاتومطابق مطلقًا ترقبضي دمخه له خرڅولو منع شويده. (کمافی مسلم کتاب البيوع باب بطلان بيع المبيع قبل القبض). دامام مالک رحمه الله تعالی په نزددغه حکم چی ترقبضی وروسته به فروش کيڼی يوازي دخورا

---

۱ ردالمحتار،ج۳ص ۱۰۰)

۲ درالمختارعلی هامش الردالمحتار ج ۳ص ۱۰۵).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کي موادو په هکله دی ، نورشيان پدی حکم کي نه دي داخل .([1])
الجه داحنافو په نزد باندي په منقوله شيانوکی هغه شيان چی له يوه خايه بل
خاي ته وړل کيدلای شي قبضه لازمه ده، اودغيرمنقوله شيانو څرڅلاو
ترقضی دمخه هم جائزدي. ([2])

{ ج:- دکميشن کاربار کولوشرعی طريقه }

مسئله:- پدی زمانه کی دخريدوفروش ډيرداسي صورتونه مروج دي چي
هغه دايجنتانوپه وسيله ترسره کيژی، دکمپني اوکارخاني ايجنټ معاملي
خلاصوي، اوبياپردي کميشن اخلي ، پوښتنه داه چي دکميشن ايجنټ
لپاره دغه ډول کميشن خوړل جواز لري اوشرعًا دغه مزدوري جائزه ده
که نه ؟ امام بخاري رحمه الله تعالی په دغه لړکي يومستقل عنوان قائم کړيدي،
اونقل کړي دي :چي دابن سيرين ،عطاء، ابراهيم نخعي اوحسن بصري
رحمهم الله تعالی په ډول دلوړي درجي علماؤ کراموهم دايجنټ کميشن جائز
بللی ده ، له ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه نقل شويدي چی يوکه
يوڅوک يوچاته توکر(رخت) ورکړي، اوورته ووائي چه داټوکرخرڅ کړه،
دومره پيسي ئي زمادي ، که دي په اضافه پيسوخرڅ کړهغه ستادي ، پدی
کی باک نشته ، غالبًا امام بخاري رحمه الله هم دغه روا بولي، ځکه چه
وروسته ئی پخپله درسول الله صلی الله عليه وسلم له هغه حديثه استدلال
کړيدي چي فرمايی (المؤمنون عند شروطهم) هرمسلمان لره پخپلو شرطو
اومعاهدو قائم اوسيدل پکاردي، يعنی دايجنټ اومالک په مابين کی چه
خبري معلومي شويدي پکاردی چه ډواړه يه هغه قايم اوسيی. (صحيح
البخاري كتاب الاجاره باب اجره المسمسرة). پس ايجنټ کميشن يعنی

---

[1] شرح نووي علی مسلم ج۲ص۵).
[2] فتح القدير، ج٦ص٣٨).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دلال لره اجرت جائز دی خوپدی شرط چه ددلال حیصه مقرره او متعین وي، مثلا لس روپي به دلال وي،اویا یي دفیصدی په اعتبارسره حیصه متعین کړی یعنی مثلا دري في صده به دا دلال وي، لیکن دلال ته داسی ویل چه پدیکی به ما مثلا اتیا روپي وی،اونوری مابقی روپي به ستا وی دغه صورت جائز ندي، ځکه چه ددلال حیصه مقررول اومتعین کول ضروري دي. لبته دځلورو امامانو په مابین کی پدي هکله اختلاف شته، د سیدنا امام مالک رحمه الله تعالی په نزد دسامان په خرڅولوکي اجرت تاکل جائزدي پدی شرط چي دخرڅولولپاره ئی څه موده هم تاکلی وي،که دسامان مالک ووائي چی ته داسامان خرڅ کړه ددي په بدله کي تاته یودرهم درکوم، یاپه هرسل(۱۰۰)دینارویوځه پیسي وتاکي داجائزدي، دغه رایه دامام احمدرحمه الله تعالی هم دي، ابن تین رحمه الله تعالی لیکلي دي چي که موده وتاکل شي چي په دومره مدي کی به ئی خرڅوي دایجنټ نفع (اجاره) ده، که ئي څه موده تاکلی نوي دفقه (مالکی) په اصطلاح کی (جعل)دی، ابوعبدالمالک رحمه الله تعالی لیکلي دي چي داپه عرف پوري اړه لري که څه هم پدي کی مزدوري واضح نه ده، ملګردخلقو دتعامل یعني پردي دعمل کولوله کبله داجائز بلل شویدي (لکن جوزت لما مضی من عمل الناس علیه، [1] که څه هم دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی په مسلک دکمیشن ایجنټ دکارو بار ځینی صورتونه داسی دي دجوازله دائري نه وتلي دي،بعضواحنافوپدی موجوده زمانی کی دکاربارزیاتوب په اړتیادمالکي فقهاؤ په رایه دي فتوی ورکړیدي، دعلمائی احنافو رحمهم الله تعالی دااصول دی چه یوشئی په بل خرڅول هلته رواکیږی چه اول ئی پخپله قبض (وصول) کړي.[2]

---

[1] (عمدةالقاري ج۱۲ص۱۳)

[2] بدایةالمجتهد ج۲ص۱۴۴)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

الفصل الاول ما يشترط فيه قبض) وجه ئی داده چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دمال وصولولونه بغير دهغی خرڅولو منعه کړيدی،موطاامام مالک کی دحضرت عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه نقل دی چی يوخای نه بل خای ته داوړلوشی اول خپل تحويل کی اخستل ضروردی،نو پدی صورت کی به ئی په نفع خرڅول درست وي، اوکچيری اخستونکی اووائی چه مال خپله لارئی (موتر) کی پورته (بار)کړه اويوسه، پس هرکله چه ايجنټ دامال به بتهی (کدام)کی جدا نکړو يعنی قبض ئی نکړو اونيغ په نيغه اخستونکی ته اورسيدونوداسی کاروبارصحيح نه دی ،کله داسی هم کيږی چه ايجنټ صرف خربدارتپاراوي ،اوددی خدمت په بدله کی ورته سودګرپه سلو پسی څه نفع ورکوي، نوداصورت هم رواشو ځکه چه دمحنت، خدمت اومشقت بدل اخلی ،لکه چه ددی دناروا کيدوهيڅ وجه نه شی جوړيدل.(۱) والله تعالی اعلم بالصواب.

{د:- دنقدو په نسبت په قرض باندي په زياتوروپيوسره دبيعی حکم}

مسئله:- که يوسړي يوشئ من او ياکلو په نقدو روپوباندي مثلاپه سل (۱۰۰) روپی خرڅوي، اوپه پور (قرض)باندی يی په يوسلوپنځوس(۱۵۰) روپی خرڅوي ،داعقدجائزده پدی شرط چه دغه بل سړی به په هغه مجلس کی داخبره واضحه کوی، چه يائی اوس روپی درکوم، اويائی په قرض اخلم يوه مياشت وروسته به روپی درکوم،اودايومن شئی ماپه يوسلوپنځوس روپيو ماقبول دي ،اوداخبره به مجهوله نه پريږدی، ځکه چه بيابيعه فاسده ګرځي، يعنی داسی به نه وائی چه يابه ئي فی الحال سل روپی درکړم اويابه ئی يوه مياشت وروسته يوسلوپنځوس روپی درکړم، ځکه چه پدی صورت کی جهالت په ثمن (روپی) کی راغي. (ففی الهندية جهالة المبيع اوالثمن مانعة

---

(۱) جديدفقهی مسائل،ج۱ص ۲۷۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

جواز البيع . ([1]) او هر چه زيادت دقيمت دمبيعه راغلي، لوجه داجل او نيته څخه راغلي دهدا جائزده علامه ابن نجيم رحمه الله تعالى ليکی (لان للاجل شبهًا بالمبيع الاترى انه يزاد فی الثمن لاجل الاجل. ([2])

{ه:- غبن فاحش دصورت توضيح}

مسئله:- غبن فاحش مکروه دی که څخه هم شريعت دګتی لپاره څه خاص مقدارندی معلوم کړی، مګردومره ګټه چه د غبن فاحش په درجه کی راشی مکروه ده، دغبن فاحش مطلب دادي چه يوه شئی په بازارکی په معلوم نرخ خرڅيژي مګريوڅوک ئی په بيخی ډيره زياته ګټه خرڅ کړی، شريعت ددي مخالف دي، پدی هکله شاه والی الله رحمه الله تعالى ليکلي دي چي دتجارت ګته دوه صورتونه لري، يوداچی دمحتاج له اړتياوضرورت څخه فائده پورته کړي، اويوشئ ترخپل نرخ ډير زيات ګران ورباندي خرڅ کړي، دامناسب ندي، دوهم داچی يوه شئی په لږه ګته خرڅ کړي، اوپيسی ئی ژر په کار راوړل شي، دګتی دغه دويم صورت اوشکل دمدنی غوښتو نوسره سم دي ، اوبرکت هم لري.([3])

﴿ نهم بحث: دخيارشرط، خياررؤيت، اوخيار عيب حکمتونه ﴾

{الف:- دخيارشرط مهم صورتونه}

مسئله:- خيارشرط په بيعی کی خرڅونکی اواخستونکي دواړولره شرعًا جائز دی دخيارشرط لپاره يوڅو لاندني صورتونه دی:-

(۱) که يوعقدکوونکی داووائی چه ماته اختياردی دڅوورڅوچی معلومی يې نکړی يا هميشه دپاره ماته اختياروي، دا خيارشرط په اتفاق سره فاسددی.

---

[1] الهنديه، ج۳ص۱۲۲)

[2] بحرالرئق، ج۶ص

[3] حجة البالغة، ج۲ص۲۷۱ البيوع المنهی عنها).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(۲) که یوعقد کوونکی داووائی چی ماته ددریوورځویادکم ددریو ورځو اختیاردی ، دا خیار شرط په اتفاق سره جائزدی.

(۳) که یوعقد کوونکی ددریوورځونهزیاتومعلوموورځوخیارشرط شرط کړي، مثلایوه میاشت دوه میاشتی خیارشرط وغوړاي، دا دریم صورت اختلافی دی دامام اعظم اوامام شافعی رحمهماالله تعالی په نزد دخیارشرط جائزندی.اودصاحبینو اوامام احمدرحمهم الله تعالی په نزد دخیارشرط دي، خوچه مده معلومه وی. دامام مالک رحمه الله تعالی په نزددومره مدی پوری صحیح دی په کومه کی چه مبیعی لره اختیارول ممکن وی، اودامده داختلاف داشیاء په لحاظ سره مختلفه وی.([1])

{ ب:- عقدکونکو په خیارشرط کی دصلاحیت توضیح }

مسئله:که په بیعه کی خیارشرط خرڅونکی لره وه نومبیعه به په دي صورت کی دخرڅونکی دملک څخه نه خارج کیږي، ځکه چه بیعه هغه وخت پوره کیږی کله چه دجانبینو رضا ورباندی حاصله شی،نودخیارشرط سره به بیعه تامه نوي، همدا وجه ده چه اخستونکي ته په مبیعه کی دتصرف حق نیشته، اوس که اخستونکي په اجازت دخرڅونکی په مبیعی قبضه اوکړه، اوپه مده دخیارشرط کی هغه هلاکه شوه، نوپه اخستونکي به دمبیعی بدله لازم وی، یعنی که مبیعه قیمتی وه نوقیمت به يي ورکوی ، اوکه مثلی وه نو مثل به يي ورکوی، اوکه خیار شرط اخستونکي لره وه نو مبیعه به دخرڅونکی دملک څخه اوځی، پس که دغه داخستو نکي په قبضه وه او هلاکه شوه ، نو په مقابله دروپی کی به هلاکه کیږه.([2])

مسئله:-که عقدکونکو کی کوم یونفر لپاره خیارشرط وه،که دغه نفر بیعه

---

[1] هدایه مع الزیادة ج۳ص۳۴).

[2] مختصرالقدوري صـ۹۱)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

نافذه کړه نو بيعه به نافذه اوتکميله شي،اګرچه بل ملګری ترينه
نوی،ليکن که دبل په عدم موجودګی کی نی بيعه فسخ(رنګه)کړه،نودهلر
(رحمهما الله تعالی) په نزدبه بيعه فسخ نوي ترڅوچه بل عاقدته په مده دخيار شرط
کی ددي فسخ دبيعی خبرورنکړي شي، اوفتوی هم پدی قول باندی ده.(۱)

{ج:- دخياررؤيت توضيح}

مسئله:- خيارشرط:- پس دنالیدلی شوي شئ اخستل جائز دی،اودليدلو
پس اخستونکي مختاردی که دغه شئ اخلی اوکه يي نه اخلی،اګرچه دليدلو
نه وړاندی راضی شوی هم وي دائمه ثلاثه ؤپه نزد باندی،البته دامام شافعی
رحمه الله تعالی په قول جديدکی دنالیدلی شوي شئ په اخستولو سره عقد بيع
باطل دی يعنی عقد نه صحيح کيږی ، اوبل طرفته خرڅونکی ته دنالیدلی
شئ په خرڅولوکی خيار رؤيت نيشته،مثلا چی چاته په وراثت کی څه شی
پاتی شوی وه،اوده دغه نالیدلی شئ په چاخرڅ کړو، نوبيا دليدلونه پس ده
ته دماتولو دبيعی اختيارنيشته. اوامام اعظم رحمه الله تعالی عليه هم دی قول
ته رجوع کړيدی.(۲)

مسئله:- دليدو په سلسه کی دټولی مبيعی ليدل ضروری ندی، بلکه دومره
حصه ليدل هم کافی دی په کومی سره چه دمبيعی حال معلوم شی،نودکيلی
وزينی شئ دډيری ظاهری سطح لره ليدل، دنغښتی جامی (کپړی)ظاهرلره
ليدل، دوينځی ياغلام مخ لره ليدل، دسورلئی(آس) خراوقچر وغيره مخ
اوشاته دوړاه حصی لره ليدل کفايت کوي، نوپه دغه مخکنيو ليدلو سره به
يي خيارروٴيت يي ختميږی، ځکه چه دبعضی مبيعی ليدل ګويا دټولی مبعی
ليدل دی،البته که په ډيری دنه ناقصه غله رابنکاره شوه،البته دواپس کولی

---

(۱) مختصر القدوری صـــ۹۲)

(۲) مختصرالقدوری صـــ۹۲).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

شی خودخیاررؤیت په وجه نه، بلکه دخیارعیب په وجه سره، پس ده کومو شیانوپه افرادوکی چی تفاوت وی په دغو کی به هله ساقط وی چی ټوله مکمله یې اووینی. (۱)

{ د:- مبیعی لره وکیل اویا دقاصد لیدلوحکم }

مسئله:-دامام اعظم رحمه الله تعالی په نزد داخستونکي وکیل مبیعی لره لیدل داسی دي لکه چی موکل پخپله دغه مبیعه لیدلي وي، چی اوس یې اخستو نکي یعنی موکل دغه شئ لره دلیدونه پسدخیارروایت په لحظ سره نه شی واپس کولی، هان که څه عیب پکی رامعلوم شو نواوس یې واپس کولی شی، ولی چی د خیاررؤیت په ساقط کیدلو سره خیارعیب نه ساقط ګیږي. که داخستونکي قاصد(استازي)مبیعی لره ولیدل، نودده لیدل داخستونکي دلیدلو پشان ندی یعنی اخستونکي ئی دلیدونه پس واپس کولیشی، البته د صاحبینواوائمه ثلاثه په نزدوکیل اوقاصددواړه په عدم اسقاط دخیاررؤیت د موکل (مشتری)په سلسله کی برابردی یعنی خیاررؤیت یې ساقط ندي.(۲)

{ ه:- درانده دبیعی حکم }

مسئله:- درانده اخستل خرڅول صحیح دی، اګرچه دغه مادرزاده روند نوي، ځکه چه دبیناو پشان دغه هم مکلف ده، او دخریدفروش ته محتاج دی ،دامام شافعی رحمه الله تعالی په نزدد مادر زاده رونده اخستل خرڅول اصلاجائز ندي. بیاکه ده مبعی لره په لاسو مسحه کولوسره اولیدله، یائی بوئی کړه، او یائی وځکله، نو پدی سره ورته دمبیعی حال معلوم شو، نودده خیاررؤیت به پدی سره ساقط شی، اوکوم شیان چی په لاسووهلو، بوئی کولو، اوځکلو سره ورته حال دمبیعی نه معلومیدلو،نوپدی صورت کی به

---

۱ هدایه، ج۳ص۴۱).

۲ هدایه ج۳ص۴۲).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دمبیعی داوصافو په ذکر کولو دسره به نی خیارِرؤیت ساقط شی، او که دوصف بیانولونه پس نابینا بیناشو، نوده ته به خیارِرؤیت (لیدل) حاصل نوي، ځکه چه عقددبنه ورندی تمام شویدی ، اوکه یوبینا سړی څه شی نالیدلی واخستولو، اوبیادغه نابیناشو، نوده اختیاربه بیان داوصافو طرفته ورمنتقل کولي شی. (۱)

{ و:- دخیارعیب توضیح }

مسئله:- خیانت اوعیب پټول په مبیعه کی حرام دی،لکه حدیث شریف راغلی دی: چاچه مبیعه خرڅه کړه عیب نی ورته بیان نکړوهمیشه دالله تعالی په غضب کی وي یاهمیشه ملائکی ورباندی لعنت وائی. (۲)

مسئله:- کچیری یوسړیوشئ خرید کړی اوبیائی مارکټ ته یوسی هلته په دی کی کوم عیب قدیم چی موجودوه هغه ظاهرشو، او اخستونکي پدی عیب باندی پوهه نه وه ،چه کله ئي مارکیټ ته بی یوړو اوتجارووړته وویل چه داشئ خوخراب ده، بیاهلته حکومت یابلی ادارئی هغه شئ خپلی قبضی کی راوستولو اوضبط ئی کړو، نوکه په دی صورت دووشاهدانو پدی شاهدئ وکړه چه داغه عیب پخواني ده، د اخستونکي سره دغه غیب نوی نه دي پیداء شوي ،خرڅو نکی پدی اقراروکړوچه صحیح ده غه عیب زما په لاس کی دپخوانی نه پدی شئ کی موجودوه، نوپدی دواړو صورت ئی اخستونکي حق درجوع د نقصان علی البائع لری، پدی معنی چه مثلا اخستو نکي د خرڅونکی څخه دغه شئ یومن مثلاپه لس زره(۱۰۰۰۰) واخستو کوم وخت چه دپدی شئ کی عیب ظاهر شو نوپه اته زره (۸۰۰۰) یومن مثلا خرڅیده، نو اخستونکي اوس پدی خرڅونکی داحق

---

[۱] الفتاوی الشامیة ج۴ صـــ۷۶) مع الزیادة).

[۲] التسهیل الضروری المسائل القدوری ،صـــ۱۶۷).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

لری چی صرف دوزره (۲۰۰۰) روپی دده خرڅونکی څخه واپس واخلی. لکه صاحب الهدایه فرمائی (ومن اشتری عبدا فاعتقه امات عنده لم اطلع علی عیب رجع بنقصانه اه. ([1])

مسئله:- که یو خرڅونکی په اخستونکی یوشئ خرڅ کړیوه، او اخستونکی ته ئی ووئل وه چه پدی کی که څومره عیبونه وی سره دهغه عیبونو بی په ستا باندي خرڅوم، اوهمچنان که بیاوروسته هم کوم عیب پکی ظاهرشو، نوزه بیاهم بیعه نه فسخه کوم ، اوکه اخستونکی پدی صورت کی دعواد فسخه کیدلو دبیعی وکړه، نوکه خرڅونکی سره دوه شاهدان وی چه سره دعیبونومی په ستا باندي قبوله کړیدی، نو اخستونکی حق دفسخه دبیعی نلري ،اوکه خرڅونکی شاهدان نه لری نو بیا به خرڅونکی ورته قسم وکړی، نوبیعه به صحیح شی. علامه حصفکی رحمه الله تعالی فرمائی ویصح البیع بشرط البراءة من کل عیب وان لم یسم ویدخل فیه الموجود والحادث بعد العقد قبل القبض فلایردبعیب. ([2])

{ ز:- دعیب نه دصلح شرعی طریقه }

مسئله:-صلح داعیب نه جائزده یعنی که مبیعه عیب ناکه ثابته شوه، اخستونکی ته هغه عیب معلوم شوه کوم چه پخوانی عیب ؤو، اوخرڅونکی نه ؤو بیان کړی شوی، نوبیاوروسته صلح بی سره وکړه اودمبیعی بی قیمت څه اندازه ورته کم کړو، اویایوبل شئ بی په عوض دهغه کی ورکړو، نودا صلحه جائزه ده، البته که اخستونکی صلحه ورکړه چه مبیعه دی واپس کړه زه به څه اندازه روپی درکړم دا صلحه جائزندی، ځکه چی دغه درشوت څخه سوا بله وجه نلري. علامه حصفکی رحمه الله تعالی فرمائي

---

[1] الهدایه، ج۳ص۳۷).

[2] الفتاوی الشامیة، ج۴ص۱۰۶).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

وجدالمشترى بمشترى عيبا واراد الردبه فاصطلحا على ان يدفع البائع الدارهم الى المشترى ولايرد عليه جاز وعكسه .. الخ .(۱)

مسئله:- كوم سړى چه په مبيعه كى عيب اومومئى ده ته اختيارشته، چه كه تولې روپى ورکوى او هغه شئ اخلي، او كه هغه شئ ورته واپس كوى، خكه چى دمطلق عقد مقتضى داده چى بائد مبيعه دعيب نه پاكه وى، البته دخيار عيب په څوشرطونو پورى مقيددى، اول داچى عيب به دخرڅونكى سره پيداء شوى وى، داخستونكي سره به نوي پيداشوي. دوهم داچى اخستونكي ته داخستو په وخت به داعيب معلوم نوي. دريم داچى دقبضى په وخت هم ده ته عيب معلوم نه وه.څلورم داچى اخستونكي به بلامشقته په ازاله (ليرى) كولودعيب باندى قادرنوي . پنځم داچى ددى عيب نه ياد تولو عيبونه به دبرأت كولو شرط نوى شوي. شپږم داچى دفسخ كيدونه وراندى به دغه عيب زوال پذير نوي. (۲)

{ ح:- مالک داجازت نه بغيرديوشئ دبيعى حكم }

مسئله:-كه يونفردبل چا شئ لره دده داجازت نه بغير خرڅ كړو، نومالک يې ته اختيارشته كه غواړى بيعه دى نافذه كړى، اوكه غواړى بيعه دفسخ كړى ، اومالک دمبيعى دنافذه كولونه مخكى اخستونكي لره په مبيعه كى د تصرف كولوحق نشته،خواه ده مبيعه قبضه كړى وى اوكه نوي كړى،اوكه مالک دده په قيمت قبضه كړى وه ، نودغه داجازت دبيعى دليل دى، ليكن مالک ته دنافذكولواختيارهغه وخت دى كله چه څلور شيان پخپل حال باقى پاتى وي، يعنى يوخرڅونكى، دوهم اخستونكي، دريم مالک،څلورم مبيعه، پدى صورت كى وروسته اجازت په منزله دوكالت سابقه وى،اوخرڅونكى

---

۱ الفتاوى الشامية ج۳ص۱۰۹).

۲ هدايه، ج۳صـــ۴۴ مع الزيادة.

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

به درکیل په درجه کی وی. ([1])

مسئله:- که یو سړی په ماشوم اوغلام باندی کوم شی خرڅ کړو،اویائی یو شی ترینه واخستولو،نوپدی صورت کی خیاروالی دماشوم اوغلام ته دی،یعنی که والی ئی خوښه وي نو بیعه دنافذه کړی کچیری مصلحت پکی وی، او که مصلحت پکی داوه چی بیعه فسخه کړی نوبیعه دفسخه کړي، خکه چه ماشوم اوغلام اومجنون په شریعت غراءد تصرفات څخه ممنوع دی. ([2])

{ ط:مبیعی کی دتصرف نه وروسته په پخوانی عیب باندی دخبرکیدلوحکم }

مسئله:- که یونفر اخستلی رخت (کپړه) قطع کړه، یائی وګنډله ،اویائی رنګ کړه ،اویا یې ستوان په غوړوکی اولړل، بیا وروسته په پخوانی عیب باندی خبرشو، نواخستونکي په اندازه دنقصان دعیب روپی دخرڅونکی نه واپس کولیشی، البته مبیعه نه شی واپس کولی، اګرچه خرڅونکی اواخستو نکي دواړه په واپس کولود مبیعی باندی راضی هم وي،خکه دلته داخستو نکي د طرفنه په اصل دمبیعه کی زیاتی شویدی، اوس که ددی زیاتی سره واپس شوه نوشبه دربوا (سودا) لازمیږی،اوبغیر دزیادت نه واپس کول خو ممکن نه دي،خکه چه د غه زیادت چی په مبیعه کی راغلی ده دغه جداکیدای نه شی. فامتنع الرداصلا. ([3])

{ي- مبیعه کی دننه دزیاتی ددوه قسمونه توضیح}

مسئله:- په مبیعه کی دننه دزیاتی دوه قسمونه دی: منفصله اومتصله؛ بیاد متصله دوه قسمونه لري یو هغه چه داصل نه پکی پیداوی لکه لویدل، څربیدل،اوحسن جمال اوداس نور، داقسم زیاتی په صحیح قول باندی

---

[1] الفقه الحنفی وادلته ج۲صـــ۳۵).

[2] التسهیل الضروری لمسائل القدوری،صـــ۱۹۵)

[3] هدایه ،ج۳صـــ۴۶).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دواپس کولو دمبیعی نه مانع نوي، ځکه دازیاتی تابع محض وی
قسم زیاتی هغه ده چه داصل نه پیدا نوي لکه رنځ (کیږه) لره
ورکول،یادی رنځ لره ګندل، یاسوانو په غوږوکی لږل، یا به (ممکه
عمارت (آبادی) جوړول،اوداسی نور پس ددی قسم زیاتی حکم دادی
دا قسم زیاتی به په اتفاق سره دواپس کولودمبیعی نه مانع وي.

همداراز دزیادت منفصله هم دوه قسمونه دی یو هغه کوم چه داصل نه پیدا
وی،مثلابعضی خاروی وه چه بچئی ترینه پیداشول،یاترینه پنی(شودی)حاصل
شوي،اویائی په بدان وړی راغلی،یاخو درخته(اونه)وه میوه ئی اونیوه،داقسم
زیاتی دواپس کولودمبیعی نه مانع وي،ځکه چه پدی قسم زیاتی کی په مقصد
دي طوردفسخی دبیعی څه خاص وجه نیشته ځکه چه پدی باندی عقددبیعی
وارد شوی ندي،همدارنګه دی لره په تابع جوړولوسره هم فسخ کول دعقد
دبیعی هم نه شی کولی،ځکه چی طبعیت یي په انفصال سره ختم شویدی،او
دزیاتی نه بغیرتنهاپه اصل کی فسخ خو ممکن ندی،ځکه چی بیا لدینه سودا
جوړیږي.ځکه چه اخستونکي کله مبیعه واپس کوی او روپی اخلی نودسره
به داضافه بغیردعوض نه پاتي شی، دوهم دا چی کوم داصل نه پیدانوي لکه
کسب دغلام اوذاتی آمدنی اوګټه،داقسم زیاتی واپس کولو دمبیعی نه مانع
ندي،ځکه چه کسب په هیڅ حالت کی هم مال ندی، ځکه چه دادمنافعونه
حاصلیږی او منافع جزء دعین ندي، پس پدی صورت کی عقد بلازیاتی به
په اصل دمبیعه کی فسخه وی، اوداخستونکي سره به د اضافه شئ مفت
پاتی شی،کسب چونکه جزء دمبیعی ندي نوپدی وجه سره به دی مالک په
عوض درورپیونه شی، بلکه مالک به بالضمان شی دغه ربحه (ګټه) روا ده.
لماروی ان النبی صلي الله علیه وسلم قضی ان الخراج بالضمان (کمافی الصحیحین)[1]

---

[1] ملخص الفتاوی الهندیه، ج۳صـــ۷۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ ک:- مبیعی کی دعیب معلومید لوطریقه }

مسئله:- که یوچاداسی شئ واخستو چه عیب (خرابئی) ئی دماتولونه بغیر نه معلومیده ،لکه هګی خربوزه، خټکی بادرنګ اوغوزان اوداس نور، نو بیائی دغه شیان مات کړل نوخراب ئی اومونډل، نواوس به دیته لیدلی شی چه آیادغه خرابی دومره زیاته ده چی دغه شیان قابل دنفعی نه دي، مثلا هګی دننه سخااوخته، اوخټکی اوبادرنګ بالکل تریخه وو، اوغوزان ددننه نه بالکل اوچ او خالی وو،نو پدی صورت کی به بیعه باطله وي،اواخستو نکي به دخرڅونکی نه پوره روپی واپس واخلی،ولی چی دغه شئ مال ندی، اومال خوهغه وي چی دکوم نه فی الحال یا په آینده کی ترینه نفع اخستلی شي. کچیري دغه شیان خراب وه خونفع ترینه اخستلی شي، نوپدي دوهم صورت کی اخستونکي مبیعی لره نه شی واپس کولی، مګردا کچیري خرڅونکی په واپس اخستو دغی شیان راضی وه، ځکه چه ده دهغه حق وه چه پخپله یې ساقط کړیدی.(زیلعی)ځکه چه دمبیعه ماتول یونوي عیب دی،کوم چه دفسادپه عیب باندی ورزیاتی دي اوپدی واپس کولوسره دخرڅونکی نقصان دی، البته اخستونکي نقصان دعیب ترینه اخستی شی چه ترممکنه حده پوری دجانبینوضرر لیری شی. خلافًا للشافعیّ و. موڑ وایو چه داداسی ده لکه مبیعه چه مثلا څه رخت(توکر)وي،اواخستو نکي دغه رخت پریکړي وی اوبیائی ورسته په عیب باندی خبرشوی وی،چه په دی صورت کی اخستونکي په اجماع سره رجوع بالنقصان کولی شي،نو پدی صورت کی هم رجوع بالنقصان کولی شي.وان حصل التسلیط من البائع... الخ.([1])

مسئله:- که دمبیعی څه حصه خرابه اومونډلی شي،خودا په کم مقداربانډی وي، مثلاپه سلو غوزانوکی یواودوه غوزان خراب وو، پس شمس الائمة

---

[1] الفتاوی العالمگریه ،ج۳صـــ ۸٦۴).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

سرخسی رحمه الله تعالی فرمایي چی دوه دري غواڼن خراب او نیمبوی نواستحسانابه بیعه جائزه وي، داځکه چی په مبیعه کی داسی معمولی خرابی په عام طورباندی بیخي کمه وي، لکه مثلا په لس منه غله کی دوه چتاکی خاورې راوځی، اوکه دمبیعی اکثره حصه خرابه وه،نودامام صاحب په نزد بیعه جائزنوی ،اواخستونکي به پوره روپی واپس ترینه اخلي، ځکه چی پدی صورت کی ئی مال اوغیر مال جمع کړیدی، اوخرڅ کړیدی، داجائز ندي په النهرالفائق وغیره کی لیکلی دی چه دصاحبینو په نزد ددومره حصی بیعه جائزده څومره چه بنه وي،اوځومره حصه چه خرابه اوخیږی ددی خرابي حصه بیعه صحیح ندی نورجوع بالنقصان کولی شي یعنی هغه روپی په واپس ترینه اخلی چی مخکی یې ورکړیدی په نهایه اوکفایه کی لیکلی دی چه دصاحبینو قول اصح دی. (۱)

﴿ لسم بحث: په مسائلو متفرقوباندی تبصیره ﴾

{ الف:- دمسجد شریف زیاتی سامان خرڅولو حکم }

مسئله:- دمسجد شریف زیاتی سامان خرڅول هلته جائزدي چه دمسجد شریف په کارکی نه راځی، اوقیمت به ئی په مسجد شریف کی بیرته لګولی شی، البته کچیري داسی سامان وی چه دهغی تعلق دمسجد شریف آبادی سره وي لکه دروازی کاډر اوداس نور، اومسجد شریف هم آباد وي مونځ پکی آداکیږی، نوددداسی مسجد شریف سامان بل ته منتقل کول روا نه دي. اوکچیري مسجد شریف آباد نوي اومونځونه هم پکی نه کیږی اوخلق هم لدی ځایه تللی وي نو دمسلمانانو په اتفاق سره دمسجد شریف څخه دروازی اوداسی نورسامان دا دي مسجد شریف ړنګولوپه صورت کی بل مسجد شریف ته انتقال کیدای شی، البته دمسجد شریف بل قسم

---

[1] هدایه، ج۳صـــ ۴۸) مع الزیادة).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

سامان هغه دی چه بیخی دمسجد شریف په آبادی کی داخل نوی لکه چټائی اوداسی نورآلات دمسجد شریف، نوکچیري دغه ته په دي مسجد شریف کی ضرورت نوی اوزیات وي، نوبیا په بل مسجد شریف کی لی استعمال جائز دي پدی شرط چه دوقف کونکی اجازت به هم وي (۱)

{ ب:- حق تلفی په صورت کی رشوت ورکول حکم }

مسئله:- ددفع مضرت دپاره رشوت ورکول جائز دی،احکام القرآن ابوبکر رازی یعنی چه درشوت نه ورکولوپه صورت کی حق تلفی مظلومیت مظنون وی ،نورشوت ورکول حرام ندی هان دبل دحق تلفی په صورت کی به گنهگاروی، (۲)

{ ج:- دقبضی نه وړاندی د شیانو خرڅولوحکم }

مسئله:- که یوچاداسی شئ واخستولو چی نقل کول اوورل یې کیدلی شو، نودقبضی نه وړاندی دادی شیانو منقولو بیعه په اتفاق سره جائزه نه ده، ځکه چه په حدیث کی ددممانعت راغلی دي.(ابوداود اوائمه سته)او همدرنګه دامام محمد امام زفراوامام مالک رحمهم الله تعالی علیه په نزدیه غیرمنقولو شیانو یعنی دزمکی بیعه هم جائزه نه ده، ځکه چه حدیث شریف کی دنهی مطلق ذکرشوي دی، اودشیخینو رحمهما الله تعالی په نزدجائزده، ځکه چه په حدیث کی دنهی علت دادی چه دهلاکت دمبیعی په صورت کی دفسخی دبیعی احتمال شته، اودا په غیرمنقولو شیانوکی لکه زمکی نو په دی صورت کی دفسخی دبیعی احتمال نادردي.(۳)

---

۱ ردالمحتار ج۳ص۴۷).
۲ ردالمحتار، ج۲ص۳۰۳)
۳ مختصرالقدوری،ص۹۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ د:- دقرض خر خول ناروا دی }

مسئله:- دقرض خرخول ناروا دی: پس ددی صورت کله داسی کیږی چه مثلا دزید څه رقم یعنی پنځه سوه روپئی عمروسره پاتی وي، هغه ئی په نکر باندی په پنځوسوه روپئی یاپه کمو روپیو باندی خرخ کړي،نودادواړه صورتونه ناروادی، پس رومبی صورت کی سر په سر خرخول یعنی پنځه سوه په پنځوسوه روپئی خرخول څکه ناروادي چی دارویی په رویی خرخول دي، چی دفقهی په اصطلاح کی ورته بیع صرف ویلی شی. دامعامله لاس په لاس کول شرعًا ضروری وي،که یوطرف نه نقدی اوبل طرفته ته قرض وی لکه پدی صورت کی نولدینه دسودا صورت جوړیږی، چه دینه ربوا بالنسیة وئیل شی، دوهم صورت څکه ناجائزدی چه له یوخوا مکمل پنځه سوه روپئی ورته خودلی شوی دي، اوله بله خوا کمی روپئی ورته مقرری شویدی،چه په روپوسره یې خرخه کړی اوپه هغی کی کمی بیشی وی نودا هم دسودا صورت دی چه دفقهی په اصطلاح کی ورته ربواالفضل وائی، او همداراز غتی رویی په کوچنی رویی دماتولو اوبدلولو په صورت کی کمی زیاتی کول هم دسودا صورت دي، یعنی ربوالفضل دی چی ناروادي. (۱)

{ ه:- اقاله (رنګول دبیعی) حکم }

مسئله:- اقاله (رنګول دبیعی) په مثل درویی اول جائزه بلکه مستحبه ده، څکه چه دنبی کریم صلي الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی: چه څوک خپیمانه ته دده دبیعی اقاله اوکړی حق تعالی به په قیامت کی دده لغرش معاف کړی.(ابن ماجه اورده البغوی فی مصابیحه). په شرع کی اقاله بیعی لره ددی دثبوت نه پس زائل اوماتولو ته وائی،که په اقاله کی یې درویی اولونه دزیاتی رویی یا کم رویی شرط کړي، اومبیعه په خپل حال باقی وه،

---

[۱] جدید فقهی مسائل ج۱ص۲۸۳).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

اوبدی کی څه عیب هم لدی پیدا شوی، یاپي په اقاله کی د بل حق
شرط وگرو، مثلا یوشی یي په دراهمو اخیستی وه په اقاله کی لی دنانو شرط
گرل، نوبدی پورتنیو صورتونو کی دامام صاحب په نزدیه اقاله په اولونو
روپوباندی صحیح وي ،اوشرط به یي لغوه وي. اودصاحبینو نزدیه اقاله په
اول صورت او دریم صورت کی دشرط مطابق وي پدی شرط چه اقاله
دقبض نه وروسته وه، اواقاله به د نوي بیعی په حکم کی وی، او په دوهم
صورت کی دطرفینوپه نزدیه اقاله په روپی اولوسره وی.اودامام ابویوسف
رحمه الله تعالی په نزدیه دشرط مطابق وي.([1])

{ و:- داقاله دصورتونو توضیح }

مسئله:- که اقاله دقبض نه وروسته، اوپه صریح لفظ داقالی سره وشوه،نو
دا معاملي کونکونه علاوه ددریم نفرپه حق کی به په اجماع د علماؤ سره د
نوي بیعی په حکم کی وي،لیکن پخپله دمعاملي کونکو په حق کی به دبیعی
په حکم کی وي اوکه د فسخ؟ پس پدی کی اختلاف دی امام صاحب په
نزد اقاله د لاوازمو دعقد (په هغه امورو کی کوم چه دنفس عقدپه ذریعه
ثابتیږی) په صورت کی به دغه اقاله دفسخی په حکم کی وي، او کچیري
په څه وجه سره دانه شوکیدای یعنی مثلاً بیزه وه دقبض نه وروسته ئی بچی
پیدا شو، یاپه غیرمقائضه کی مبیعه هلاکه شی، چه پدی صورتونوکی فسخ
دبیعی متعذره (سخته) دي نواقاله به باطله شی، اوکچیري مخکی دقبض نه
وه نودمعاملي کونکو اوغیرمعاملي کونکو تولو په حق کی به اقاله دفسخ په
حکم کی وي، پدی شرط چي دزمکی بیعه نوي. دامام ابویوسف امام مالک
اودامام شافعي رحمهم الله تعالی په قول قدیم کی اقاله دمعاملي کونکو په
حق کی بیعه کپدل ئی متعذر شي، په دی شان سره چی اقاله په اشیائی

---

[1] هدایه، ج۳ص۷۱

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

منقوله کی مخکی دقبض نه وه، یاپه بیعه مقائضه کی بودعوضین دهلاکیدو نه وروسته وی ، نو اقاله به دفسخ په حکم کی وی، اوکه داهم متعذر شی په دی شان سره چی په اشیاءو منقوله کی دقبضی نه مخکی اقاله په روپی اول سره چی دازیاتو یا کمو روپیو په عوض کی وی،یاد بل جنس په عوض کی وي، اویاغیرمقائضه کی داسبابودهلاکیدونه وروسته وی ،نواقاله به باطله شي. دامام محمدامام زفراوامام شافعی رحمهم الله تعالی په قول جدیدکی اقاله فسخ دبیعه وي که په روپی اول سره وي، یاددینه په کمو روپیو سره وي، اوکه فسخ کیدل یي متعذر وو نو بیابه اقاله په حکم کی د بیعی وی،ا اوکچیري داهم نه شوکیدلی نو اقاله به باطله شی. اوهمداراز درویپو هلاک کیدل دصحت دااقالی نه مانع ندی بلکه اقاله جائزده ،البته دمبیعه هلاک کیدل مانع دصحت دااقالی دي، ځکه چه فسخه دبیعی قیام دبیعی غواړی، اوبیعه خو په مبیعی پوری قائمه وی، نه چی په روپی پوری، اوکچیري دبیعه څه حصه هلاکه شوه نوپه باقی کی به اقاله جائزده ځکه چه په باقی کی تر اوسه پوري بیعه قائمه ده.([1])

{ ز:- تول او پیمانه کی کمئی کولوسزا }

مسئله:پوره پیمانه اوتول کول تجارو لپاره لازمي دي،ځکه چه له یوی خوا په پیمانه اوتول کی کمئی اسلام ممنوع کړیدی، بله خوادا چی په تولنه کی اعتماد اوباورختموی، او تجارت ته تاوان رسوئ ،الله تعالی فرمائی،خرابی، (هلاکت)دی دهغوکمو ورکوونکو لپاره،چه هرکله یو شئ په تول او پیمانه اخلی نو پوره ئی اخلی،اوچا ته ئی په تول اوپیمانه ورکوی نوکم ئی ورکوي. آیا دغه خلق داګمان(فکر)نکوي چی دیوی لوی درندی ورځی لپاره به دوی راپورته کړی شی.([2])

---

[1] ملخص هدایه،ج۳ص۷۲

[2] (المطففین سورة، ص ۱ــــ۲پاره۳۰).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ح : دکفار سره معامله}

مسئله:- دکفاروسره معاملات دخرید وفروش جائزدي، البته حربی کافرچه اسلامی ملک باندی حمله و کړی ،اویا هغه کفارچه عهل لخان ته مسلمان راځي، نوددوسی کفاروسره خرید وفروش کول جائزلدي. (۱)

{ ط:- د پگړی شرعی حکم }

مسئله:- په دغه زمانه دا روائج دی چه مکان یا دوکان څوک په کرایه ورکوي نومخکی ترینه پگړی یعنی څه رقم (روپئ) واخلی چه نه یي بیا په کرایه ورحساب وي، او نه یي بیا واپس ورکوي ، پس دغه رقم مالک دمکان اومالک ددوکان شي،نودغه صورت یعنی رقم (روپئ) اخستل حرام دی ،او ورکونکی یي هم د رشوت دگناه مرتکب ده ،اوهمدارنگه دا هم روائج دی، چه کله مالک غواړی چه کرایه دارڅخه مکان یا دوکان خالی کړی، نوکرایه دار دا مالک څخه پگړی یعنی څه رقم (روپئ) اخلی ،پس دغه رقم (روپئ) اخستل هم حرام اوظلم دی، یو حدیث شریف ده مَلعون مَنْ ضَار مؤمنًا اَوْمَکَربه مشکوة ج۲ص۵۲۱، البته که د پگړی یعني څه روپئ په میاشتنی کرایه کی ورحساب وي، نوبیا دصورت جائزده .(۲)

{ ي:- دبیعی سلم توضیح }

مسئله:- دبیعی سلم توضیح:- پس دفقهی په اصطلاح کی بیعه سلم بیع الاجل بالعاجل ته وائی، دآجل نه مرادمسلم فیه دی، اودعاجل نه مرادرأس المال دی، اوصاحب مال ته رب السلم، اوعاقد آخر ته مسلم الیه وایي، اومبیعی ته مسلم فیه وایي، اوروپی ته یي راس المال وائی، پس په کومو اشیاونوکی بیعه سلم جائزدی اوپکوموکی جائزنه دی؟ نوددی بیعی سلم

---

[۱] (احسن الفتاوی ص۵۳۴ ج۶)

[۲] (فتاوی حقانیه ص۲۲۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

قاعده کلیه داده چی دکومو شیانو صفت ضبط کول ممکن وی، مثلاً دغه شیانو عمده یاناقص کیدل، اوددوی مقدارمعلومول هم ممکن وی،لکه کیلی، وزنی، عددی متقارب المقدار، لکه غلو، دانو، غواذن، هګۍ، یاهغه کچه بنختی، اوداسی نوریعنی په هریوداسی شیانوکی بیعه سلم صحیح دی اوپه کوموشیانوکی چه داخبره ممکنه نوی په دغوشیانوکی بیعه سلم صحیح ندی، پس په حیواناتواوددوي په اطرافوکی بیعه سلم صحیح ندی،اوهملرار په څرمنوکی په شمارلوسره او په لرګیواوګیاه وکی په ګیډوسره بیعه سلم صحیح ندی،اوپه جواهرتو او ملغلروکی هم بیعه سلم صحیح ندی.(۱)

{ ک:- دزکوةکښی به دموجوده بنار قیمت معتبروی نه داخستلوقیمت}

مسئله:-که یوتجار په یوبنارکښی یو شئ مثلا په یوسلوپنځوس افغانی واخستلو اوپه بل بنارکښی په دوسوه پنځوس افغانی خرڅوی نودزکاة په مسئله کښی به دهغه بنارقیمت معتبر وی په کوم کښی چه ده مال موجود وی مثلاً چه په کوم بنارکښی قیمت دوسوه پنځوس افغانی وی نوزکوة به ددوسوه پنځوس افغانی نه ورکوی ،ویقوم فی البلدالذی المال فیه (۲)که یو چا دبل چا په زمکه کښی دوکان جوړکړواوپه دوکان کښی دیکوراو المری جوړی کړی په دی دیکوراوالمریووغیره قیمت کی زکوة نشته البته په پدی دوکان کی چه کوم سامان خرڅوی په هغوی کی زکوة ورکول فرض دی،ولافی البدن واثاث المنزل ودورالسکنیٰ ونحوها... وکذلک آلات المتحرفین(۳)

{ ل:- په تجارتی کرایه اوذاتی استعمال والا موټروکښی دزکوة حکم }

مسئله:- کوم کس چه دموټرو تاجروی اودهغي اخستلوخرڅولوکاربار

---

۱ ملخصا مختصرالقدوری،صـــ۱۰۰)

۲ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار،ج۲ص۲۴)

۳ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار،ج۲ص۸)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کړی هغه به دموټروقیمت نه باقاعده زکوة ورکوی، لکونها من اموال التجارة وسلعها، الزکاة واجبة فی عروض التجارة کائنات ماکانت اذابلغت قیمتها نصابا،(۱) اوکوم کس چه لارۍ واخلی په کرایه اوپه اجوت نی چلوی نوهغه به دمنافعو نه زکوة ورکوی او دلارئي په قیمت کښی به زکوة واجب نه وی،لانه استغلال کبیوت الکراء کمافی مجمع البرکات رجل اشتری اعیانا منقولة یواجرها میاومة ومشاهرة ومسانهة ویحصل له من المنقولة مال عظیم لایوجب الزکاة فیها لانها لیست بمال التجارة الخ (۲) او کوم موټر وغیره چه ده ذاتیاستعمال لپاره وی په هغه قیمت کښی زکوة نشته ،ولواشتری قدوراً من الصفریمسکهااویواجرهالاتجب فیها الزکاة (۳) اوپه قسطونو باندی داخستلو په صورت کښی به دغیراده شوه اقساط اندزه دقرض په حکم کښی وی یعنی دا مقداربه دنصاب نه کم کړی او دباقی روپیو زکوة به اداکوی. ومن کان علیه دین یحیط بماله فلازکاة علیه وان کان ماله اکثر من دینه زکی الفاضل اذابلغ نصابا.(۴)

{ م:- زرضمانت،دکرایه کورونو،اودوکانونوکښې دزکوة حکم }

مسئله:-که زید دبکرنه په کرایه باندی دکان واخستو اوبکرورته دکان ورکړ،ولیکن دکرایئ نه علاوه اته زره روپئ ضمانت هم طالب کړی،البته د دوکان پریخودلوپه صورت کښی به دارقم واپس کولی شی ،نودا اته زره روپئ دزید دملک نه وتلی نه دی بلکه امانت یاقرض دی اوداجاری رقم نه دی،نودوصولئ نه پس به زید ددی رقم دټولو تیرشوکلونو زکوة اداکوی.

---

۱ (فتاوی عالمگیریة، ج۱ص۱۷۹)

۲ (مجموعة الفتاوی للعلامة عبدالحی اللکهنوی ، ج۱ص۳۶۳)

۳ (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیه ، ج۱ص۲۵۱)

۴ (هدایة علی صدرفتح القدیر، ج۲ص۱۱۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

قال ابن عابدين :(قوله ويعتبرمامضى من الحول) اى فى الدين المتوسط لان الخلاف فيه وامام القوى فلاخلاف فيه لمافى المحيط من انه تجب الذكاة فيه بحول الاصل لكن لايلزمه الاداء حتى يقبض منه اربعين درهما واما المتوسط ففيه رويتان ا لخ (۱)

اودا كورونواودوكانونوپه قيمت كښې زكوة واجب نه دي ،البته دهغې دكرايه نه به قاعده زكوةوركولې شى.كذافى خزانة الروايات(لوشترى الرجل داراوعبداللتجارة ثم آجره يخرج من ان يكون للتجارة ولو اشترى قدوراً من الصفر يمسكها ويواجرها لايجب فيها الزكاة كمافى بيوت الغلة كذافى فتاوى قاضى خان،(۲)

{ ن:- دغرائزوونو اولرګو كښې دعُشرحكم }

مسئله:- دغرائزوپه ونو (درختو) كښې عُشرواجب نه دى، وفى محيط السرخسى كل شئ يتبع الارض فى البيع بغيرشرط فلاعشرفيه(۳). البته ددې غرائزو ونو(درختو) په ميوه جاتوكښې بعضې وختونوكښې عُشر واجيږى، ومايوجدفى الجبال من العسل والثمارففيه العشر(۴). دغه شان دكومې وني ځانكه چه دنيزې وغيره دپاره پكاريږى نودهغې په تنه كښې عُشرنشته،ليكن په دغه ځانګه كښې عُشرواجب دي،لانه قوئمها كاثمرات، ومنها ان يكون الخارج من الارض مما يقصد بزراعته نماء الارض وتستغمل الارض به عادة فلاعشرفى الحطب،والحشيش والقصب الفارس لان هذه الاشياء لاتستنمى بها ولاتستغمل به عادة لان الارض لاتنمو بهابل تفسدفلم

---

۱ (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار،،ج۲ص۳۹

۲ (مجموعة الفتاوى،ج۱ص۳۶۳)

۳ (كما فى تنقيح الفتاوى الحامدية،ج۱ص۱۰)

۴ (هدايه على صدرفتح القدير،ج۲ص۱۹۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

الذی یقطع فی کل ثلاث ([1]) .

{س:- داجاری مزارعت عاریت اود فصل خرڅولو کښې دعشرحکم }

مسئله:- داجاری په صورت کښې عشر په مستاجر(دهکان) باندې دی، په مؤجر(دزمکی په مالک) باندی نه دي ،اودا مفتی به قول دې، فان امکن اخذالاجرة کاملة یفتی بقوله الامام والافبقوله یلزم علیه من الضرر الواضع الذی لایقول به احد.([2]). اودمزارعت په صورت کښی به مالک اومزارع هربودخپلې خپلې حصې نه عشراداکوی، کله چه تخم دمزارع دطرفه وی، قال الحصکفی :وفی المزارعة ان کان البذرمن رب الارض فعلیه ولومن العامل فعلیهما بالحصة ([3])

اومسلمان ته دعاریت په صورت کښی به په مستعیرباندې وی،قال الحصکفی:وقالا(العشر)علی المستأجر کمستعیرمسلم،وقید بالمسلم لانه لو استعارهاذمی فالعشرعلی المعیر اتفاقا لتفویته حق الفقراء بالاعارة من الکافر کذافی شرح دررالبحار([4])

که فصل دپوخوالی په صورت کښی خرڅ کړی نوعشر به په بائع باندی ړی اوکه دپوخوالی نه مخکښی ئې خرڅ کړی نوعشر په مشتری باندې ړی. ولوباع الزرع ان قبل ادراکه فالعشر علی المشتري ولو بعده فعلی البائع ([5]) والله تعالی اعلم بالصواب.

---

[1] (بدائع الصنائع ،ج۲ص۱۷۸)

[2] (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار،ج۲ص۶۰)

[3] (الدرالمختارمع ردالمحتار،ج۱ص۶۱)

[4] (الدرالمختارمع ردالمحتار،ج۲ص۶۰)

[5] (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار،ج۲ص۶۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿ دریم فصل: دشرکت پرې ندنه ﴾

﴿ اول بحث:د شرکت مشروعه توضیح ﴾

محترمو! دنفس شرکت په مشروعیت باندی کتاب الله اوسنته مبارکه دواړه شاهددی،الله تعالی فرمایی:"فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ" الایة.اوپه یوحدیث شریف کی دی چی رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمایی: يقول الله:- انا ثالث الشريكين مالم يخن احدهما صاحبه فاذاخان خرجت من بينهما.(١) یعنی تعالی فرمائی چه زه دریم دشر کینووم ترڅوچه دوی یوبل سره خیانت ونکړی ،اوکله چه هم یوددوی دخپل ملګری سره خیانت وکړی زه ئی دمابین څخه ووځم،اوهمدارنګه په مشروعیت دشرکت باندی تراوسه پوری تعامل دخلقو جاری دي، اوچاترینه انکارندی کړی، نو اجماع دامت هم ددي شرکت په مشروعیت باندی دلیل دی، اوهمدارنګه دی شرکت جوازعقلاً هم ضروری ده چی دغبی اوذکی فقیراوغنی ټولوضرورتونه ور سره پوره شی، یعنی غبی اوغنی به مال لري خو تجروبه يې نوي ، بل خوا ذکی اوفقیر تجروبه خولري خومال نه لري، پس په داشرکت سره د ټولو ضرورتونه حل او پوره شی. پس شرکت په لغت کی ددوو حصولره داسی خلط کول او یوځای وهل دی چه امتیاز (جلاوالی) ئی باقی پاتی نشی، همدارنګه عقد شرکت هم سبب ده دی خلط دي . اوشرکت په اصطلاح دشرعی کی هغه عقد ته وایی کوم چه په رأس المال اومنفعت دواړوکی واقع وي،اوکچیری شرکت صرف په منفعت کی وی دیته مضاربت وائی، اوکچیری شرکت صرف په رأس المال کی واقع وی دیته بضاعت وائی شرکت پس دشرکت دوه قسمونه دی شرکت املاک یاالملک: دابیاپه دوه قسمه دی یوجبریه ده، اودوهم اختیاریه ده، اوبل قسم شرکت عقود دی:

---

(١)(ردالمحتارهامش الدرالمختار،ج٢ص٣٩) المستدرک ،ج٢صـــ٦١)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دایما په خپل کورکی په څلورقسمه دی یوشرکت مفاوضه ده، دوهم شرکت عنان ده ،دریم شرکت صنائع ده ، او څلورم شرکت وجوه ده ،چه ددی توضیح به ان شاء الله تعالی په مسائل کی وشی.

﴿ دوهم بحث: دشرکت املاک احکام ﴾

محترمو! شرکت املاک دادی چه دوه یازیات کسان په وراثت،خرید، هبه، صدقه، استیلا، اواختلاط اوداسی نورو وجوهاتوپه وجه سره دیومعین شئ مالک شی، چه تمیزئی ممکن وي او که غیرممکن وی.ددی شرکت املاک حکم دادی:چه پدیکی هریو دشر کینونه دبل شریک په حصه کی اجنبی محض دی، پدي معنی چی دهغه بل شریک داجازت نه بغیر څه مضر یعنی نقصاني تصرف پکی نه شي کولي.([1])

﴿ دریم بحث: دشرکت مفاوضه احکام ﴾

{ الف:- شرکت مفاوضه توضیح }

مسئله:- شرکت مفاوضه دادی چی شریکان په مال کی،په تصرف کی،او په دین کی سره برابروی.پس شرکت مفاوضه ددوه آزادومسلمانانو،عاقلانو ،اوبالغانو،سړیوپه مینځ کی صحیح کیږی، اودیته شرکتِ مساوات هم وائی ، همدرازددی شرکت لپاره داهم شرط دي چه په شریکینو کی هریوشریک دبل وکیل وی،اوهم دده دطرفنه کفیل هم وی،چه په اخستی شوی شئ کی شرکت واقع کیدلو مستحق شي، پس چی یوشریک کوم شئ واخلی دی شئ لره دبل په ملک کی هغه وخت داخلولی شي،کله چه ده ته ددی ولایت حاصل وی، اودلته ولایت دوکالت نه بغیرنه شی حا صل کیدلی،اوهمدراز خرڅونکی هریود شریکینوڅخه مطالبه دروپی کولیشی لوجه دکفالت څخه چی دده طرفنه کفیل دي،البته بیابه رجوع وکړی کفیل په اخستونکي

---

[1] الفقه الحنفی وادلته، ج ۲ص ۱۰۹)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

باندی په نصف (نمائی) دهغه روپیو چې ده أدا کړیدي، ځکه دغه دهغه ځخه کفیل دي،په امر دهغه یې دروپی أداکړیدي.(١)

(فائده) دائمه ثلاثه ؤرحمه الله تعالی په نزد شرکت مفاوضه جائزندی حتی امام مالک رحمه الله تعالی فرمائی چه "لااعرف ماالمفاوضه" حقانی عفی عنه).

{ ب:-شرکت مفاوضه کی شریکانولپاره هدیات }

مسئله:- کله چه شرکت مفاوضه وترلی شی، نوپه شریکینوکی چه کوم یو سړی چې څه شئ واخلی دغه شئ به ددوارو مشترک وي، ځکه چه مقتضاء دعقدمساوت (برابری) دی،اوپه شریکینوکی هریودبل قائم مقام یعنی نائب دي، پس دیو اخستل گویا دبل اخستل دی،البته کوم شیان چه په دائمی ضرورتونوکی داخل دی هغه ددینه مستثنی دي ،یعنی دهغه شئ اخستل به شخصی وي، لکه داهل وعیال دپاره خوراک، لباس،اورهائش، (استوګنی) دپاره کور اخستل،ځکه چه کوم شئ ددلالت دحال په ذریعه معلومیږی هغه دلسانی یعنی زبانی شرط برابروي. (٢)

مسئله:- په کومو شیانوکی چه شرکت مفاوضه صحیح وی لکه دارهم او دنانیر،کچیري په شریکینوکی یوشریک ددغه یوشئ په طریقه دهبه یاپه طریقه دوراثت سره مالک شي، نو پدی سره به شرکت مفاوضه باطل شي، او شرکت عنان به وګرځی، ځکه چې په شرکت مفاوضه کی لکه څنګه ابتداءً مالی مساوات شرط دي،دغه شان بقاء کی یې هم مالی مساوات شرط دی، اوداصورت مذکوره په بقاء کی مالی مساوات نشته دي،البته کچیری به طریقه مذکوره یعنی په طریقه دهبه یاپه طریقه دوراثت سره څه سامان،یاز مکه حاصله کړی شي نوشرکت مفاوضه به باطل نوی،ځکه چه

---

١ مختصرالقدوری،صـــ١٢٦)

٢ مختصرالقدوری مع الزیادة،صـــ١٢٦)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

پدی کی شرکت مفاوضه صحیح ندي نومساوات به یې هم ضروري نوي(۱)

{ج:-دشرکت مفاوضه شرایط}

مسئله:- ددراهمو اودنانیرونه سوا په سامان اوزمکه وغیره کی شرکت مفاوضه صحیح ندي، لیکن که څوک پدی سامان اوزمکه کی شرکت مفاوضه کول غواړی، نوصورت ئی دادی چه دهریودشریکینونه هریوخپله نیمه حصه دبل دنیمی حصی په عوض باندی خرڅه کړی،ددینه پس دواړه شریک سره شی، څکه چه اوس دواړه دعقد دبیعی په ذریعه په قیمت کی شریک شوپه شرکت دملک سره، چی یو شریک ته دبل شریک په حصه کی تصرف کول جائزندی،ددینه پس دعقدشرکت په وجه سره داشرکت ملک شرکت عقد شو،چی اوس هریوشریک دبل شریک په حصه کی تصرف کولی شي.(۲)

{د:-شریک اختیارات}

مسئله:- هریوشریک لره جائزده چه دغه مال په وکالت،مضاربت،امانت، اواجاری سره ئی ورکړی څکه دغه دافعالو دتجاروڅخه دی، اودی آمین دی په مال کی، اوداهم ورته جائزدی چه مفاوضه شرکت سره ئی ورکړی، خوپه اجازت دشریک خپل سره که ورسره شریک شو،اوکه بغیرداجازت نه وو نووګرځید شرکت ددواړوشرکت عنان .(۳)

﴿ څلورم بحث: دشرکت عنان احکام ﴾

{الف:- دشرکت عنان توضیح}

مسئله:-شرکت عنان صرف متضمن دی وکالت لره نه کفالت لره، یعنی هریوشریک وکیل کیدای شی، البته ضامن کیدای نه شی ، پدی شرکت

---

۱ الفقه الحنفی وادلته،ج۲ص۱۱۱)

۲ مختصرالقدوری،ص۱۲۶)

۳ الفقه الحنفی وادلته،ج۲ص۱۱۱)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

عنان کی مساوات هم شرط ندي، یعنی برابره خپره ده که په رأس مال اوګټه کی دشریکان برابروی، اوکه په رأس مال او ګټه کی یې کمی بیشی وی نو شرکت جائز دی ،لیکن که ټوله نفع یې دیوشریک لپاره مقرره شوه بیاداصورت جائزندی ځکه چه بیاشرکت پاتی نه شو، بلکه داصورت بضاعت یادقرض شو، یعنی که ټول نفعه دعامل لپاره مقرره شوه نو بیاد قرض ده، اوکه ټول نفعه دصاحب مال لپاره مقرره شوه نوبیا دبضاعت دی. اوامام شافعی اوامام احمدرحمهما الله تعالی دعقودو دشرکتونو نه صرف ددی شرکت عنان دجواز قائل دی.(۱)

{ ب:- شرکت عنان کی شریکانو لپاره هدیات }

مسئله:- په شرکت عنان کی چی مال ددواړوشریکینو برابروی، اوپه نفع (ګټه) کی یې کمی زیاتی وه، یعنی دیوشریک نفعه زیاته وه، اودبل شریک نفعه کمه وه، نوزموږ احنافو په نزد شرکت عنان یې صحیح دی، ځکه چه کله دمعاملي کونکونه یوزیات ماهراوتجربه کاروي ،پدی وجه د زیاتی ضرورت راپیښیږی، البته امام شافعی اومام زفررحمهما الله تعالی دمال دحصی څخه د زیاتی نفعه جائزه نه بولي.(۲)

مسئله:- که دشریکینو نه هریودبعض مال په ذریعه شریک وی نودا شرکت هم صحیح دی، ځکه چه په شرکت عنان کی مساوات دمال شرط ندي، اودارنګه په مختلف جنس سره هم شرکت صحیح دی ، یعنی چی دیو شریک یوجنس مال وي، اودبل شریک بل جنس مال وي، ځکه چه مونږ احنافو په نزد دعنان شرکت دپاره اختلاط دمال هم شرط ندي، البته دامام زفررحمه الله تعالی په نزدجائزنه دي، مونږ احنافو وایوچه دیرو احکاموکی

---

۱ مختصرالقدوری،صـــ ۱۲۷)

۲ الفقه الحنیفی وادلته،ج۲صـــ۱۱۱)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دراهمواودنانیرولره دجنس واحدپه درجه کی منلي شویدي ،چنانچه په باب دزکوة کی یولره دبل سره یوځای کولی شی پس دراهمواودنانیروباندی عقدکول ګویاپه یوجنس باندی عقدکول دي. (۱)

{ ج:- دشرکت عنان دباطل کیدلوصورتونه }

مسئله:-شرکت عنان کی یومعلومه اندازه مال یودشریکینولپاره مقرره کول جائز ندي،ځکه چه داشرکت ندی بلکه اجاره دی،اوهمدرازپه شرکت عنان کی په بضاعت،مضارب،وکالت امانت اواعارت باندی مال ورکول هم جائزدی،اوهمدارنګه اخستل اوخرڅول هم په نقداوپه قرض دواړو باندی په شرکت عنان کی جائزدي،خوچه بل شریک ئی منعه نه کوي.(۲)

مسئله:- شرکت عنان کی دمال خلط (ګډول) شرط ندی، پس دکوم یو شریک مال چی هلاک شوپخوا دخلط ځخه او وروسته د عقد شرکت نه، نوهلاک شو پخپل مالک باندی، برابره خبرده په خپل لاس کی یې هلاک شوی وي، اوکه دبل شریک په لاس کی هلاک شوی وي اوکه وروسته دخلط نه هلاک شوی وي، نوبیا په دواړوباندی هلاک دي یعنی دواړه په نقصان کی شریک دي. (۳)

مسئله:- کله چی هلاک شی ټول مال دشرکت، اویایودشریکینو دمال ځخه هلاک شی پخوا داخستلودیوشئ ځخه،نوشرکت په دی هلاکت دمال سره باطل شو،ځکه چه شرکت په دغودوومالوباندی تعین شوی وه ،کله چه دیو شریک مال هلاک شی پس شرکت په هلاک کیدونکی مال کی باطل شو، لوجه دنشتوالی مال ځخه، اوبل کی هم ورسره باطل شو ځکه

---

[۱] ردالمختار، ج۳ص۳۷۳)

[۲] الفقه الحنفی وادلته، ج۲ص۱۱۳)

[۳] ردالمختار، ج۳ص۳۷۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

چې هغه بل شریک پدې شرکت باندې راضی ندې چې دخپل مال
دکمې څخه کوم شې هغه بل شریک ته ورپاورکړی، اوکچیرې یو شریک
پخپل مال سره څه شې واخستل بیادبل شریک مال هلاک شو، نواخستې
شوې شې ددوی په مابین کې مشترک دی، په هغه شرط اولوظ چه دوی
پخپل منځ کې مقررکړی وي،څکه چه وخت د اخستلو کې دغه شې
مشترک واخستلوشو نوپه هلاکت دمال دیوشریک سره حکم نه متغیر
کیږی لیکن خپل شریک باندې به دهغه روپئوبو رجوع وکړي کومه چې
ددی حصې سره برابریږی، څکه چه دغه شریک دغه شې لره نیم مشترک
اخستې دهغه بل شریک په وکالت باندې، اوروپی یې هم دخپل مال څخه
نقدی ورکړیدی.(۱)

مسئلة: لاس دشریک په مال مشترکه کې لاس دآمانت دی، پس که هلاک
شومال مشترک بغیر دتعددڅخه، نو دشریک ئې ضامن ندی. (۲)

{ د:- دشریک مال دزکات آداکولوطریقه }

مسئله:- یوشریک دبل شریک داجازت نه بغیردهغه دمال څخه زکات نه
شې ورکولې، څکه چه په شریکینو کې هریوته چه دکوم تصرف اجازت د
هغه بل طرفنه حاصل ده، دغه صرف په امورو دتجارت کې دی، اوزکات
خوپدی امورو کې داخل ندی،او کچیرې په شریکینوکې هریوخپل شریک ته
دزکات اداء کولواجازت ورکړی وه،پس که دواړوشریکانو زکوة آداکړو،
نودامام صاحب په نزدچه کوم روسته زکوة اداکړی دی دغه به ضامن وی،
خواه دبل شریک زکوة اداء کولو ورته معلوم وی اوکه ورته معلوم نوی،
دصاحبینوپه نزددنه معلوماتوپه صورت کې به روسته زکوة اداء کونکی

---

۱ مختصرالقدوری،صـــ۱۲۷)

۲ مختصرالقدوری،صـــ۱۲۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ضامن نوي،اوکه دواړو شریکانو په یوځای زکوة اداکړونودواړه به ضامن وي، اوبیابه شریکان مقائیسه کوی، (یعنی یو شریک به دبل ته بدله ورکوی) اوکه دیو شریک مال زیات وه نو زیاته اندازه به واپس اخلی.(۱)

﴿ پنځم بحث: دشرکت صنائعواحکام ﴾

{ الف:- دشرکت صنائعو توضیح }

مسئله:- شرکت صنائع(کسبونو) چی دیته شرکت تقبل،شرکت اعمال او شرکت ابدان هم وائی ددی شرکت صورت دادی: چه دوه کاریگران مثلًا دوه درزیان اویایودرزی اویورنگساز پدی خبره متفق شی،چه یو مناسبه کار به پیدأ کوي اوهم به یې قبلوی، او چه څه ګټه اونفعه وشي دغه دواړه به پدي نفعی کی شریک وي، پس اوس په شریکینو کی چه هریو شریک یوځه کار پیدأ کړی او قبول یې کړی،نودغه کارکول به په دواړولازمی وي، او کومه مزدوری، یانفعه چه ددغه کارکولونه حاصله شي، دغه به دهغه کړی شرط اولوظ موافق په دواړوشریکانوتقسیم کیږي، اګرچه هغه بل شریک کارورسره نوی کړي.وعندالامام الشافعی رحمه الله تعالی لاتجوزهذه الشرکة.(۲)

{ ب:- شرکت صنائعودشریکانومسؤلیت }

مسئله:- کله چه واخلی هریود شریکانونه یوکار نوپه دواړو شرکینو باندی دهغه کارپوره کول لازمی دي، ځکه چه دغه شریک ئی پدی مقررکړیدی چه تا به کار رانیسی، اوپه شریکه به ئی کوو، ددی فائده داده چه هغه کس دهریو څخه دعمل غوښتنه کولی شی، اوهمدارنګه هریو داجرت (مزدوری)مطالبه کولی شی، او همداراز ورکونکی داجرت هم پدي خلاصیږی چه هریوشریک ته یې چی اجرت ورکړه، داهلته چه

---

(۱) ردالمختار، ج۳ص۳۸۵)

(۲) ردالمختار، ج۳ص۳۸۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

شرکت مفاوضه وی،کچیری شرکت عنان وي نوبیا به دصاحبینو سبب نه مطالبه کولیشی نه دده بل اندوال څخه.(۱)

﴿ شپږم بحث:دشرکت وجوه احکام ﴾

{الف:- دشرکت وجوه توضیح}

مسئله:- شرکت وجوه(الرسوخ): دادی شرکت وجوه صورت دادی چه دشریکینوسره مال نوي،البته دوی پخپل اعتماداواعتبارپه ذریعه دسوداګرۍ څخه سامان په قرض(نسیا) یوبازارته راوړی،اوبیایي هلته خرڅوئی، اودوی په نفعه کی راسره شریکان وي. اوددي شرکت داصورت هم صحیح دی چه پدېکی داخستی شوی شئ په اعتبار سره نفعه تقسیموي، یعنی که دواړو شریکانو کوم یوشئ په نیمه واخستو نونفعه به یې هم نیمه وي، اوکچیری دغه یوشریک دریمه حصه واخستله، اودبل شریک دوه حصی واخستې، نونفعه به هم دغه شان په دغه حیصو تقسموي، اوکچیری یوشریک څزیاتی نفعی شرط اولګاوه، نودا زیاتی نفعی شرط به یې باطل وي. دائمه ثلاثه رحمهم الله تعالی په نزدداشرکت هم جائزندی.(۲)

{ ب:- دشرکت فاسده صورتونه }

مسئله:- شرکت فاسد:- شرکت فاسد هغه شرکت ته واي چی په هغه کی دشرائطودصحت دشرکت نه یو شرط موجود نوي، اودوهم داچی کوم شیان چه مباح الاصل دی، لکه لرګی،ګیاه، ښکار اواوبه اوداسی نور، ددوی په حاصلولوکی شرکت صحیح ندي، ځکه چه شرکت وکالت غواړي اودمباحوشیانوپه حصول کی دوکالت تصورنشي کیدی، ځکه چه دمباحو شیانوموکل پخپله مالک نوي، نوپه خپل ځای

---

۱ ردالمحتار،ج۳ص۳۸۱)

۲ ردالمحتار،ج۳ص۳۸۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دول چا لره دقائمقام یعنی نائب مقررکولو مالک به هم نوی. (۱)

مسئله:- که په څه وجه سره کوم یوشرکت فاسد شي، نوپدیکی چه کومه نفعه وی دغه به دمال دمقدارپه موجب باندی وي، اګرچی زیاته نفعه یې شرط ګړی وي، پس اوس که ټول مال دیوه شریک وي، نوبل شریک لره به دده دمحنت اجرت (مزدوری) ورکولیشی. په قنیه کتاب کی دی چه که یو سړی دکشتی مالک وه ،ده دخان سره څلورنورسړی شریک کړل، پدی شرط چه دکشتی به چلوی، اوخه نفعه ترینه حاصله شوه دهغی نفعی پنځمه حصه به دکشتی مالک وي،اوباقی نفعه به دخلورکسانوپه خپل مینځ کی به په برابري سره تقسموي،نوداشرکت فاسددی،پس چه څه نفعه وی دغه به ټوله دمالک وي،اودغوخلورکسانوته به واجبی مناسبه مزدوري ورکولی شی. (۲)

{ ج:- دشرکت یوځوخصوصي صورتونه }

مسئله:- درخت (کپړی) اودلودپاره چه یوجولاته پنړسی ورکړی شی، اود هغی نه جوړه کړی نیمه،دریمه وغیره برخه رخت(کپړی)هغه جولا ته دهغی په اودلو مزدوری کی به ورته مجره کړی شی، نو داصورت به د(مانعینو)په نزد جائزنه وی، لیکن دمجوزینو په نزدبه دغه صورت جائزوي، لکه چه په احنافوکی هم د(بلخ)مشائخودعرف اودستورپه بناددی اجازت ورکړیدي.(۳)

مسئله:-دوه ښځوشرکت اوکړوچه دواړه به دغره نه یو ځای خشاک(لرګی) راوړو، یا به لرګي یوځای راټولوو، نوداشرکت شرعًا صحیح نه دي، پس دکومی ښځه په لاس چی څومره خشاک راغله هغه ښځه ئی مالکه ده. (۴)

---

(۱) مختصرالقدوری مع الزیادة،صـــ۱۲۸)

(۲) ردالمحتارمع الزیادة،ج۳صـــ۳۸۳)

(۳) عنایة علی الهدایه علی هامش فتح القدیر،صـــ۳۹ـــ۴۰)

(۴) جنتی کالی ،ج۵ صـــ۴۳۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

مسئله:- یوی پښځی بلی ته اووی چه ځمادهګی (اګی) خپلی بچرنی ته کیده نوبیا به یې بچی راسره نیمایي کړو نودصورت جائز له دی. (۱)

مسئله:- که یودشرکینونه وفات شویامرتدشو(العیاذبالله تعالی)اویادارحرب ته لاړونوشرکت یې مابین کی باطل شوځکه چه شرکت وکالت لره متضمن دی اووکالت خوپه وفات اوارتداداو لحوق دارالحرب سره باطل کیږی. (۲)

{ د:- دشرکت یونارروا شرط توضیح }

مسئله:که دسوداګردمال نه کوم شئ غلاشه،نواوس ددواړوشریکانو نقصان اوشه، داسی به نوي چه ټول نقصان به دصرف دیوشریک وي،همداراز که شرکت کی یوشریک داسی شرط کړي وه چی نقصان به ټول په مابانډی وي، اونفعه به نیمه باندي شریکه وی، نوداهم جائزنه دی،ولی چی کله شرکت ناجائز شه، نواوس په تقسیم کی دقول او اقرار هیڅ اعتبار نیشته، بلکه که دواړو مال برابروه نونفعه به یې نیمه وي، او که مال یې کم زیات وي نونفعه به هم کمه زیاته وي، خواه اقرار اولوظ چه ئی هرڅه کړی وي هغه معتبرندی، ولی چی اقرار هغه وخت معتبردی چه شرکت کله صحیح وی، دلته خو شرکت صحیح. (۳)

{ ه:- دشراکت دبی برکتی سبب}

مسئله:- دشراکت بی برکتی دشریکینوداختلاف اوخیانت لوجی ځخه وي له سیدنا ابوهریررضی الله تعالی عنه ځخه روایت دی چه رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائی:چه الله تعالی فرمائی:(زه دریم دشرکینووم ترڅوچه یودبل سره خیانت ونکړي

---

۱ جنتی کالی،ج۵ صـــ۴۳۳)

۲ الفقه الحنفی وادلته،ج۲صـــ۱۱۶)

۳ جنتی کالی،ج۵صـــ۴۳۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کله حیالت وکړي زه دمابین څه ووئیم.(۱) والله تعالی اعلم بالصواب

څلورم فصل: دمضاربت پیژندنه

اول بحث: دمضاربت توضیح

مضاربت په لغت کی په زمکه کرڅیدل اوګشت کولوته وائی،د مفاعلی باب څخه دی، الله تعالی فرمائی ﴿وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللهِ﴾ مضارب چونکه دتحلصیل دنفعی دپاره دیوپه زمکه کرڅی راګرځی، په دی وجه دی عقد ته دمضاربت عقد وائی، اهل حجاز دیته مقارضه او قراض وائی. اوپه اصطلاح کی مضاربت هغه عقدته وائی په کوم کی چه دیو طرف نه مال وي، اودبل دجانب نه عمل وي،په نفعه کی به دواړه شریک وی،دکوم دطرف نه چی مال وي ده ته رب المال وایي، اوعمل واله ته یې مضارب وایي، اوکوم مال چه یې ورکړی وي دیته مال دمضاربت وائی، اوپه کوم مال کی چه شرکت صحیح وی (یعنی دراهم اودنانیر)نو په دغه مال سره مضاربت هم صحیح دي ،اودمضاربت صحت لپاره ئی دنفعه ددواړوپه مینځ کی شائعه اوعامه کیدل لازمه ده، لکه مثلا په نیمه یا په دریمه حصه باندي شریک کیدل، که چا دخان دپاره دیو معینه اندازه نفعه شرط اوکړو، نوپه دی سره به عقد مضاربت فاسدوي اومضارب ته به په دي صورت کی دده محنت مزدزری ورکولی شي ،البته ده محنت مزدزری به دامام ابویوسف رحمه الله تعالی په نزد باندی دمشروط مقدارنه به زیاته نه شئ ورکولي، اودامام محمد اوائمه ثلاثه رحمه الله تعالی په نزد دده دمحنت اومزدزری اندازي کوم قید نیشته. اوهمدارنګه کچیری مضاربت کی تاوان نقصان وشي پس اول به دغه تاوان دربحی (ګټه) څخه لنډیږی، اوکه ربحه (ګټه) نوي نو بیابه دغه تاون

---

(۱) المستدرک، ج۲ص۶۱

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

درأس المال څخه اداء کېږي، يعنې مضارب به دتاوان ضامن نوي، البته وخت به ئې ضائع شوی وي، اوهمدراز دمضاربت جواز په شريعت سره ثابت دي ځکه چه دنبی کريم صلي الله عليه وسلم دبعثت نه پس به خلقو دغه معامله دمضاربت کوله اودوی مبارک صلي الله عليه وسلم ترينه منع نه ده کړي، اواصحابه وکرامو رضی الله تعالی عنهم تعامل هم پدی معامله دمضاربت باندی جاری وه، اوبل خواخلقو هم ددیته ضرورت لري ځکه چه بعض خلقومالداروي ليکن پخپله کاروبارنه شی کولي ،اوبعض خاص بيوپاريان اوکاروبار مجرب خلق بی ماله غريبان وي ، لهذا دعقددمضاربت مشروعيت عقلاهم ضروری دي ، چه دغبی اوذکی اوفقيراوغنی تولوخلقو ضرورتونه پوره اوتکميل شي.

﴿ دوهم بحث: دمضاربت دصحت شرطونه ﴾

{ الف:-دمضاربت ددريو شرطونه بيان }

مسئله:- دمضاربت شرائط:- يوشرط دمضاربت دادی چه څومره روپی ورکول غواړی هغه ورته وښائی،اوورئی هم کړی،کچيری هغه ته ئی حواله نه کړی، نودامعامله دبه فاسده وی؛

دويم شرط دمضاربت دادی چه دمنافعو دويشلو خبره به صافه کړی،چه ستابه دومره نفعه وی اوځمابه دومره نفعه وي،که صرف داووائی چه منافعه به ويشواوخبره واضحه نه شوه نودامعامله فاسدده.

دريم شرط دمضاربت دادی چه څان لپاره به يه يومعينه اندازه نفعه نه مقرره وي،لکه ووايي چه يوخاص رقم روپيو به ځماوي،اوباقی به مشترک وي،بلکه پدی طريقه به ئی مقرره وي چه مثلادمنافعو نيمه حصه به ديووي اونيمه حصه دبل وي، يايوه حصه ديو اودوه حصی به دبل وي، يايوه حصه ديواودری حصی به دبل وي،اوکه دمنافعو يوخاص رقم يوکس ته مقررکړی

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

نې نوبیا دمعامله فاسده دي؛ اوهمدارنګه کچیری خبره داسی وشوه چه په مضاربت کی که نفعه (ګټه)ونه شوه،نوبیاهم به زه تاله واصلی رقم نه دومره روپیو درکوم ، نودا معامله دمضاربت هم فاسده ده، اوهمدارانګه که دائی مضارب ته اووئیل چه که په مضاربت کی که نقصان وشوه نو نقصان به ستا په غاړه وي،نودا معامله دمضاربت هم فاسده دي،پس دمضاربت حکم دادي- که مضاربت معامله صحیح وه نونفع (ګټه) په هغه ترتیب ویشلی شی،چه څرنګه دوی خپل منځ فیصله کړی وه،اوکه نفع ونه شوه او یانقصان وشولو نومضارب ته به هیڅ شی نه ورکوی، اوزیان تاوان هم په مضارب نشته،اوکچیری دامعامله دڅه شرط دوجی نه فاسده شوی وي،بیا مضارب(کارکونکی) په نفع کي ورسره شریک ندی،بلکه مناسب معاش یعنی مزدوری به ورکولی شی،برابرخبره ده که په دی فاسده مضاربت کی نفع شوی وي اوکه نفع نوی شوي،لیکن کچیری مناسب مزدوری یې زیاته کیدله،اوکومه نفعه چه ورته مقرره کړی شوي وه هغه دمزدوری نه کمه وه ،نوبیابه ورلره مقرره نفعه ورکیدی شی،او مزدوری به نه شي ورکولی .([1])

{ ب:- دمضاربت شرعی حیثیت }

مسئله:- مضارب مخکی دتصرفاتو څخه آمین دی،دتصرف څخه وروسته بیا وکیل دی،که ربحه(ګټه)ئی وکړه نو بیاورسره شریک دی،که مضاربت فاسد شی نو بیااجیر(مزدور) دی اوکه دعقدمضاربت څخه ئی مخالفت وکړونوبیاغاصب دی،لهذه په مضارب باندی به دآمین،وکیل، شریک، اجیر اوغصب احکام جاری کیږی.([2])

---

[1] ملخصا الفقه الحنفی‌ادلته، ج۲ص۱۱۹)

[2] خلاصة الفتوی ،ج۴ص ۱۸۸)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ج:- دمضارب اختیارات}

مسئله:-که عقدمضاربت مطلق وه نوبیادمضارب دپاره به هغه ټول امورجائز وی،کوم چه دتجارو په نزدمعتاد(رائج) وي،لکه په نقد یالسي خرید فروخت کول،وکیل جوړول،سفرکول،او په طریقه دبضاعت مال ورکول وغیره،لیکنْ بل چالره یي په مضاربت نه شي ورکولی،البته کچیري که دړب المال (دمال څښتن) څخه ددی اجازت وی چه په مضاربت ځ ورکولی شي،اویائی دا ورته وئیل وي چه دخپلی رائی موافق کارکوه مکمله اختیارستا دي،نو په دی صورت کی مضارب یي په مضاربت ورکولی شي؛ همدارنګه که رب المال خاص بنار،یاخاص سامان،یاخاص وخت،اویاخاص سړی ورته معین اومقرر کړی وي، نوپه دی صورت کی مضارب لپاره لدي رب المال هدیاتونه خلاف کول جائزندي،ځکه چه مضارب ته حق دتصرف دصاحب المال په سپارلوسره وي،کوم لره چه ده مخکی امورو سره خاص کړی وي،کوم چه دفائدی نه خالی ندی،ځکه چه تجارت په اختلاف دسامانونه،اشخاصو،ځایونو، اووختونوسره مختلف کیږی، پدی وجه د رب المال تفویض نه خلاف کول به مضارب ته جائزنوي.([1])

مسئله:- که یوسړی بل سړی ته زر روپئی په مضاربت باندي ورکړی،نو مضارب لپاره جائزنه دی چه یوشئی دمضاربت لپاره لدینه په زیاتوروپو باندي واخلی،خواه که ئی ورته ویلی وی چی پخپله رایه عمل کوه اوکه نوی ئی ورته ویلی، پس کچیري یوشئی یي مضاربت لپاره لدی روپیوځخه زیات واخیستو،نو حصه دزرو روپیو مضاربت شوه، چه کوم زیاتی وي هغه حصه دمضارب لپاره ده که ګټه وی اوکه تاوان،زیات روپی خاص په مضارب باندی دی،

---

[1] ملخصاهدایه:ج۳ص۲۶۵

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

او همدراز نه ضامن کیږی مضارب پدە خلط سرە.(۱)

﴿ دریم بحث: دمضاربت حکم ﴾

{ الف:- دمضاربت دهلاک شوي مال حکم }

مسئله:- که مال دمضاربت هلاک شی،نودی هلاکت لرە بە اول دربحی (گټه)نه مجری کول شی،ځکه چه راس المال اصل دی،اوگټه یې تابع دە او هلاکت لرە دتابع طرفته راجع کول غورە دی،لکه پە باب دزکوة کی دهلاکت مقدارعفوی طرفته راجع وی،اوکچیری دومرە مال هلاک شوچه دنفع (گټه)نه هم زیات وە،یعنی راس المال هم څه حیصه هلاک شو نو مضارب بە ددی تاوان ضامن نوي،ځکه چه دغه آمین دی اوپه آمین باندی ضمان(تاوان)نوي.(۲)

مسئله:- که مضاربت باقی وه اونفع ئی مابین تقسیمولە ،بیا ټول مال یاڅه مال هلاک شو،نوکه نفعه وشوه، پس نفع بە واپس کوی راس المال بە پری پورە کولیشی،ځکه چه دارأس المال دوصول کول نه وړاندی دنفعی تقسیول صحیح ندي،ددینه پس چی څه شئ باقی پاتی شی دغه بە تقسموی، اوکچیری دنفع تقسیمولونه پس ئی عقد مضاربت فسخ کړو،اوبیائی دنوی سرە عقد مضاربت اوکړو،بیامال هلاک شونواوس بە اوله نفع نه شي واپس کیدی،ځکه چی اولنی عقدتام شویدی اودغه نوي عقد د مضاربت دە.(۳)

{ ب:- دمضاربت پە مال کی دتصروف کولو حکم }

مسئله:- که مضارب درب المال داجازت نه بغیر بل سړی تە پە مضاربت باندی مال ورکړو، نوپه مضارب اول باندی بە صرف پە مال ورکولوسرە

---

(۱) الفتاوي عالمگیری، ج۴ص۳۰۵)
(۲) مختصرالقدوری مع الزیادة،ص۱۳۱)
(۳) مختصرالقدوری،ص۱۳۱)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

تاوان نه لازميږي،ترڅوچی دوهم مضارب ورباندی دتجارت کار پل شروع کړی نوي،خواه دوهم مضارب ته ربحه(نفعه)حاصله شوي وي اوکه نفعه حاصله شوي نوي،دغه ظاهرالروايه اودصاحبينوقول دی(وقيل وبه يفتی).البته امام اعظم رحمه الله تعالی عليه فرمائی:چی څوترپوررې چه دوهم مضارب ته نفع حاصله شوي نوي ،ترهغه وخته پورې په اول مضارب باندی ضمان (تاوان)نه راځی،اوکچيری دوهم مضارب ته نفع حاصله شي نوپه دغه وخت کی به دتاوان ضامن وي،ځکه چه اوس په مال کی ددوهم مضارب شرکت ثابت شو،دائمه ثلاثه ورحمهم الله تعالی په نزدصرف په مال ور کولوسره په اول مضارب باندی تاوان لازميږی،ځکه چه مضارب ته په طريقه د ودعيت (آمنت)سره دمال ورکولوحق شته،اونه په طريقه دمضاربت سره.(۱)

مسئله:- که مضارب دصاحب المال په اجازت سره بل چا ته په مضاربت سره په دريم حصه باندی دغه مال دمضاربت ورکړو، پس کله چه صاحب المال دمضارب اول سره دامقرره کړی وه، چه څه الله جل جلاله درکړل هغه به ځمااوستاپه نيمه وي،نو صاحب المال ته به ددی شرط په موجب دټولی نفع نيمه برخه ورکول کيږی،او دوهم مضارب ته به يو ثالث (دريمه حيصه) ورکول کيږی ،ځکه چه مضارب اول دده دپاره دټولی نفعی ثلث مقررکړی وه،اوس پاتی شوسدس(شپږمه حيصه)دغه به مضارب اول ورکول کيږی، مثلا دوهم مضارب شپږدرهم اوکټل،نودری درهم صاحب المال ته ورکولی شی ،اودوه درهمه به دوهم مضارب ته ورکو شی،اويو درهم به اول مضارب ته ورکولی شی،ځکه چه دلته رب ا دځان دپاره دټولی نفع نيمه مقرره کړی وه.اوکچيري صاحب ا مضارب اول ته دا سی وئيل وو چه تاته څه نفعه الله تعالی درکړله دغه

(۱ هدايه، ج۳ص ۲٦۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

څلورم فصل: دمضاربت پرځندنه

هما اوسعا په نیمه وي،اوباقي مسئله به پخپل حال وی نومضارب ثانی نابه یوثلث ورکولی شی اوباقی دوه ثلثه دمضارب اول اورب المال په مینځ کی په نیمه تقسیم وی پس پدی صورت کی به دری واړوته دوه دوه درهمه ورکولی شی ځکه چه دلته رب المال دځان دپاره دنفع دهغی مقدارنیمه مقرره کړی ده کومه چه مضارب اول ته ورکول شی،([1])

{ج:- مضارب بل چا ته په مضاربت سره دمال ورکولوحکم }

مسئله:- که اول مضارب ته یې داوئیل چه څه نفعه الله تعالی درکړل د هغی نیمه حیصه ځماده،پس اول مضارب بل چاته په مضاربت سره مال ورکړو،چی نیمه نفعه به صاحب المال ته ورکوي،او نیمه نفعه به ددوهم مضارب وي،اواول مضارب ته به هیڅ شئ نه شي ورکولي،ځکه چه ده خپله نیمه نفعه دوهم مضارب ته ورکړه،البته که اول مضارب دوهم مضارب دپاره دنفعی دوه ثلثه مقرر کړي وه،اول مضارب په دوهم مضارب ته دنفعی یوسدس(شپږمه حیصه) دخپل ځان نه ورکوي،ځکه چه ټولی نفعی نیمه برخه خودصاحب المال شوه،او دوهم مضارب دټولی نفعی دثلث(دریمه برخه) مستحق دی،نو دده په حصه کی چی دکوم سدس کمی واقع شو،دغه به اول مضارب دخپل ځان نه ورته پوره کوي.([2])

مسئله:- دشیخینو په نزدیه مضاربت کی داضروري ده چی راس المال به دنانیراودراهیم وي،البته امام محمد رحمه الله تعالی علیه فرمائی: چی فلوس رائجه ؤسره هم مضاربت جائزدی، نوکله چه راس مال دمضاربت دراهیم دنانیراوفلوس رائجه نوی نواجماعًا مضاربت صحیح ندی،البته که سمان او غلام ئی ورکړل،اوداسی یې ورته ئی اوویل چه دغه خرڅ کړه،او روپی ئی

---

[1] هدایه،ج۳ص۲۶۲)

[2] هدایه،ج۳ص۲۶۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

قبض کړه،نوبیامضاربت پدی روپو باندی کوه،پس هغه دغه سعمال اوغلام خرڅ کړل،تصرف ئی پکی وکړو،نواوس په دی صورت کی مضاربت جائزشو.(۱)

{ د:- قرض باندی دمضاربت کولوحکم }

مسئله:- راس المال دمضاربت به عین وی نه دین، لهذاپه دیونو(قرضونه) باندی مضاربت جائزندي.پس کچیري یوسړی په بل سړی باندی مثلاً زر درهمه قرض وه،اوصاحب دین ته ئی امروکړو،چه پدی زردرهمه قرض باندی مضاربت کوه،نودغه مضاربت جائزندي کذافی النهایة وهذا بالاجماع.اوکچیری لدینه وروسته مدیون څه شئ تجارت لپاره واخست، او خرڅ ئې کړل،نوګټه یاتاوان ئی پکی وکړو،نوګټه اوتاوان په ده باندی لازمی دی،او هغه پخوانی قرض همغسی په ده باندی باقی دي،دادامام اعظم رحمه الله تعالی قول دی، اوصاحبینو رحمهما الله تعالی فرمائی: چه کوم شئ یي واخستو اوبیا ئی خرڅ کړو هغه جائز دي، نوګټه اوتاوان دصاحب الدین دی، اومدیون دقرضی څخه خلاص دي ،اوده لره مناسبه مزدوری په صاحب الدین باندی لازمه دي.کذا فی المحیط البته کچیری یي دین (قرض) په دریم نفر باندی وه، اوورته ئی وویل چه ماقرض (پور) ترینه راواخله، اومضاربت ورباندی وکړه، نوپدی صورت کی مضاربت صحیح دي. کذافی المحیط.(۲)

مسئله:- که یوسړی ته ئی زردرهمه ورکړل، چه نیمائی روپیو قرض دي،اونیمائی نورو روپیو باندی مضاربت کوه په نیمه حصه نفعی باندی، نوهغه سړی دغه روپی پدی شرط واخستی،نودا صورت جائزده چی څرنګه

---

۱ محیط السرخسی.الفتاوی الهندیة ،ج۴صـــ۲۸٦)

۲ الفتاوی العالمګیر،ج۴صـــ۲۸٦)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

لې په مابين کې په نيمه حصه نفعې باندې فيصله کړې وه کذافي
الهنديه. پس کچيرې دغه مال مخکې دعمل څخه هلاک شو،نودسړې د
هغه نيمو روپيو قرض ضامن دی،اوکچيرې عمل لې وکړه اوګټه يې وکړه ،
نونيمه ګټه دعامل ده،اوهغه نيمه نوره ګټه به په هغه طريقه باندې وي،چې
څرنګه ئې په مضاربت کې شرط کړې وه.(۱)

مسئله:- کچيرې يوسړې مضارب ته ووئيل چه دغه زردرهمه واخله،چه
نيمې به قرض وي،اونيمائی نورو باندې مضاربت کوه،خوهغه ټول ګټه به
زماوي،دغه صورت جائزدی،البته مکروه دی ځکه دغه قرض نفعه راکش
کړه .کذافي المحيط .(۲)

{ ه:- مضارب دمصرف اوخرچې کولوحکم }

مسئله:که مضارب کاروباردتجارت په ښارکې کوي نونفقه خرچه به د مال
مضاربت څخه نه کوي،البته کچيرې سفرکوي نوخوراک،څښاک،جامې او
کرايه به ئې دمضاربت مال څخه وي،بياکله چې دسفرڅخه واپس راشي چه
کومه اندازه روپئې دکرايه اوخرچې څخه زياتې شوې وي،هغه به بيرته
دمضاربت روپيوته واپس کوي،اوکچيرې وتل ئې دسفر په اندزه نه وه بلکه
ډيرې به تلواوبيګائی به بيرته خپل کورراتلواوشپه به ئې خپل کورکې کوله
نفقه نوداپه شان دوکاندارډي په ښارکې،نونفقه خرچه د مضاربت مال څخه
نه شي کولې،اوکه شپه ئې خپل کوروته نه شوه رسولې نو نفقه خرچه دده
په مال دمضاربت کې ده،اوهمدرازمضارب دمرض علاج اودائی به پخپلو
شخصي روپيو باندې کولې شي،اودمضاربت دمال څخه علاج نشي کولې،
ځکه چه مرض يوعارضي شئ دی،پس کله چه مضارب خرچه دمال د

---

(۱) الفتاوى الهنديه، ج۲ص ۲۹۰

(۲) الفتاوى العالمگيرى، ج۴ص ۲۹۰

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

مضاربت څخه وکړی،بیاګټه وکړی نورب المال به خپل راس المال کامل واخلی،اوخرچه به ګنی ته واپس کیږی نه راس المال وته،چه کله راس المال پوره شی نو مابقی به چه څرنګه یې فیصله کړی وي هغسی به یې تقسیم کړي.(۱)

﴿ څلورم بحث: دمضارب اوصاحب المال د اختلاف حل طریقي ﴾

{ الف:- جانبینود اختلاف دیومهم صورت حل }

مسئله:که اختلاف واقع شوه په مابین دمضارب اوصاحب المال کی،چی مضارب دعوادعامی اجازی وکړه په هرکاربارد تجارت کي،اوصاحب المال دعوادخاصي اجازی وکړه په یوخاص کاربار دتجارت کي،نوپدی صورت کی قول دمضارب معتبر دي کذافی الکافی خوسره دقسم نه،اوورسته د تصرف څخه په مال دمضاربت کي؛البته مخکی دتصرف دمضارب څخه په مال دمضاربت کي بیاقول دصاحب المال معتبردي.پس انکار دصاحب المال دعامی اجازی څخه ګرځیږی منع کول دمضارب دتصرف څخه، یعنی نشته مضارب لره تصرف کول په عام تجارت کی.اوکچیری داختلاف وروسته دتصرف څخه واقع شو،نوپدی صورت کی قول دمضارب معتبر دي سره دقسم نه استحسانًا، اوپه صاحب المال باندی ګواهانو وړاندي کول دي،وبه اخذ علماونا الثلاثة کذا فی المحیط (۲)

{ ب:- دمضارب معزول کیدلویوضروري صورت حل }

مسئله:که صاحب المال مضارب لره دمضاربت کاربارنه معزول کړو،او مضارب ته ددی ګوشه کیدو علم نه وه شوی ،اوده خریدفرش وکړو نودابه جائزه وی، ځکه چه دی دصاحب المال دطرفنه وکیل دي ،اوبالقصد وکیل

---

[۱] ملخصاالفتاوی الهندیة،ج۴صـــ۳۱۲)

[۲] هندیه،ج۴صـــ۳۲۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

لره معزول کول دده ترعلم پوري په عزل کیدلوموقف وی، پدی وجه دعلم کیدونه وړاندی به دی معزول نوی،اوکه مضارب ته خپله معزولی حالت کی معلومه شوه چه مال نقدنه وه بلکه سامان وه،بیابه هم پداسی معزول کیدل د مضارب تر سامان دخرڅولو پوري موقف وي،یعنی مضارب دغه سامان خرڅول ئی شی،ځکه چه په نفع کی ورسره دمضارب حق وابسته شویدی ،اوددده ظهوربه په تقسیم سره کیدی شی کوم چه په راس المال باندی موقوف دي،اودراس المال اندازه دسامان خرڅولواونقدکولونه وروسته معلومیږي .(۱)

﴿ پنځم بحث:مضاربت دختم کیدلوتوضیح ﴾

{ الف:- مضاربت دباطل کیدلو ترتیب }

مسئله:- که صاحب المال یامضارب مړشو، نوپه دی مرګ سره مضاربت به باطل شو،ځکه چه دمضارب دعمل نه پس مضاربت دتوکیل په حکم کی وي، اووکالت دمؤکل دوکیل په مرګ سره خو باطل کیږی، نو مضاربت هم باطلیږی،همدارنګه که صاحب المال(خدای تعالی مه کړه) مرتدشودارلحرب ته لاړو،نوپدی صورت کی هم مضاربت باطل شو، خوکچیری حاکم دده ددارالحرب سره دالحاق حکم کړی وه، چه پدی وجه سره به دده املاک نه ملک زایل شی،اوورثاووطرفه به ملک منتقل شی،نودا الحاق دده دمړکیدوپه درجه کی شو،اوکه حاکم حکم نوي کړی، نومضاربت به دده دراتللوپوری موقف وي،کچیری هغه واپس راغی نومضاربت به يي برقراروي.(۲) اوهمدارنګه عقددمضاربت په تیریدلو دمدی سره هم باطلیږی چه مده (نیته) يي

---

۱ هدایه،ج۲ص۲۶۳)

۲ هدایه،ج۳ص۲۶۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

په مابین کی مقرره کړی وي.([1])

{ ب:- مضاربت دفسخ کیدلوترتیب }

مسئله:-که صاحب المال اومضارب دواړه دعقد دمضاربت دفسخ کیدلونه پس جداشو،اومال دمضاربت خلقوسره قرض وه،اومضارب ته په تجارت کی نفع حاصله شوی وه،نو مضارب به په وصول کولودقرض باندی مجبورکولی شی،ځکه چه مضارب اجیر(دمزدور) پشان دی،اونفعه داجرت پشان ده، پدی وجه به دی مضارب لره په پوره کولودعمل مجبوره کولی شی،اوکه نفعه ورته نه وه شوی نوبیابه نه شی مجبور کولي،ځکه چه اوس دغه احسان کونکی دی اوپه متبرع جبر(زور)نوي،البته مضارب ته به دا وئیل شی:چه ته دقرض وصول کولو دپاره صاحب المال لره وکیل جوړ کړه چه دده مال ضائع نه شی.([2])

{ ج:- د صاحب المال د مال حفاظت لپاره یوحیله }

مسئله:-کله چه دصاحب المال اراده وي،چه وګرځوي مال مضمون(تاوان) په مضارب باندی نوددی لپاره حیله داده چه قرض ورکړي مضارب ته خپل مال ورته ئی سپاري اوګواهان هم پري مقررکړي بیاواخلی دغه مال صاحب المال په مضاربت دنمایي اوثلث سره ئی بیرته ئی مستقرض(مضارب)ته ور کړي اوطلب یامداد اوکړي په هغی سره په عمل کی نوکله چه هلاک شی په لاس دده کی نوقرض دی په ده باندی پس مضمون(تاوان)دي په مضارب باندی اوکله چه یې ګته وکړه اوهلاک نشی نو ربحه(ګته)به شریکه وي پهما بین ددوي کی په هغه شرط باندی چه دوی شرط کړیدوي.([3])والله تعالی اعلم بالصواب.

---

[1] التسهیل الضروری لمسائل القدوری،صـــ۲۳۲)

[2] الفقه الحنفی وادلته ،ج۲صـــ۱۲۳)

[3] الفقه الحنفی وادلته،ج۲صـــ۱۲۱)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{د:- دمضارب لپاره دتنخوا مقرورول حکم}

مسئله:- که یو کس چاته روپی دمضاربت لپاره ورکړی اوورته اوایي چې: مولدورباندې واخله اوچلوه یې چې څومره کټه دورباندې وکړه هغه شریکه ده اوموتر چلولوتنخوا هم اخله داتنخوا اخیستل ورته روا ندي.وشروطها سبعة أمور:کون رأس المال ثمنا معلومًا عینًا مسلمًا للمضارب،وکون الربح شائعًا معلومًا حظ کل منه مشروط حظ المضارب منه حتی لوشرطه من رأس المال اومنه،ومن الربح فسدت.([1]).

﴿ پنځم فصل: داجاری پیژندنه ﴾

﴿ اول بحث: دمشروعه اجاری توضیح ﴾

محترمو! اجاره په لغت کې: هغې مزدورۍ ته وائی چه استحقاق ئې په عمل څخه سره وي،له دی وجه نه ددی په ذریعه دعاء هم کولی شی لکه مثلاً لرمائی:اعظم الله اجرک.او اجاره په اصطلاح دشرعی کې:د هغه عقد نوم دی کوم چه په عوض معلومه، اوپه منافعو معلومه باندی یې اطلاق کیږی، خواه عوض یې مالی وي،اوکه غیرمالی وي،لکه منافع یعنی مثلا چې دمکان استوګنه لره دسپارلی حیوان په عوض کی ورکول وي. اوهمدارنګه که عوض یې دین وي لکه پیمانی واله شیان،یاموزونی شیان اویاعددی متقارب شیان لکه مثلا غوزان هګۍ اوداسی نور.اوکه عوض یې عین وي لکه دوای(څاروي)،اویارختونه(توکرونه)،اوداسی نور.پس هبه،عاریه،او نکاح ددي اجاري تعریف نه خارج شو،ځکه چه پدی کی دعوض په مقابلي سره صرف دمنافعورواوالی وي،نه داچی ددوی تملیک ورسره حاصل کیږي.البته قیاس اجاره جائزه نه بولي،ځکه چه پدی کی معقود علیه منفعت وی،کوم چه په وخت دعقد کی موجود نوي، بلکه دده وجود روسته وي،

[1] (الدرالمنتقی في ذیل مجمع الانهار، ج۳ص۴۴۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ځکه چه دائنده موجود کیدونکی شئ طرفته دتملیک اضافت صحیح ندی، لیکن قرآن کریم اواحادیث شریفه ددی په صحت شاهد دی،دسبحانه تعالی ارشاد مبارک دی"علی ان تاجرنی ثمانی حجج"اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چی:"مزدورته دده مزدری دده دخولی اوچیلیږه وړاندی ورکوی"([1])دینه علاوه نورډیرصحیح احادیث په صحیحینوو غیرهغه کی موجود دی چی داجاری صحت اوجوازترینه معلومیږی.

﴿ دوهم بحث:دمشروعه اجاری شرطونه ﴾

{ الف:- داجاری دصحت شرعی طریقی }

مسئله:-داجاری دصحت دپاره دمزدوری اومنفعت دواړو معلومیدل ضروری دی،البته مزدوری په معلومولوکی خوځه مشکل نیشته، لکن دمنفعت په معلومولوکی خوځه قدری مشکل شته،لهدا دمنفعت معلومیدلو لپاره دری طریقی دی:اول طریقه داچی ددی مدی بیان بائدوکړی شی،چه دمدی په بیانولوسره چی دمنفعت اندازه معلومیدل یولازمي خبره ده،پدی شرط چه منفعت یي متفاوت (جلاجلا) نوي،مثلا دکوراوزمکی په اجاره کی دابیانول ضروری دي، چه دومره مدی پوری به په دکورکی استوګنه،او دومره مدی پوری به دزمکی دکروندي دپاره وي،پس مده که کمه وی اوکه زیاته وي پروا نلري خوچی تعین یي وکړی شی،نواجاره به صحیح وي. البته داوقافو په صورت کی به ددریوکالونه ترزیاتی مدی پوری تعین کول جائز نوي. دوهم طریقه داچی هغه عمل بائد هم بیان کړی دکوم دپاره چه اجاره کوي لکه دجامو(توکر)رنګ کول،اوکندل،اوپه څاروی سورلی،یابارورړل وغیره،یعنی داسی بیان وکړی چه بیاپکی منازعت(جنګ) نوي،مثلا درنګوالی په صورت کی به دجامی (توکر)درنګ بیانول ضروری

---

[1] سنن البیهقی،ج٦ص-۱۲۱)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دي، چې سور رنګ دی اوکه سپین رنګ دی اود ګندلو په صورت کې دګندون ترتیب وغیره بیانول ضروری دي.دریم طریقه داچې هغې طرفه هم اشاره اوشي، چه فلانی ځای ته ددی شئ وړل ضروری دي،او چې کله یوکس اجیر شي، او ځای اوپیژنی، نومنفعت به یې معلوم وي، نو عقد داجاری به یې درست شي. (۱)

{ ب:- داجاری مهمو شرطونو تشریح }

مسئله:- اجاره چونکه په منزله دبیعی ده ،پدی وجه په کوم شرطونوسره چه بیعه فاسدېږی په هغی سره به اجاره هم فاسدېږی، لکه مثلاداشرط کول چه که مکان اونړېږی ،یادجرندی اوبه بندی شی ،بیابه هم په هغه اجرت لازم وي داشرط فاسده دي،دغه شان شئ ماجوره مجهول کیدل، یااجرت مجهول کیدل وغیره سره به اجاره فاسدېږی، پس په ، یامدت ،اویاعمل اجاره فاسده کی به اجرت مثل واجب وي، لیکن دمسمی (مقرره شوي) نه به زیات نه شي ورکولی.(۲)

{ ج:- داجاری مشروطه حکم }

مسئله:-که په چا یې داشرط مقررکړو چه ځمادا جامی(کپړی) به خاص ته کنډی،اویابه یې ته وښځی،اویابه یې ته رنګ کوی،نوداکاراوس په بل نه شی کولې په خپله به یې کوي اوکه داشرط یې ورته نوي کړی نوبیایې بل ته په کارورکولی شي.(۳)

{ د:- مستاجر بل مستاجرته دیو شئ په اجاري ورکولوحکم }

مسئله:- یوکس یودوکان په اجاره باندي نیولی دی ،چونکه دوکان په ښه

---

۱ ملخصاهدایه، ج۳ص۲۹۱)

۲ هدایه، ج۳ص۲۹۹)

۳ جنتی کالی، ج۵ص۴۲۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

موقعیت باندې دی دغه دوکان یوبل کس ته پریږدي خوپه دې شرط چې لوکړني مستأجرته به دتخلي په بدل کې یو څورویی ورکوي،نوددغه رویږو اخیستل ورته روادي(اذاکانت الاجارلمدة معلومة استحق المستأجر البقاء عليهاالى تلك المدة،فلوأراد رجل آخران يتنازل المستأجرعن حقه،ويصير هوالمستأجربدله،يجوزللمسأجرالأول أن يطالب بعوض،ويكون ذلک نزولاً عن حق الاستجارّبعوض،ويجوزذلک قياسًا على النزول عن الوظائف بمال، ولكن يشترط لذلک أن تكون الاجارة الأصلية الى مدة معلومة،كعشرسنين مثلا ويتنازل المستاجرفى اثنائها.([1])

﴿ دریم بحث: دمکان اودوکان داجاری شرعی احکام ﴾

{ الف:–د دمکان اودوکان اجاری کولو شرعی طریقه }

مسئله:–دمکان اودوکان اجاره جائزه دی،اګرچه هغه کاربیان نه کړی کوم کار چه په مکان اودوکان کی مستأجرکوي،مګردغه صورت استحساناً جائز دی،ورنه دقیاس په لحاظ سره خوجائز ندی،ځکه چه معقود علیه مجهول ده،پس وجه داستحسان داده چه دوی کی عمل متعارفه یعنی په عرف کی استوګنه ده،کوم چه په اختلاف دعامل سره نه مختلافه کیږی،دا قاعده ده چه امرمتعارف پشان دمشروط دی،اوس مستاجرچه کوم کار غواړی هغه پکی شرعًاکولی شی،ځکه چه عقدمطلق شویدی،البته اهینګر (لوهار)،دوبی،اوجرندی واله،اوداسی نورچه خپل عمل یعنی اهینګری وغیره پکی نشی کولي،ځکه چه پدی کارونوسره عمارت کمزوری ګیږی،اوتاون ورته رسیږی.لیکن که دغه کارونه یې په اول عقد کی بیان کړی وي،بیاخوکوم مشکل نشته بیادغه کارونه پکی کولي شی([2])

---

[1] (بحوث في قضايا فقهية معاصرة ج۱ص۱۱۴). وكذافى ردالمحتارج۷ص۳۱).

[2] هدایه، ج۳ص۱۹۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ ب:- دمستاجر صلاحت او اختیارات }

مسئله: که یوسړي کوراومکان په اجاره (کرایه) ونیولو،دغه سړي لره جائز دی چه هرخوک پدی کوراومکان کی اجاری سره اوسوي وسولي شي، خو پدی شرط چه دغه کوراومکان به ئی قبض کړی وي،که په مثل دهغه اجاری باندی ورکوي چه ده په کومی اجاری سره ئی نیولی دي،اویایي د هغه اجاری نه په کمی کرایی سره ورکوي،کچیری په زیاته کرایه سره ئی دغه کوراومکان ورکړه دهغه کرایی نه چه ده په کمی کرایی سره نیولی وه هم جائز ده،مګرده لره دغه زیادت بهتره ندی،البته که مکان کی ئی جوړښت برابری اوبادروازی وغیره یي پکی جوړی کړی وي، نوبیا زیاتی کرایی اخستل پروا نلري.([1])

مسئله: که یوسړي یومکان اوکورپه اجاره سره ونیولوچه پدی کوراومکان به اوسیږي،اوکنجیانی(کلی)مالک ورته وسپارلی،اومده داجاره تیره شوه خو ده ترینه استفاده ونکړه،نوپه دغه مستاجرباندی اجرت(کرایه)لازم دي، یعنی برابره خبره ده چه دی پکی اوسیدلی وي اوبانه،مګرکچیری منع کړی وی یو منعه کونکی دحاکم وغیره طرف نه بیاکرایه وربانډی لازمه ندي.([2])

{ ج:- دمکان اوکوردکرایه یوخومهم صورتونه }

مسئله:-دمکان اوکوردکرایه یوخومهم صورتونه دادي اول صورت: دمکان مالک کوم زرضمانت چه د(ډپوزټ)په نامه سره دکرایه دارنه پیشکی رقم(روپئ)اخلي،نوغوره خبره داده چه هغه رقم بعینه محفوظ او ساتلی شي،پس کوم مالک چی دغه مال اولګوی نو هغه به ددی رقم ضامن وي،چی دکرایه داری دمودی په ختمیدوئی سره به یي سمدستی کرایه

---

[1] الفقه الحنفی وادلته، ج۲ صـــ۸۴)

[2] الفقه الحنفی وادلته، ج۲ صـــ۸۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دارته واپس ورکوي.دوهم صورت :که یو مکان یادوکان په کرایه ور کړی شی،اودمکان مالک درواجی پکړی په نوم چی داصلی میاشت وارکرایی نه علاوه رقم هم دکرایه دارنه وصول کړي، نودابه کنړلی شی چه دمکان مالک ددغه مکان واپس اخستودحق نه لاس واخستلو،اوددی عوض ئی وصول کړو، نومالک دپاره به دغه رقم اخستل جائز وي،خوبیاکه دمکان مالک کرایه دارنه مکان واپس اخستل غواړی، نوکرایه داربه داحق لری چه دمکان خالی کولو په عوض کی دمالک نه دومره څه رقم وصول کړي په کوم چه دواړه فریقه راضی شی، اوپدی صورت کی کرایه دار دهغی خپل حق نه لاس اخستی شی ،چه بل کرایه دارته ئی دورکولودپاره دمالک دایوخاص رقم داداکولودپاره دمالک نه دیوخاص رقم ورکولوپه عوض کی حاصل کړی وي.

دریم صورت: دمکان مالک چه پکړی وانخلی او کرایه دارته ئی ورکړی، په اصل معاهده کی داجاری او کرایه څه موده نوی تاکلی شوي، نودمکان مالک اختیارلري چه څه وخت اوغواړی دغه مکان کرایه دارنه خالی کړی، البته پکاردی چه دمکان مالک خالی کولودپاره کرایه دارته دومره مهلت اومیعادورکړی،چه مقامی حلاتوسره سمون اومناسبت ولري،مالک اوکرایه داروته پکی څه خاص ضررنه وي، خوکرایه دارلره هم پکاردی چه په دغه مناسب اوتاکلی میعا دکی مکان ورته خالی کړي. (۱)

{ د:- دمنقولی شئ اجاری کولوحکم }

مسئله:-که یوسړي یومنقولی شئ (چه یوځاي څخه بل ځاي ته وړلی شي) په اجاره (کرایه)سره ونیولو، نومخکی دقبض څخه ئی بل چاته په اجاره نشی ورکولی ،لکه چه په بیعه کی هم دحکم دي چه مخکی دقبض څخه

---

۱ جدیدفقهی مسائل،ج۲صـــ۳۵۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

لې نه شي خرڅولی، اوکچیری په اجاره سره ئی غیرمنقولی شی ولیږلو
، نو ارداه ئی وه چه بل چاته ئی په اجاره ورکړی،نومخکی دقبض څخه ئی
هم دشیخینو په نزد ورکول جائزدی،البته امام محمدرحمه الله تعالی علیه ئی
خلاف ده،اوچاوئیلی دی چه داجاره بالاتفاق جائزه نده. (۱)

{ ه:- دکان یاسراي داجاری شرعی طریقه }

مسئله:- دکان یاسراي په اجُرت اخیستل صحیح دي هُولازم دي چي
دکرایی مقدار،اوموده وتاکل شي ،البته هغه سړی به پدي کی څه کوي
استوګنه به پکی کوي،یاڅه بل کارپکی کوي،ددي خبروتاکل لازم
ندی،هُوکه سرای دیوه داسی لوي درانه کارلپاره استعمالوی چي په هغه
سره دسرای کیفیت ته تاوان رسیدلای شی دهغه وضاحت کول په کاردي
لکه دکالوپرپرولوکار،چی دوبیان ئی کوي،دغه ډول تنورپه دُکان کي
جوړول،یااُستاکاري،،دلاکی،، او دژرندي کار،یاداډول دنورو کارو اراده
وي بیالازم دي چی ددي وضاحت وکړي .(۲)

{ و:- دحمام داجاری شرعی حکم }

مسئله:جائزدی حمام واله ته اجرت دحمام،ځکه چه پیغمبرصلی الله علیه وسلم حمام
دجحفه ته داخل شوه وه،اوعرف هم پدی دلیل دی،ځکه تولوښارونوکی
خلق حمام واله ته اجرت ورکوی سره لدینه چه نوی معلوم اندازه د هغو
اوچه استعمالیږی،نواجماع هم دلالت کوی په جوازددی اجرت باندی.(۳)

---

۱ الفقه الحنفی وادلته، ج۲ص۸۵)
۲ (البحر الرایق ،ج۸ص۹-۱۰)
۳ الدرالمختار، ج۵ص۳۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿ څلورم بحث: دزمکود اجاری شرعی احکام ﴾

{ الف:- دزمکی داجاری دکروندی توضیح }

مسئله:- که یوسړي په اجاره سره زمکی لپاره دکروندی ونیوله داجائزدی اواجاره کوونکی لره پدي اجاره سره دابُووار او زمکی ته دتللو لاره ورشته ،اگرچه دغه دابُووار اولاره ئی په اجاره کی شرط کړی نوی، الصد داعقد داجاره هلته صحیح دی چه بیان کړی هغه شئی چه په دا زمکی کی ئی کړي، باورته داسی وائی چه وکره په دا زمکی کی کوم شئی چه ستاسوخوښ وي اوتاپي غواړی، دغه دی لپاره چه بیامنازعه (جنجال) پکی واقع نشي ،او هلته په بیعه کی مقصوددمالک ملک رقبی وي نه نفعه حالی ،فلهذا دنمکینی زمکی بیعه صحیح ده ،او دنمکینی زمکی اجاره ئی صحیح نده ا، وکچیری یوکال لپاره یي په اجاره ئی زمکه ونیوله نوده لره جائزدی چه دوه فصله په دا زمکی کی وکړي ،دیودپسرلی اوبل منی، البته دا دوه فصله کرل صرف په همدغه کال کی وبس. (۱)

{ ب:- زمکه دحاصلاتو دهلاک کیدلو حکم }

مسئله:-که یوسړي زمکه په اجاره کړه ،مثلاً څلورجریبه زمکه یی په دري خورواره غنم باندي اجاره کړه،پس دزمکی حاصلات څه حیصه هلاک شو،نواوس به ټول اجاره ورکوی، اودهلاک شوی حیصه نقصان به ترینه نشی کمولی،څکه قاعده داده چه کوم شئ هلاک شوکه هغه په آلت سماوي سره وي که ارضي سره،اودزمکه کښت حاصل ونه رسیژي، نود زمکي مالک په اجاره دارباندي دزمکی داجاره مکمل حق لری،البته کچیري دزمکی ترکرلو مخکی یوآفت نازل شی،اواجاره دراته داموقعه په لاس ورنشي چه زمکه وکري،په دغه صورت کی بیا په اجاره داردا جاره

---

[1] ردالمحتار، ج۵ص۱۸

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

حق نشعه .صاحب قاضي خان کی ليکلی،،رجل استاجرارضًا ليزرعها، فاصاب الزرع آفة فهلک اوعرق ولم ينبت كان عليه الاجرلانه قدزرع، ولوغرقت الارض قبل ان يزرعها فلااجرعليه انتهی.(۱)

{ ج:- دزمکی داجاری ديواختلا فی صورت بيان }

مسئله:-که ديوسړي زمکه وي اوبل سړي محنت وي،نوددي زمکی پيداوار به په دواړوکي تناسب په لحاظ سره ويشل کيږی،امام ابوحنيفه رحمه الله تعالی که څه هم په برخه دزمکی دورکولوڅخه مکمل منعه کړي، مګرامام صاحب مبارک ځينوشاګردانو اوزياتره فقهاء کراموددي اجازه ورکړي،دهُو ددي څخه ئی منع کړي ده چی دزمکي يوه خاص برخه بايدداواريوخاص مقدارپه دواړوکی يودځان لپاره مخصوص کړی،اوفتوی هم پردي دهِ کمافی صحيح البخاري کتاب المزارعة باب قبيل المزارعة بالشطر، وترمذی عن رافع بن خديج رضی الله تعالی عنه ابواب الاحکام باب ماجاءفی المزارعة، دمزارعت، تفصيلات ديوبل سره تر معاهدي اوعُرف لاندي خلاصيږي ،تخم دمالک لخواوي که دبزګرلخوا؟ دايه عُرف اوعادت موقوف دی، دادول کښت تررسيدوورسته دهغه ټولول،اوکورته رسول ،دچاپه ذمه ددي پدي ټولوکي دخلقو عام عُرف اوتعامل داصل او بنياد دحيثيت لري،اودهغه په ړناکی به فيصله کيږی.(۲)

{ د:- دزمکی داجاری اوقفيز الطحان متعلق توضيح }

مسئله:- يودهقان ،،زمنيدار،،لوګری ته ووائي چه دغه يوجريب زمکه غنم لوکړه ستاته به مثلاً پنځه منه غنم درکړم،ياتريشل کوونکی ته ووائي چه يو جريب غنم تريشل کړه مثلاًپنځه منه غنم بادرکړم نوکه دغه شرط يه عقد

---

(۱) (فتاوی قاضيخان علی هامش الهندية ،ج۲ص۳۱٦)

(۲) (فتاوی هنديه، ج۵ص۲۳۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کی موجودشو بیایه قفیزالطحان کی داخل ده یعنی ناجائزده اوکچیری دغه شرط لوکونکی یاتریشل کونکی په دهقان ونه لګوي نوبیا دغه عقد صحیح ده اوقفیز الطحان څخه جداده که بیاهم دهقان ددغوغنمو څخه لوګري لوکړی یاتریشل کړی وڅه حیصه ورکړي نورواه ده ولودفع غزلاً لآخر لینسجه له بنصفه،،اي بنصف الغزل اواستاجربعلاً لیحمل طعامه ببعضه، اوثورا لیطحن بره ببعض دقیقه فسدت فی الکل لانه استاجره بجزءمن عمل فسدت فی الکل لانه استاجره بجزء من عمله،والاصل فی ذالک نهیه صلی الله علیه وسلم عن قفیزالطحان، وقدمنا فی بیع بالوفاءوالحیلة ان یفرزالاجراولاًاویسمی قفیزابلاتعین ثم یعطیه قفیزامنه فیجوز،قوله قفیزا بلاتعین،، اي من غیران یشترط انه من المحمول اومن المطحون فیجب فی ذمة المستاجر انتهی.([1])

{ ه:- دمنافعو په منافعوباندی داجاری کولو حکم }

مسئله:-اجاره دمنافعوپه منافعوباندی جائزدی خوچه کله ئی جنس مختلف وي، لکه اجاره داستوګنی کورشوه چه په فصل دزمکی سره یي اجاره کړي، لهذاکچیری یي جنس متحد وه بیا اجاره جائز ندی،لکه داستوګنی کورداستوګنی دکورپه عوض سره اجاره شي،البته کچیری دوکانونه وه نو بیا اجاره جائزدی،لوجه داختلاف دمنفعت نه،اوچا وئیلی دی چه دا هم جائز ندي، لهذکچیری دمنفعت دمنفعت په جنس کی اجاره فاسده وشوه، اوبل کس ترینه خپل منفعت پوره کړو، نوپه ده کس باندی اجرمثل لازمی دی،هغه بل کس لپاره په ظاهر روایت کی وعلیه الفتوی.([2])

---

[1] (الشامیه،ج۵ص۴۰)

[2] ردالمحتار،ج۵ص۳۹)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ و:- اجاره فاسده کی دمزدوری یوخاص حکم }

مسئله: که داوړه کولودپاره ئي چاله غنمودانی ورکړلی،چه مثلاددینه په پاؤ وزن ددغه داوړه کولومزدوری واخله،با پتی ئی پرلوکولواوریبلوورکړو،چه دومره غله یاحاصل ئی ته مزدوری واخله نودغه اجاره فاسده دی.داجاری فاسدی داحکم دی چه څه شئ مقررشوی وي هغه شئ به په عوض کی نه ورکوئی،بلکه ددومره کاردپاره چه څه مقدار مزدوری وي،اویاد دومره کورمکان دپاره چه څومره کرایه وي هغه به ورکوی،لیکن که دستوراو عادت نه زیات وه،اوددوی مابین کی مقررشوی مزدوری یاکرایه کمه وو، نوبیابه مقرره شوي مزدوری یاکرایه ورکوی اوددستورموافق مزدوری یا کرایه به نه ورکوي،یعنی کومه چه کمه وي هغه مزدوری یاکرایه به اخلی.([1])

{ ز:- اجاره فاسده دیوعجیب صورت بیان }

مسئله: که غوابیزمیخه دپیودپاره په کرایه اخستل جائزنه دي، او همدارنګه څه جانوراوحیوان په نیمه ورکول جائز ندی،یعني چرګه ئی چاله ورکړه چه داساته او بچی به ئی نیم ځمااو نیم ستاوي داجائزنه دي.([2])

{ ح:- دزمکی داجاری عشرآداکول حکم }

مسئله:-زمیندارته که منافع دپرپاتی کیږی نوعشراداکول په هغه باندی دي اوکه مستاجرته منافع دپر وی نو عشراداکول به په ده باندی وي.چونکه عموماً مستاجرته ګټه دپره وي لهذا عشربه په ده باندی وي.([3])

﴿ پنځم بحث:دسپرتیایابارورلولپاره دسواري داجاری شرعی احکام ﴾

{ الف:- دسپرتیا یابارورلولپاره دسواري کرایه اخیستلو شرائط }

مسئله:-دسپرتیا یابارورلولپاره دسواري کرایه اخیستل روادي، فقهاؤ کرامو

---

[1] جتی کالی،ج۵ص۴۲۸)
[2] جتی کالی،ج۵ص۴۲۸)
[3] ردالمحتار،ج۲ص۷۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

لیکلي دي چې ددي لپاره دسپور هغه سامان چې باروی دکوم شاي څخه ترکومه ځایه ورل کیږي دهغه تاکل لازم دی. (۱)پس دفقهاو کرامو په نزد دي تولووضاحتواصل مقصددامکاني جګړي اواختلاف مخنیوي دی،په موجوده زمانه کي چه څه تیزرفتاره سورلی دي دهغه لپاره چې څه قوانین او قاعدي دي دهغو مطابق به معاملي کیږی،ځکه چې دقانون له کبله ددي حیثیت دعُرف دی ،اوکوم شیان چې دعُرف برابروي هغه دجګړی او اختلاف مخنیوی کوي.

{ ب:- دسپرولو اوبارورلولپاره دموټرو داجاری کولو توضیح }

مسئله:- دسپرولو اوبارورلولپاره اجاره دسیاراتو(موټرو) جائز ده ،ځکه چه منفعت ئی معلوم دی،اوکه موجرمقید کړی مستاجرلره په قیادت دموټرسره نو بیاجائز ندی دغه مستاجرلره چه بل څوک پکی سُپرکړی،ځکه چه خلق په سپرلی کو لو کی زیات فرق لري،نوکه سپر ید ونکی ئی متعین کړوبیا د مستاجرځخه سوا بل څوک پکی سُپرشواوهغه هلاکه شوه،نو مستاجرد هغه قیمت ضامن دي،اوکه هلاکه شوه اومستاجروربانډی پخپله سپروه،نو بیا يې ضامن ندي،بناء پدی باندی کچیری مثلاًپه استعاری(سوال)سره ئی دچاځخه موټرواخستواوهغه موټر هلاک شو،اومستعر پخپله پکی سپروه،او دی سبب هلاکت نه وه نوبیاضامن ندي،اوکه بل چاته ئی ورکړه اوبیاهلاکه شوه نوبیا يې مستعرضامن دي،کچیری موټرئی دبارورلولپاره اجاره(کرایه)کړواومقدارئی معلوم کړو،اونوعه ئی هم معلومه کړه پس دغه اجاره جائزدي،اودغه مستاجر لره رواده چه بار کړی مثل دهغه چه دوي وربانډي راضی شویدي په ضرر کی ،یاکم دهغی اندازی څخه،لوجه نه تفاوت څخه،یعنی که هلاک شودغه مستاجريې ضامن ندي،البته دغه مستاجرلره جائزنده چه زیات دمقدارمقرره

---

۱ (البحرالرائق،ج۸ص۱۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ځخه وربانديي بارکړی،کچيري زيات دمقدار مسمی ځخه په ضرر کی
وربانديي بارکړی،بياهلاکه شوه نومستاجريي پدي صورت ضامن دي.(۱)
{ ج:- داجاره کړی موټر دهلاک کيدلو دتاوان زموارې تشريح }
مسئله:- که يوموټر ئی تريومعلوم ځای پوري په کرايه ونيولو،بيادهغه حد
معلوم ځخه تيرشو،نودمستاجر پدی خلاف سره ضامن وګرځيدو،چه کله
بيراوپس شی اوموټرئی خپل مالک ته وسپارلو،نودتلواجرت وربانډی لازم
دی،اودارالتلواجرت وربانډی واجب ندی،چه کله ئی دتلوراتلودواړلپاره
ره کړی وی،ځکه چه کله دخپل مقررحد ځخه تيرشونومخالف وګرځيدو
نولازم شوپه ده باندی ضمان (تاوان)،اوموژاحنافوپه نزد اجرت اوضمان
دواړنه جمع کيږی؛ اوکچيری موټرئی يومعين ځای پوری اجاره کړو،بيا
لاړنه شو،پخپل کورکی ئی موټراودرو،تردی چه مده تيره شوه اوهغه
څه حادثه هلاک شو،په ده باندی دهغه ضمان لازم دی،اوکرايه وربانډی
،ځکه چه مستاجر هغه موټرلره بندکړی وه په ځای هغه کی چه موجر
ته اجازت نه وه؛اوهمدارنګه که موټرئی اجاره کړی وه يوه ځای ته،اوبيا
يوبل ځای ته روان کړ،نودی ضامن دی، اګرچه هغه ځای لدينه قريب
ری،بياکه څه حادثه پيشه شوه چه دی مخالف وګرځيدو،نو اجرت په ده
باندی نشته په ده باندی دهغه ضمان لازم دی، اوکچيری په اجاره سره ئی
يو معلوم ځای ته ونيولو،نولاړوپه غيرعام رود (سرک)باندی،نوکچيري
خلقودغه لاره استعمالوله،نونه ګرځيږی مخالف نودی ضامن ندی،اوکه خلقو
دغه سرک نه استعمالولو،اوبيا په هوه حادثه باندی هلاک شو،نودی ئی
ضامن دی په ده باندی دهغه ضمان لازم دی.(۲)

---

(۱) الفقه الحنفی وادلته، ج۲ صـــ۸٦)
(۲) الفقه الحنفی وادلته، ج۲ صـــ۸۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ د:- دمزدوري اوملازمت دتاوا نونو دضامن دوه مهم صورتونه }

مسئله:-داجیرمشترکه اواجیرخاص دتاوانوذمه واري په ارتباط علماء لیکلی چه دمزدوریا ملازم څخه یو شیئی ضائع شي،ددي تفصیل دا دی چه دمزدوري اوملازمت دوه صورتونه دي،یوداچی دمعاملي بنیاد کارزکه دوهم داچی دمعاملی بنیادوخت وي،داول صورت لکه رنګساز اوزبئی،ملاح حمال،راعی،حفار،اوخیاط وغیره لکه مثلا دخیاط کارکښل دي چی یوچاته توکر،،رخت، دکنډولو لپاره ورکړي دلته هغه وخت پاتیږندي، دکارپاپنده دي چه توکر،،رخت،،به کنډي،ددوهم مثال داډول دی چی څوک مدرسی لپاره مدرس مقررکړي چی هغه به هره ورځ پنځه پاتیږي یا اته ساعت تعلیم ورکوی ، دلته هغه دوخت پا پینده ، او پدي وخت کی دحاضریدومکلف دی،که څخه هم شاګردان وي که نوي،دسبق ویلو نوبت راشی که رانه شي،داډول دپوره ورځی لپاره یومزدور دسرای جوړولو لپاره ونیول شي،دلته هغه ددي خبري پاپنددی چی توله ورځ خپل وخت ورکړی،اول قسم ملازم ته،أجیرمشترک،،اودوهم قسم ملازم نه،، اجیرخاص،، وائي؛ که داجیرمشترک څخه یوشئی ضائع شي هغه پخپله دي ضامن دي او تاوان به ورکوي،اجیر مشترک سره چه کوم مال منا وی دغه امانت وي، پس که دغه بلاتعدی هلاک شی نودامام صاحب، زفر اوحسن بن زیاد رحمهم الله تعالی به نزد به ئی دی ضامن نوی،دصاحبینو او امام مالک اوپه یوقول کی دامام شافعی رحمهم الله تعالی په نزدبه دی ضامن وي مګرکه داشی په داسی سبب سره هلاک شی دکوم نه چه بچ کیدل حفاظت ممکن نوي،لکه پخپل مرګ ئی مړه کیدل،یااورلګیدل وغیره، او کوم شئی چه داجیرمشترک په عمل سره تلف شی لکه دوبی په ټکولو سره کپړی (جامی)څیری شی، یاداجیرپه خوئیدوسره،یادهغه رسی چه بوج پری

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کړلی وی اوشوکیږی،مال ضائع شی،بادملاح(کشتی بان)په بی قاعده رانسکو دو سره کشتی ډوبه شئی،اومال غرق شی نودی به یې ضامن وی،خلافا لزفر والشافعی رحمهماالله تعالی موژداوایوچه تحت الاذان هغه عمل داخل وی کوم چه تحت العقدداخل دی،اوهغه عمل صالح دی نه چه عمل مفسد وي البته د کشتی ډوبیدو یاسورلئی نه په غورځیدوځوک مړی شی نوددی به یې ضامن نوي،ځکه چه پدیکی دبنده ضامن دی اودبنده ضمان په عقدسره نه واجبیږی،بلکه په جنایت سره واجبیږی.(۱)

دوهم اجیرخاص دکوم چه دوهم نوم اجیرواحد هم دي هغه ته وائی کوم چه دیوه وخت معینه پوری صرف دیوه مستاجر کارکوي، دی چه کله خان په مده دعقد کی دمستاجرخدمت لپاره پیش کړي، نودای دجرت مستحق کیږی خواه مالک دده نه کاراخستی وي اوکه کاریې نوي ترینه اخستی، لکه هغه سړی کوم لره چه ئی دبومیاشتی پوری ددرس دپاره، یاخدمت دپاره،یابېزوخرځولودپاره نوکرکړی وي دجرت مستحق دي.(۲)

پس که داجیرخاص څخه دده دزیاتوب اورادي پرته څه سامان ضائع شي هغه ددي ذمه وارندي.(۳)

{ ه:- مزدوردمزدوري دآدایني توضیح }

مسئله:- مزدوردمزدوري مقداردي مخکی څخه واضح شي اودادي شکمن نه پریږدي،پس رسول الله صلی الله علیه وسلم دیوه مزدورڅخه دکاراخیستلو څخه منع کړي ده ترڅوچي دهغه مزدوري واضح نه شي،"ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی استجارة الاجیرحتی بین له اجره"،السنن الکبری

---

(۱) ملخصا الدرالمختاروردالمحتار، ج۵ص۴۱)

(۲) ردالمحتار، ج۵ص۴۳)

(۳) فتاوی عالمگیري، ج۳ص۵۵۵).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

البيهقي،درسول الله صلى الله عليه وسلم عادت مبارک داوو چی هيچاته کی دهغه دمزدوري څخه کمه مزدوري نه ورکوله ،کمافي صحيح بخاري عن ابی هريرة رضی الله تعالی عنه؛اوهمدراز دمزدورمزدوري بايدژرترژره وکړل شي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چی دمزدورمزدوري دخولي تروچيدو مخکی ورکړئی ،اعطوا الاجير اجره قبل ان يجف عرقه(ابن ماجه وبيهقی). اوفقهاؤ کراموليکلي دي چي دمزدوری دآداينی دري صورتونه دي اول:پخپله آجر،،کار اخيستونکی، ترکاردمخه مزدوري ورکړي،دوهم: مزدوردشرط لکولی وي چي مزدوري به مخکی راکوي، په دي حالت هم ده ته په کاردي چی ترکارمخکی مزدوري ورکړي، دريم: مزدور کار پوره کړي دکارپوره کيدوسره سمدستي مزدوري ورکړي.(۱)

{ و:- دمزدوری پرآړه ددولت مسؤلت }

مسئله:- دحقوقو ساتنی په اړه قاضي ابوالحسن ماوردي رحمه الله تعالی د،، محتسب،،په فرايضو کی ليکي-که يوسړی پرمزدوراوملازم،اجير،زياتوب وکړي، مثلاً مزدوري کمه ورکړي، اويا کارزيات ترينه اخلي، محتسب دي دادسی کولوځخه دسړی راوګرځوي اووی دبيروي،اوکه زياتوب دمزدور له طرفه وی،مثلاً کارلږ وکړی اومزدوري زياته غواړي،هغه دي هم ددي څخه راوګرځوي،اوودي ئی بيروي،که ديوبل دخبروځخه انکاروکړی ، دفيصلی حق بياحاکم ته دي.(۲)

{ ز:- د ترلي مزدوری پرآړه اسلامی هديات }

مسئله:- ترلي مزدوري ظالمانه رسم رواج ده، يوسړی بل سړی په اسلام کی ديته مجبورولای نه شي دمزدوري به دخامخاکوي،بلکه اسلام داخالص

---

۱ (الفتاوى الهندية،ج۳ص۵۰۶)

۲ (الاحكام السلطانية للماوردي،ص۳۹۹ ،الباب عشرون)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دانسان ذاتي مسئله اوحق ګڼي چه هغه دچارکارکوي اوکه ئي نه کوي ، بلکی حکومت هم یوسړی اوااستو ګن دیته مجبورولای نه شي،ما سیواد دي وجی نه چی کله داسي حالات پیداشي چي دقومي اواجتماعی مصلحت له کبله خلق یوه کارته مجبورکړل شي،دغه لامل ده چي فقهاوو دنکاح ،درنیولو،اوخرڅولو،اونورومعاملو په ډول پدیکی هم داواړو اړخو رضایت لازم بللی دی.فرمائي—وامارکنها فالایجاب والقبول.(۱) اوهمدرنګه په اسلام کی هرسړی ته دیوځای څخه بل ته دتګ راتګ آزادی حاصله ده، اوداخالص ذاتي او شخصي مسئله ده هغه په هرښاراومنطقه کي مزدوری او ملازمت کول وغواړي کولای شي چه شرعی موانع موجود نوي،الله تعالی فرمائي،، وَمَن يُهَا جِرْفِي سَبِيلِ اللهِ يَجِدْ فِي الأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ج (سورت النساء—۱۰۰)

{ ح:— دمزدوررانو فرائض اوزموارى }

مسئله:— دمزدوررانواوملازمانوفرائض اوزموارى داده:—چه یوبه پکی قوت اوصلاحیت وی بل پکی آمانت اودیانت وی، څنګه چی قرآن مجید کی هغه ته مختصراً په دوولفظو کی اشاره شویده حضرت شعیب علیه السلام چي موسی علیه السلام په کوم بنیادخپل ملازم وټاکی هغه دده دلور دغه اطلاع وه(يَاأَبَتِ اسْتَئْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَمَنِ اسْتَئْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ (سورت القصص)

ژباړه:— اي زماپلاره دی مزدور و نیسه ، بیشکه غوره مزدورچي ته ئي مزدورنیسي هغه څوک دی چي قوي ،اوامانتګروي.پس چي داهلیت پرته دي دهیڅ کار ذمه واري نه اخلي،ځکه فقهاوو کراموهغه طبیب چي په عقل کي ئي فرق راغلی وي،الطبیب الماجن،،دعلاج څخه دراګرځولوامرکړی دي(الاشتباه والنظائرلابن نجیم)دویم داچی کوم کارورته سپارل شوي وي،

---

(۱) (الفتاوی الهندیه،ج۳ص۵۰۴، کتاب الاجاره)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

باید هغه کاراما نتګری اوایماندار ه سره تر سره کړي،لکه څنګه چې علماوو لیکلي دي–چې په عدل سره وزن وکړي،په دي کې دهم داخل دی چې مزدوران دي دمزدوري دوخت پوره پوره حیال وساتي،(کمافی معارف القرآن لمفتی محمدشفیع رحمه الله تعالی) او په آمانت کې دهم داخل دی چې رشوت دي نه آخلي، رشوت دادي چې ورسپار شوي کارترسره رسولولپاره جلا نوري پیسې واخلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډیره سختي د دي څخه منع کړي ده فرمایئلی دي–رشوت اخستونکی اوورکوونکی دواړه دوزخیان دي،(الراشي والمرتشي کلاهما فی النار،طبراني عن ابن عمرورضی الله تعالی عنه).پس رشوت یوازي داندي چې درشوت په نوم واخیستل شي،بلکې هغه پیسې هم په رشوت کې داخلي دي چې عام خلق دیوچادمنصب له کبله د،،هدیه،، اونذرونیاز،، تحفه، په نوم ورته وړاندي کړي، دادرشوت یوداسې قسم دي چه بنه دینداره خلق په آخته دي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: چې کوم سړی دیوچالپاره سفارش وکړي هغه دده لپاره تحفه واستوي،(ابوداؤد عن ابن امامه رضی الله تعالی عنه) ، فقهاؤکرام فرمائی:چې دقاضی لپاره نارواده چې دمقدمې په لړکې دطرفینو یعنی دمدعي اومدعاعلیه څخه تحفې قبولي کړي.

{ ط:– داجرت مثلی یومهم صورت }

مسئله:که یومزدورئی ونیولواواجرات ئی ورته معلوم نکړو،نوده لره وجب دی اجرت مثلی چه خومره اندازي پوری مزدزرئی رسیږی هغه به ور کوي، البته اجاره فاسده کې په تخلیه (بی کاری وخت) یعنی نه کارکولو په صورت کې اجرت نه لازمیږی، لیکن په اجاره صحیحه کې په تخلیه سره اجرت لازمیږی که نفعه ئی دمزدورنه اخستی وي اوکه نوي اخستی.([1])

---

[1] الفقه الحنفی وادلته ،ج۲ص۹۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ ی:- ناروا ملازمت او مزدوري کولو گناه }

مسئله:- دداسي شيانو ملازمت اومزدوري روانه ده چه گناه وي، خرنگه چې گناه کول روانه ده ددادول دگناه لپاره لامل اووسيله جوړيدل، اوپه دي کې مرسته هم ناروده،او دځومره درجې چې گناه وي په هغې کې مرسته هم دهغو مره درجې گناده ،لکه سُرنا، نوحي سازوسُرود، سينما، سود بنک ملازمت،دسندرواوعزلودآلاتو،اوداسبابو تجارت يامزدوري چې دهغو مقصد يوازي لهوولعب وي،لکه بتان جوړول،بتان خرڅول دعزلو اوسندروسامان،فلمي ريگاټونه، کيستونه، فحش تصويرونه او مضمونونه چاپول اوخوررول،اودسي نورودغه شيان په کارومزدورنيول صحيح ندي، اودي دمزدوري حقداروندي،دناروامازمتونه دي.لکه فقهاء کرام ليکلي- لايجوزالاستجار على شئى من الغناء والنوح والمزامير... ولاجرلهم فى ذلک.([1]) باب اجارة المعاصي، حتى كفاروسره په گناه کې مرسته جائزندي که څه هم وادوی په دين کې جائزوی، فقهاء ليکی رجل اب ذمی اوامراة ذمية ليس له ان يقوده الى بيعة وله ان يقوده من البيعة الى منزله لان الذهاب الى بيعة والى معصية والى المنزل لا.([2])

مسئله:-په ټنک ټکور،په مړوويرکولو،اوپه لوبوټوقوسره اجاره اخستل ناروادە.([3])

{ ک:- دکافر سره مزدوری کول حکم }

مسئله:-دکافرسره پداسی کارکی نوکری اومزدوری کول بالاتفاق جائزدي ، چه دمسلمان ذلت په کی نوي، او په کومو کارونوکی چه دمسلمان لپاره ذلت وي، لکه دکافر خدمت، اوددە دځناورخدمت ، وغيره نوبيا

---

[1] (عالمگيري، ج۴ص۳۳۹)

[2] (خلاصة الفتاوى، ج۳ص۳۴۶)

[3] كنزالدقائق، صـــ۳۹۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دامزدوری مکروه دي اوضرورت شدیده بهرحال ترینه مستثنی ده.[1]

﴿ شپږم بحث:داجاری دفسخی کولواحکام ﴾

{ الف:-موجراومستاجرخیارات }

مسئله:-داجاری فسخه:- موجراو مستاجردپاره خیارشرط اوخیارروایت صحیح دی ،اوپده خیار سره اجاره فسخه کولی شی،اوپاڅه داسی عیب پیدا شی په کوم سره چه نفعه اخستل فوت شی، لکه مثلادکورڼکیدل، یادجرندی اوزمکی اوبه بندیدل وغیره،لیکن که مستاجر دمعیوب شئ نه فائده اخستلی شوه نوټول بدل به ورباندي لازم وي،اوکه مالک ددغیب ازاله اوکړه نواوس به مستاجرته دفسخی داجاری حق حاصل نوي،بیادفسخ داجاری دپاره دموجر موجودکیدل ضروری دي،کچیری دموجرپه نه موجوګی کی ئی داجاری فسخ اوکړه نوپوره اجرت به ورکوي؛او همدارنګه کله چه یودمعاملي کونکونه مړه شي اواجاره ده دڅان دپاره کړی وه نواجاره فسخ شوه،البته که اجاره یي دبل چا دپاره کړی وه مثلا وکیل دموکل دپاره ،یاوصی دیتیم دپاره کړی وه،یاعاقد متولی دوقف وه، نویودمعاملي کونکوپه مرګ سره به اجاره فسخ نوي،ځکه چه پدی صورتو کي دملک دغیرنه منتفع کیدل یا اجرت اداکول لازم نه راځی،اوباداسی عذر پیداشي چه استفاده ترینه مشکله وي، لکه چادکان دتجارت دپاره په کرایه واخستوبیاددده مال ضائع شو،یاچا مکان یادوکان په کرایه ورکړو بیادی مفلس (غریب)اومقروض شو،اوددده سره دآدائیګی دقرض دپاره ددغی مکان یادوکان نه سوابل څه مال نه وه،یاچادسفردپاره په کرایه څاروی واخستو بیاده ته یومانع دسفریعنی څه ضرورت پیداشو،البته په کرایه دورکوونکی په حق کی ددی اعتبارنیشته،پدی ټولوصورتونوکی به اجاره

---

[1] امدادالمفتین مفتی محمدشفیع رحمه الله تعالی. صـــ۸٦۸)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

فسخ شي، دامام شافعي رحمه الله تعالى په نزدې اعذاروسره اجاره نه شي فسخ کيدي خکه چه دده په نزد منافع په مثل داعيانودي، موږاحناف دا رايوچه منافع غير مقبوض دي،اومنافع معقودعليه دی،نو په باب داجاره کی عذرداسی شولکه چه په مبيعی کی دقبضی نه مخکی عيب وی،نوخکه فسخ کيږی ليکن جامع صغير کی دی چه کل ماذکرناانه عذرفالا جارة فيه تنقض ددينه معلوميږی چه دقضاء قاضی ته احتياج نيشي.والله اعلم وعلمه اتم.(۱)

{ ب:- داجاری دفسخه کولو صورتونه }

مسئله:- که په کرايه اخستونکی اوورکونکی کی يوتن مړشی، نواجاره فسخه اوماته شوه، اوهمدراز که څه داسی عذر پيداء شی چه اجاره ماتول صحيح دی ،مثلا غواړی ،نودمجبوری په صورت کی ئی داجاره ماتول صحيح دی ،مثلا پانګه (چه آس پسی يې تړلی وي) ئی کرايه کړله ، بيائی نيت بدل شه د پانګه نه پاتی شو، نوماتول داجاره ئی صحيح دی،او همدراز که دچاکوم دستور اوقانون وي چی څه شئی کرايه کړی نو څه پيسی اوروپئ په اول د عقد کی به ورکوی، چه که ورسره لاړونوبيا به نوره کرايه هم ورکوي، اوکه پاتی شونو دا روپئ به ستامجانًا وي دا صورت جائزند ي دغه رقم به بياواپس کوی کچيری هغه ورسره نه لاړو.(۲)

﴿ اوم بحث:دښی کارونوباندی اجرت اخستلواحکام ﴾

{ الف:- دموضوع په اړه علمی څيړنه }

مسئله:-په دښی کارونوباندی اجرت اخستلوکی اختلاف دی،لکه تعليم د قرآن شريف،امامت اواذان وغيره، پس ائمه ثلاثه اواصحاب ترجيح وتخريج علماء کرام رحمهم الله تعالى ئی اجرت اخستل جائزبولی، اوبل خوا امام اعظم

---

(۱) ردالمحتار، ج۵ص۴۸

(۲) جنتی کالی، ج۵ص۴۳۰

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

رحمه الله تعالی دعبادت په هیڅ یو کاراجرت اخستل درست نه بولی، اونه دی قسم اجاری ته صحیح وائی. درواياتواومذاهبودتطبیق کولوداصورت دیرغوره ده چه د داجرت نارواوالی روایتونه په تقوی باندی حمل کړی شی، یاداهغه علماودپاره اوکنړلی شي چه داجرت اخستولونه بی پرواوي، اووختو نه ئی بنه تیربړی اوگټی وتی اودنوروضروریاتو پوره کولو نور اسباب هم لري، او داجرت درواوالی روایتونه په ضرورتمندی اومحتاجی باندی حمل کړیشی، لکه بیهقي شریف روایت ده "احق مااخذتم علیه اجراکتاب الله" نود علامه شامی رحمه الله تعالی رسائل ابن عابدین نوم سره مشهوریورساله دی نوپه ده رساله کی یې پدی موضوع باندی تفصیلي بحث کړیدی فاطلع ثمه.(۱)

{ ب:- حج بدل باندی اجرت اخستلوحکم }

مسئله:- یوسړی بل نفرته ووائي چه زمالپاره حج بدل ته ولاړشه ،هغه نفر ورته ووائي بنه دء ولاړبه شم، لیکن ته به ماته دلاری دمصرف خرچی څخه علاوه نوراجرت به هم راکوي،پس دغه اجرت په حج باندي اخستل جائزندي،ځکه چه دااجرت اخستل په عبادت دي اودنارواده .علامه شامی فرمائی: وبعضهم یفرغ علی ذلک مسئلة صحة استجارعلی الحج وهذاکله خطاء اصرح من الخطاء الاول،فقد اتفق النقول عن ائمتنا الثلاثة ابی حنیفة وابی یوسف ومحمد رحمهم الله تعالی ان الاستجارعلی الطاعات باطل.(۲)

{ ج:-په تحکیم باندی داجرت ورکولواخستلو حکم }

مسئله:- زمونږ په نزد تحکیم باندی اجرت اخستل جائزنه دی لیکن چه کله تحکیم مفت نشی کیدلی نوبعضی علماءفرمائی چه دخصمینو په رضامندئ سره دمحکمینودپاره اجرت اخستل چه هغوی په کتابونو کښی

---

۱ رسائل ابن عابدبن،صـــ۱۳ـــ۱۴)

۲ (انتهی بحواله شرط عقود رسم المفتی،ص۳۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ګڼلو سره راجح قول اوښائی او جګړه ختمه شی نودابه تعلیم اوتعلم باندی دجرت اخستلو پشان ده داناجائزنه ده .فتامل. (۱)

{ د:- فتوی باندی داجرت اخستلو حکم }

مسئله:- په فتوی اجرت اخستل حکم: فتوي ورکول دوه قسم ده یوداچه خوله باندي دځه حکم فتوی ورکړی، پدي باندي اجرت اخستل حرام دي، علامه مفتی محمدفرید رحمه الله تعالی فرمائي، اخذالاجرة علی بیان احکام الشرعی لایحل عندنا.(۲)دوهم قسم فتوی ورکول دي په تحریراو لیکلوسره، پدی اجرت اخستل جائزدي، چه څومره چه دده کاغذ قلم اولیکلو مناسب وي. لاباس ان یاخذ شیا علی کتابة جواب الفتوي ، وذلک لان الواجب علی المفتی الجواب بالسان دون البنان.(۳)

{ ه:- ایصال ثواب باندی داجرت اخستلو حکم }

مسئله:- که یوحافظ ئی مقررکړو،چه دومره ورځی دفلانی په قبر قرآن کریم وایه، اوثواب ئی دصاحب قبر پسی بخه، دومره تنخواه به درکوم دعقد اجرت یې باطله ده ، نه دلو ستو نکی ثواب اوشه اونه دمړی ثواب اوشه، اود حافظ دځه تنخواه اخستولو حقدارهم ندی. (۴)

{ و:- درخصتی اوچتیانو تنخواه ورکول اواخستل حکم }

مسئله:- مدرسینو(استاذانو) اودډین خادمانوته درخصتی اوچتیانو تنخواه ورکول اواخستل جائز دی،علامه شامی رحمه الله تعالی علیه فرمائیلی دی چه دسه شنبی(منګل)اوجمعی اودروڼی اواخترونوکی رخصتی(چټی)وي دهغه ورځو تنخواه(معاش)اخستل حلال دي،همداسی که دعادت نه خلاف چیرته

---

(۱) (فتاوی فریدیه، ج۲ص۶۷۷)

(۲) (البشرلارباب الفتوی،ص۳۸)
(بدل المجهود ص۲۵۲)

(۳) (الهی البشری،ص۴۹)

(۴) جنتی کالی،ص۴۲۸)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

یوه ورځ ئې دسبق لیکلودپاره رخصتی ورکړه،نوهم ددی ورځ تنخواه اخستی شي.سوا ددینه چه وقف کولووالاصرف هم دهغه ورځو دتنخواه ورکولو قیداولګوی چه په هغه ورځوکی درس کیږی،فقیه ابواللیث رحمه الله تعالی علیه وائی چه که استاذ شاګردانوڅخه دداسی ورځی اجرت هم واخلی، چه پکی سبق نه ولولی هم امید دی چه هغه به جائزوی.(۱)

﴿ اتم بحث: دصنعت اوکسبګری ددوه اصولو توضیح ﴾

محترمو:-په صنعت اوکسبګری کې یوازې دوه اصوله مخ ته اینښودل پکاردي،اوهغه داچی ددي په وسیله دي په ګناه کی نیغ په نیغه مرسته نلوي، مثلاً بتان اومجسمی جوړول جائزندي،زنار اوصلیب جوړول جائزندي،ولی چه داپه هندوانو اوعیسیانوکی دیومذهبی نخښی درجه لري،داډول دساه لرونکی شیانواومجسمی جوړول ناروادی،ولی چی پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ددی منع کړیده ،کمافی صحیح مسلم عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما باب تحریم تصویرصورة الحیوان وتحریم اتخاذ مافیه صور درهم اصل دادي چه خپل صناعت پرداسی خلقوخرڅول چه هغه ددي په وسیله فتنه راپورته کولای شي جائزندي، مثلاً دا اسلام مخالفو خلقوته سلاح ورکول یا ورباند خرڅول جائزندي، ولی چه ددي غلط استعمال کیږی.(۲) په همدغه نورصنا ،ات هم قیاسدلای شی.

مسئله:- دساه دار(ژوندی) خیز(شئی) کالبتونه جوړول په اسلام کی بیخی حرام دی،جمهور علماءاو محدثین دسادارو(ژوندو)دتصویرونو هم داحکم بولی، فوټوګرافی هم تصویرجوړول دی عکس سازی نه ده،پدی وجه لوه خپل کارکسب دزښت روزذریعه جوړول اوددی اخستل خرڅول ناروا

---

[۱] ردالمحتار، ج۳ص۳۸

[۲] (درمختار، ج۵ص۲۵۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دی. دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما په روایت کی داخبره په داګه راغلی ده (متفق علیه)خصوصاداسی واړه کالیتونه جوړول یادداسی کسانو تصویر ونه چه عبادت اوپرستش ئی کیږی ډیره شخته ګناه ده، بلکه ګناه څه چه به کفریاتو کی نیع په نیغه امدادکول دی داشان صلیب براخی اګرچه تصویرخونه دي مګردعیسایانودمذهب یوخاص نشانی ده،څکه خورسول الله صلی الله علیه وسلم ددی دماتولوباقاعده حکم ورکړو،البته دبی ساه څیزونو مثلا دعمارتونو،اوګلونووغیره تصویرونه جوړول په اتفاق سره روادی، نوددی جوړول، کسب کول،اودزیشت روزګارذریعه ئی ګرځول څه باک نه لری، څنګه چه دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه په ذکرشوی روایت کی دی اړخ ته اشاره څرګندیږی. (۱)

﴿ نهم بحث: دمسائلو متفرقو بیان ﴾

{ الف:- دډاکټر اووکیل دفیس حکم }

مسئله:- دډاکټر فیس لوی ډاکټران عموما څه دارونه ورکوی، بلکه صرف دمریض دمعائنی اوددہ دپاره دعلاج اونسخی تجویزکولو فیس اخلی، باوکیلان دقانونی مشورورکولو فیس اخلی، دشریعت له مخه پدی کی هیڅ پدیت نشته، په هرقسم خدمت باندی څه اجرت تاکل اواخستل درست دی، خوشرط دادی چه دحرامو په حدکی داخل نشی، څکه چه مشوری اوهدیات ورکول اودی دپاره خپل دماغ اوعلم استعمالول هم یوخدمت دی، چه فیس ورباندی مقررول به هم روا وي. (۲)

{ ب:- دَجرمانودَ روپو شرعی حیثت }

مسئله:- دَروپوجرمانه امام ابوحنیفه رحمه الله تعالی امام محمدرحمه الله تعالی سِوا

---

(۱) جدیدفقهی مسائل، ج۱ص۲۵۶

(۲) جدیدفقهی مسائل، ج۱ص۲۳۳

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دامام ابویوسف رحمه الله تعالی څخه ټول روا نه بولي ځکه چه دادشرعی سبب نه هسي دمسلمان مال اخیستل دي، اذلایجوزأخذ مال مسلم.(۱) امام ابوسف رحمه الله تعالی دمالی جرماني اجازه ورکړی ده،، وعن ابی یوسف رحمه الله تعالی یجوز التقریرللسلطان بأخذ المال.(۲) ځینی فرمائي چه امام مالک رحمه الله تعالی رأیه هم داده،، وبه قال مالک رحمه الله تعالی.(۳) ځینومصنیفیودامام ابویوسف رحمه الله تعالی درآی وضاحت داسي کړ دي ، چه داجرمانه به دیووخت لپاره وي، نه ټول عمر، اونه ئي بغیردبادشاه څخه اخیستل شي، دانه بیاورسته په هغي کسانوبیرته تقسیوي، امساک من ماله عندمدة لیتزجرثم یعیده الحاکم الیه، لان یاخذه الحاکم لنفسه اولبیت المال .(۴)

{ ج:- دورک شوي شئ باندی دانعام ورکولوحکم }

مسئله:- که څه شئی ئی ورک شه اوده اوویل که چاراته وښوده یوه روپی انعام به ورکړم، نوکه چااوښوده هم دروپئی اخستو مستحق نه دی،ځکه چه دااجاره صحیح شوی نه ده،اوکه یو خاص سړه ته ئی اووی چه که تا اوخوده روپئی به درکړم ،نوکه هغه فی الحال په دغه ځای اوخوده نوهیڅ انعام ئی نه رسی،اوکه لاربیائی اوخوده نوانعام به ورکوی که دبچی دلوبولو دپاره چه کوم نوکرمزدوروی،دهغه دغفلت نه که دبچی کالی وغیره ورک شو،نوتاوان اخستل ئی جائزنه دی.(۵)

---

۱ (حاشیة شیخ احمدبن محمد صاوی مالکی علی هامش الشرح الصغیر،ج۴ص۵۰۵)

۲ (تبیین الحقائق،ج۳ص۳۰۸)

۳ (فقه السنة،ج۳ص۵۹۲)

۴ (البحرالرائق ،ج۵ص۴۱)

۵ جنتی کالی،ج۵ص۴۳۹)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ د:- دګرالی په سامان اومکان کی زکوة ورکولوحکم }

مسئله:-دګرالی په سامان اومکان کی زکوة لشته ،که تجارت دپاره عامل
کړی شوی وی نوبیازکاة پکی واجب دی،دتجارت اواجاری تر مینځه بهدی
کان سره فرق دی،چه تجارت کی یوطرف نه بل طرف لره دځه شئ په
مکمل شان مال جوړولی شی،او بیادهغی قیمت وصولولی شی، اواجاره کی
به رختی دول دیو شئی نه صرف دفایدی پورته کولوموقعه چاته ورکولوی
لی،اودهغه عوضانه وصولولی شئ،نوکه چاسره دیو نه زیات ماکانات
(کورونه) وی، سائیکلونه اوګاډی وی،دسپلانګ کمپنی پشان لوبنی،جامی
، فرنیچر یاکتابونه وی،چه دهغی دمطالعی فیس وصولولی شی،پدی تولوشیا
نو کی به زکات واجب نوي،ځکه چه زکاة دتجارت په مالونوکی وی،نه دا
چه صرف په اجاره وی،که یوکس دبل نه دتجارت په نیت مکان یاغلام وا
خستو،بیائی ورباندي کرایه اولګول،نواوس به هغه دتجارت مال نه پاتی کیږی
اوکه دتانبی پیتلوڅه دیچکی ئی واخستل،هغه ئی ځان سره په کرایه دلګولو
دپاره کیښودل، په دغه سامانو نوکی به زکوة نه واجبیږی، البته ددښه
کیدونکی ګټه که نصاب دزکاة ته اورسی نوزکوة به پکی لازم کیږی.(۱)

{ ه:- تنخواه کی د زکوة حسا بولوحکم }

مسئله:دکورنوکر،خدمتکاردائی،وغیره لره هم زکوة ورکولی شی، لیکن په
تنخواه کی به ئی ورته نه حسابوی. اوپه دی کی به دزکوةنیت کوي.(۲)

{ و:- دلال ته داجرت ورکول حکم }

مسئله:-دلال ته اجرت ورکول اګرچه پکی اختلاف شته،لکن بنابرضرورت
ي په جواز فتوی ۱۰ کړی شوی ده،البته پدی شرط چه په بنکاره طریقه

(۱ فاری قاضی خان بحوال جدیدفقهی،مسائل صـــ۱۱۶)

(۲ جتی کالی،ج۳صـــ۲۴۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

اجرت متعین کړی شي،مثلا روپئی کی لس پیسئی اوداسی نور.(۱)

{ ز:- دمزدورداجرت په اداء کی خاصه توجه }

مسئله:- دمزدورپه اجرت اداء کی سرعت پکارده،دحضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دي چه انحضرت صلي الله عليه وسلم اوفرمائل چه مزدورته خپله مزدوری دخولی وچیدونه مخکی ورکړی. (۲). والله تعالی اعلم بالصواب

﴿ شپږم فصل: دسود پرځندنه ﴾

﴿ اول بحث: دسود توضیح ﴾

محترمو! رباپه لغت کی زیتوالی ترقی کول ته وائی،اود شرعی په اصطلاح کی رباهرهغه زیاتوالی ته ویل کیږی چه پرته دمالی عوض څخه په لاس راوړل کیږی، پس دمبارکوآیاتونو اواحادیثو څخه داپه ډاګه کیږی چه سودیولوی اوعظیم جرم دی، چی دهغی خوړونکی ته دردناک عذاب چی دالله تعالی اورسول کریم صلي الله عليه وسلم سره جنګ اوسخته دښمنی، دایمان منافی اوضدعمل،ددیرش څله زناکول بلکه دخپلی مورسره زناکولوبرابر، دقیامت په ورځ لیونتوب، اورسوائی،اوجهنم ته ننوتل دی، دالوی جرم نه یواځی دسودپه خوړونکی بلکه د سود په ورکونکی،دسودپه شاهد، اودسودپه لیکونکی هم لعنت ویلی شویدی نواصلاًسوددتولنی دافرادو ترمنځ بی اتفاقی،بددلی،تصادم اوټکرروالی، اوهم ددوه قومونو اوملتونو ترمینځ دروابطوخرابوالی،اوخفګان پیداکوی،دفکراوغورځای دی چی مؤمن خپل ایمان ته متوجی شی،دـنیااومال محبت پریږدی،اوخودغرضی، بخل، سنګدلی،زرپرستی او چل ول معاملی څخه تیرشی،بلکه دخپلوورونوسره مرسته اوکومک وکړی؛پس عموماًسود(ربا)په ټولورعمده برخوویشل شوی

---

(۱) ردالمحتار، ج۵ص۵۳

(۲) رواه البیهقی فی سننه حسن کما فی اعلاالسنن، ج۱۶ص۱۵۱

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

دیرم فصل: دسود پیژندنه تجارتی ربا،اوبانگی رباچه تفصیل لی دی چی دجاهلیت ربا،اضافی ربا، ان شاء الله تعالی وروسته راځی .

﴿ دوهم بحث: دجاهليت سود تشريح ﴾

محترمو! دجاهليت ربا هغه سودځخه عبارت ده چی داسلام ځخه مخکی په عربو کی ئی رواج درلوده، ځرنګه چی داسودبالکل واضح اوځرګند وه، نو قرآن کريم دهغی تشريح ونکړه،اوصرف دهغی دحرمت په هکله ئی خبر داری ورکړ،اوکله چی آيت شريف نازل شونوپرته ددی ځخه چی ځوک دهغی تشريح اوتفصيل وغواړی،تولومسلمانانوهغه پريښودله،اوچاته هيڅ شک اوشبه پکی پيدا نه شوه، دی ربا ته کتابونه کی رباالقرآن هم ويلی شوی ده،ددی ځلورصورتونه دي-

الف:په جاهليت کی سودداوه چی يوچابه په بل باندی شئی خرڅولو،خوچی کله به هغه وخت پوره شواوقيمت به ئی اداء نکړی شو،نودهغی وروسته به يې ورته مهلت ورکول کيده،خواضافی قيمت به ئی ورباندی ايښودلو.

ب:- ځينی خلقوبه قرض اخستو،اودابه ئی ويل:کچيری تاسی مونږته دومره مهلت راکړی، زه به دومره اندازه ګټه اواضافه روپئ به درکړم.

ج:اوکله به داسی کيدل چی دقرض ورکولوپه وخت کی به دوخت او مقدار دګټی معلوميده چی دااصل مال ځخه به دومره زيات ورکول لازم وي.

د:- داسی هم کيدل چی دقرض په مقابل کی به ئی مياشت په مياشت ورځخه ګټه اخستله، او چی کله به وخت پوره شونوبيابه ئی اصل مال هم ورځخه اخستلو،اوکه داصل مال ورکول به ځندشول، نو بيابه ئی دسود فيصدی پری زياتولی،نوپه صراحت سره قرآن کريم کی ده دغو ځلورو صورتونومماانعت راغلو اوحرمت يې نازل شو.(۱)

---

[1] ملخصاالفتاوی الشامیه ،ج۴ص۱۸۸

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿ دریم بحث: د ربوا الفضل تشریح ﴾

محترمو! ربوا الفضل: هغه سودخخه عبارت ده چی زیاتولی اوکموالی په یوجنس کی وي چی ددی صورت دادی چی دیوجنس دوه شیان په مقدار سره تبادله شی، چی بعینه ددغه جنس یونفرزیات مقدار اخلی اوبل ته لږ کم ورکوی ،لکه مثلا غنم په غنمو بدل کړی، خویو نفر ورخخه زیات مقدار اخلی، اوبل ته کم مقدار ورکړی، یاجوارپه جوارو بدل کړی، خو په زیات یاکم سره یې تبادله کوی، په احادیثوکی ددی اضافی ربا حرمت واردشویدی.([1]) .

﴿ څلورم بحث: دتجارتی سود تشریح ﴾

محترمو! تجارتی ربا: هغه سودته ویل کیږی چه خلق دتجارتی معاملی لپاره قرض واخلی،او په هغی باندی بیاقرض ورکونکی ته زیاته کټه اوبرخه ورکوی، لکه داپدی زمانی کی زیات رواج هم دی،ددی صورت دادی چه مثلا یوسړی دبل کس نه زر روپی په سلوکی دادریو روپیو په کټه ورکولوبا ندی واخلی،اوبیایې په کارواچوي،اوس پدی صورت کی لاندینی احتمالات شته:

الف:-که مثلاًتاته په یوه کال کی پنځه سوه روپې کټه لاس ته درغله، نوته کټه من شوی چه دیرش روپئی قرض(پور) غوښتونکی ته ورکړي، نوری ټولی روپې ستاشوي.

ب:-که مثلاً تاته په کال کی ټوله کټه شپیته روپئی لاس ته درغله،له هغوی نه به ته دیرش پورواله ته ورکړی،اودیرش به ستا وي.

ج:که مثلاً تاته په پنځوکالونو کی یوسل اوپنځوس روپئی کټه رااوتله، نوته به ټوله کټه پور والاته ورکوی،اوتاته به هیڅ هم نه درپاتی کیږی.

---

[1] صحیح مسلم فی المساقاة،ص۱۵۸۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

د:- که مثلاً تاته په پنځو کاله کې دوه سوه روپۍ ګټه اووته، لدې به يوسل اوپنځوس پورې والاته ورکړې،اوپنځوس روپۍ به تاته پاتې شي.

ه:-که مثلاً تاته په ټول يوه کال کې ټوله ګټه ديرش روپۍ لاس ته درغله، بيابه هغه هم ته ټولې سودوالاته ورکوی،اوتاته به ورنه هيڅ هم پاتې نه شي.

و:- که مثلاً تاته په يوه کال کې لس روپۍ ګټه دراووتله،نوٗته به شل روپۍ نورې له جيب نه اودالس رو پۍ به هم دسودخاوندته ورکوی،نوله ځان نه به تاوانی شي.

ز:- که مثلاً تا ته يوه کاله پورې تجارت وکړخو ديوی پيسی ګټه دی هم نه وکړه، نو زياردی هم خويشی ولاړل، اوديرش روپۍ به هم له خپل جيب نه بائلی.

ح:- که مثلاً که تاترلسوکالوپورې تجارت وکړ، بياهم څه ګټه لاس ته نه درغله، نوته به دری سوه روپۍ سودواله ته خپل ځان نه ورکوی.

ط:-که مثلاً تايوکال سوداګری وکړه خوورکی سل روپۍ دی تاوان وکړی، نوداتاوان به هم کشوی، اوديرش روپۍ به علاحده هم ورکوی.

ي:-که مثلاً تالس کاله دسودا ګری کاروبارو کړو، پدی کې دی سل روپۍ تاوان هم وکړ،نو تاوان هم ستاپری غاړه دی،اودری سوه روپۍ دسودبه هم ورکوی،قيمتی وخت دی هم ضائع کړ.لدی لس صورتونونه يوا څی لومړی اودويم صورت داسی دی چه ورکی ددواړوخواؤ ګټه ده،په پاتې ګردوصور تونوکی ستاتاوان دی،کله لږشئ ګټه ډيروخت تيردل،کله هيڅ هم نه،کله بياچه له تاوان،کله له دی امله چې سوداګری ګټه نه وکړه،کله لدی وجی ګټه خوئی وکړه خوپه سودکی ولاړه،خودسودخورګټه پدی ټولوصورتونو کی شته، دهغه داهيڅ هم کم نه شوه،اوس تاسی دانصاف په سترګو ورته وګوری! چې داهم کمه معقوله معامله ده، چه ورکی ديوه اړخ هيڅ تاوان

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

هم نوی،اودابل کله لږه کچه،کله ډیرتاوان وی،اودایولوری پوائی کچورخیږی، دامعامله کوم شریعت اوکوم عقل زغملای شی؟.(۱)

﴿ پنځم بحث: دزمکی دسود تشریح ﴾

{ الف:- زمکی دګرهنی سود حکم }

محترمو امخابره چی دزمکی دګرهنی یوه معامله ده چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم مخابره دسودیوصورت بللی اونارو کړیده،اولکه څرنګه چی دسود خورپرخلاف دخدای جل جلاله اود هغه درسول کریم صلی الله علیه وسلم له طرفه دجنګ اعلان شویدی همداډول ئی دمخابره کوونکی پرخلاف دجنګ اعلان وکړو فرمایی:"من لم یترک المخابره فلیؤذن بحرب من الله ورسوله" رواه ابوداودحکم.دادی صورت داچی دزمکی کوم کښت ګربه یوه معلومه اندازه غله دزمکی خاوند ته ورکوی،لکه فرض ئی کړه چی ستایو څه زمکه ده اوته هغه زمکه زیدته مثلاپدی معاهده کښت لپاره ورکړی،چه زید به دغلی یوه معلومه اندازه مثلاپنځه منه مجانًا هرفصل باندی تاته درکوی، دهغی حاصلات لږوی اوکه ډیروی اوکه بالکل هیڅ نه وی،یامثلاداسی قرارداد وشی چی څومره حاصلات چی دویالو پرځنډوباندی وي،هغه به تاته درکوی،اونوربه دکښت کاروي ، دامعاملی ته مخابره ویل کیږی داصورت حرام اوسوددی اوداصورت له تجارتی سودسره مشابه دی.(۲)

{ ب:- دګروي سودکولو حکم }

مسئله:- دبیرته ورکولوپه شرط خرڅول شرعًا جائزندي، یعنی چی یوسړی چاته قرض ورکړی، او دهغه په بدل کی تری کور، مکان،اویا دکان ترلاسه کړی، پدی شرط چه کله ستاقرض اداء کړودغه مکان وغیر به درته واپس

---

[۱] سودمسئله،صـــ۱۱۶)

[۲] سودمسئله،صـــ۱۱۶)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

درګرم، اوبيابه هم ستاخپل ملک وی، فقهاوو په نزد **دبيعه بيعه بالوفاء** رهن معاد،بيع آمانت،اوبيع اطاعت ويل کيږی،پس چه دا شرط دشريعت داصولو اودبيعی دتقاضاو خلاف دی، نوځکه به دغه معامله ناروا وی،البته عملاً د دی شکل د ګروي دی، مګردغه معاملي ته دګروي ويلوصفامطلب دادي چي ددي خريدارته چي حيثيت ئي په حقيقت کی دګروي دمال دامانتګر دي ،چي فقه په اصطلاح کی مرتهن ورته ويل کيږی، ددي ځخه داستفاده کولوهيڅ حق نلري،ځکه چی دګروي مال ځخه فائده اخيستل هم رواندي، مګردغه معاملي ته دګروي ويلوصفا مطلب دادي چي ددي خريدار ته چي حيثيت ئي په حقيقت کی دګروي دمال دامانتګردي ، چي فقه په اصطلاح کی مرتهن ورته ويل کيږی، ددي ځخه داستفاده کولوهيڅ حق نلري، که څه توان يی ورته رسولي وی دهغی ضامن دی، البيع الذي تعارفه اهل زمننا اختيالاً للربا وسموه بيع الوفاء وهورهن فی الحقيقة لايملکه ولاينتفع به الاّ باذن مالکه، وهوضامن لما اکل من ثمرة واتلف من شجرة.([1])نوددغه مکان وغيره نه دفائدی اخستو هيڅ حق نلری،لکه نن سبا په ښاروکي ځينی خلق داسي کوي،پدی کی شک نشته چي ځينی حنيفي فقهاوودمالک په اجازه دګروي له ماله دفائده اخستلو اجازه ورکړي ده، مګردا صحيح ندي ولي اسلام کی پرقرض(پور) هرډول نفع اخيستل حرامه کړي ده ،اويو صحيح حديث شريف ده (کل قرض جرنفعًا فهورباً) اودسودحقيقت خولا پرپرده دسود شک هم زغمل کيدلای نه شی، ځکه دګروي له سامانه فائده اخيستل جائزه نه ده،خاتم الفقهاء علامه شامي پردي تبصره کړی ده او ليکی! والغالب من احوال الناس انهم انما يريدون عند الرفع الانتفاع ولولاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لانه

---

[1] ردالمحتار، ج۵ص۲۴۶).

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

المعروف كالمشروط وهومما يعين المنع.(۱)بله خواپدی زمانه کی داد قرض ورکوونکی له طرفه یو شرط جوړشویدی،(ای المعروف كالمشروط). یعنی کوم شئی چه دعرف اورواج صورت اختیارکړی، نو هغه شرط بللی شي، ځکه متاخرینو فقهاؤ دابیخی حرامه بللی ده. (۲)

﴿ شپږم بحث: دبانکي سود تشریح ﴾

{ الف:- بانکي سود معامله }

مسئله:بانکي سود BanKinq invest اوس وخت کی بنکونه دخلقو څخه روپی اخلی،اودهغی په مقابل کی دیومعین وخت ترتریدوروسته څو فیصدی سود ورکوی،اوهم خلقوته قرض ورکوی اودمعین وخت ترتیدوورروسته څو فیصده سود ورڅخه اخلی،دبانک زیاته معامله په همدی سود ورکولواوسود اخستلوباندی ولاړه ده،ځکه چی په کومه فیصدی سودباندی قرض اخلی،او په زیات فیصدی سودباندی قرض ورکوی،دمثال په ډول خلقوته لس فیصدی سودورکوی،اوخلقوڅخه بیاپنځه لس فیصده سوداخلی،چی داپنځه فیصده دبانک ګټه اوفائده ده دا معامله کوم شریعت ممنوع کړیده(۳)

{ ب:- بینک کی د روپیو جمع کولوحکم }

مسئله:- په بینک کی روپئی جمع کول سودی اداری سره امدادکول دی، چه هغه ورسره مضبوطي کیږی،نوبی ضرورته به بینک کی رقم جمع کول او اینبودل مکروهه دی،لکه فقهی په کتابونوکی ددی ډیرنظیرونه اومثلونه موجوددی، چناچه فقهاؤ په فتنه ګروخلقودوسلی خرڅول، اوپه داسی سړی امرد(لغړزن) غلام خرڅولوته مکروه

---

۱ شامي،ج۵ص۱۱۵-۳۱۰)

۲ خلاصة الفتاوی،ج۴ص۱۸۶).

۳ اسلامی اقتصادص۲۲۴)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ولې دی چه پدی مهلک مرض لوطت مبتلاوي.(۱)

{ ج:- دیوواقعی ضرورت په بنا بینک کی درویو اینبودلوحکم }

مسئله:- که په بینک کی دیوواقعی ضرورت په بنا باندی کینبولی شی مثلا پدی عرض چه درویو صحیح حافظت اوشی، څوک ئی رانه لاندی او غبن نه کړی، څه خاص ټیکس راباندی اونه لگی، یابل څه قانونی ضرورت ورته پیښ شوی وی، دگناه په کارکی دامدادکولونیت ئی هم پکی نوی ، اولدینه بغیر بل دحفظت څای نه لری، نوپه بینک کی دجمع کولوڅه باک نه معلومیږی لکه چه علامه سرخسی رحمه الله تعالی لیکلی .پدی کی هیڅ باک نشته چه مسلمان ذمی ته داستوگنی دپاره کورورکړی،که هغه پکښی شراب اوڅکی، او صلیب عبادت پکی کوی، یاپکی خنزیران ورننباسی، نو مسلمان ته به ئی هیڅ گناه نه وي.(۲)

{ د:- نوټونه (روپیو) دسودحکم }

مسئله:- نو ټونه اصطلاحی روپی دی نه خالص سنداووثیقه لهذا نوټونو کی زیاتوالی اوربواحرمه دی لکه فلوس نافقه وکی.(۳)

{ ه:- دبینکی سود روپیودلگولوڅایونه }

مسئله:-دبینک دسوددلگولو څایونه دادی چه دبینک دسودپه باره کی دا باور لرل په کاردی چه درویو دسود نه پخپل څان لگولی شی، او نه په کی څه خیرات ورکولی شی، پخپل څان دخرڅ کول یو صورت داهم دی چه بل څیزپری واخلی،اوپه هغی خپل ضرورت پوره کړی، یاپه داسی یوکار کی ئی اولگوی چه دهغی ذمه واری په حقیقت کی په ده راځی،دلته خیرات

---

۱ ردالمختار،ج۵ صـــ۳۸۶)

۲ المبسوط،ج۱۶صـــ۳۰۹)

۳ الفقهالحنفی فی ثوبه الجدید،ج۴صـــ۲۳۶)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

اوصدقې نه مراد هرقسم صدقه ده مثلاواجب صدقه وی لکه سرپایه ،زکوه، قربانی اوکفاره وغیره شوه،اویانفلی صدقی اوبخښش هم وی،چه څوک ئی دخپل ارخ نه دصدقی په ډول دبنیکړی په څه کارکی اولګوی، ددینه علاوه په نورورداسی صورتونوکی ئی لګولیشی مثلادیوضرورتمندذاتی ضرورت ورسره پوره کړی،دشریکی فائدی په کارکی اولګولیشئ ،مثلایوه کوهی ،یاتالاوپری جوړکړی شی،البته په جوماتونو اومدراسوکی خوددداسی رقم نه شی لګولی، لیکن دبیت الخلاء په جوړولوکی ددی دلګولوعلماو اجازت ورکړی دی، داشان په نوروجزئیاتو کی هم لګولی شی چه ذکربه ئی کیږی: لکه دحکومت په ناروا ټیکسونو کی ورکړی شی،اوسودی قرضی پری هم خلاصولیشی.(۱)

{ و:- ضرورتمندلره دسوداخستل حکم }

مسئله:- سوداخستل او ورکول دواړه ګناه لری، نوښکاره خبرده چه په اصولی ډول به سودی قرضه اخستل روا نوي، البته په داسی صورت کی څنی فقهاوداخستلواجازت ورکړی، چه بغیردسودی قرض اخستلونه بل هیڅ صورت کی دکارروانیدلو، اودژوندتیرول ئی ناممکن ښکاری ، بنیادی ضرورتونه ورته نه حاصلیږی، مثلادخوراک څکاک ،اغوستن ،اواستوګنی هیڅ بندوبست ئی نشی کیدی ، البته که دعیش وعشرت په غرض، یاپه اعلی پایه دژوندتیرولو په غرض داسی کوی، نوداهیڅری رواندي، لکه علامه ابن نجیم مصری رحمه الله تعالی علیه لیکلی دی چه ضرورتمندلره په نفع ورکولوسره قرض اخستل روادی.(۲)

---

۱ جدیدفقهی مسا (۲۷

۲ الاشباه و (۱۱۵-

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ ز:- دارالحرب کی دسودکولوحکم }

مسئله:- په دارالحرب کی سودکولوپه ارتباط دفقهاءکرامونظردادی: چه په دي کی خودهیڅ چا اختلاف نشته چه دآمان غوښتونکی په حیثیت سره څوک دارالحرب نه دارالاسلام ته په عارضی دول راشی هغو څخه سود اخستل درست ندی، البته چه یومسلمان په عرضی آمان حاصلولوسره دارالحرب ته ورشی نوهغه ددغه حربیانو څخه سوداخستل شی اګرچه دغه حربیان مسلمانان هم وي،داد امام ابی حنیفه اودامام محمدرحمهماالله تعالی رائی ده، البته دائمه ثلاثه اوامام ابی یوسف اوجمهورو فقهاورائی داده:- چه پدی صورت کی هم سود اخستل حرام دی.(۱)

﴿ اوم بحث: دسوددعلتونوتشریح ﴾

{ الف:- دسود یوی جامعی قاعدی توضیح }

مسئله:-کله چه داثابته شوه چه علت دسودحرمت داحنافوپه نزدقدر اوجنس دی، نوقاعده داده چه کوم ځای کی دادواړه شیان ومونډلی شی هلته به زیاتی اونسیادواړه حرامه وي، اوپه زیاتی سره یاپه نسیا سره به ئی خرڅول حرام وی،اوکچیری په دوی کی یو علت ومونډلی شو،مثلا صرف قدراومونډلی شی لکه غنم دو ر بشو په عوض خرڅول،چه غنم او وربشی دواړه کیلی دی، یا صرف جنس اومونډلی شولکه غلام لره دغلام په عوض خرڅول ،یاهروی جامی (کپړی) دهروی جامی په عوض خرڅول، چه غلام اوکیږه نه کیلی دی اونه وزنی، نو په دی دواړوصورتونوکی کمئی زیاتی به جائزوی ،او په نسیاخرڅول به ئی حرام وی، اوکه دواړه علتونو اونه مونډلی شول نودواړه خبری یعنی زیاتی اونسیادواړه به جائزوي، لکه درووراوغلی لین دین چه په دوی کی نه جنس یو دی اونه قدریودی.(۲)

---

۱ السوالکبیر،ج۴ص۱۴۹۳)فقره ۲۹۱۹)بدائع الصنائع ،ج۷ص۱۳۲)

۲ ملخصا هدایه ،ج۳ص۸۱)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

{ ب:- دسودپه معامله کی دصفت اعتبارنشته }

مسئله:- دربوایه مالونوکی دعمده اوناکاره څه امتیاز نشته بلکه دواړه برابر دی پس جیدلره دردي په عوض باندی په کمی اوزیاتی سره خرڅول جائزندي لکه مثلا عمده کجوری اوناکاره کجوری په عوض سره په کمی اوزیاتی خرڅول روا ندی ځکه چه حدیث کی حرمت مطلق ذکردی.(۱)

{ ج:- دسودپه معامله کی دعدد متقاربوحکم }

مسئله:- دیوی هګی ددوو هګو په عوض ،اویوی خرما په دووخرمګانو، اویو غوزپه دوه غوزانو په عوض خرڅول جائزدی، ځکه چه دانه کیلی دي اونه وزنی، لیکن صرف زیاتی جائزدی، پس پاتی شو تاخیراونسیان داجائزنه دی، ځکه چه بدلین یوجنس دی ،اوزمونږاحنافوپه نزدتنهادجنس اتحاد حرامورنکی دنسیادی وبس.(۲)

{ د:- خرمګانودمعاملی دیوصورت بیان }

مسئله:دپخته اوتروتازه کجوروبیعه داوپخته اوتروتازه کجوروسره متماثلا خرڅول،خوپه اتفاق باندی صحیح ده،لیکن دامام اعظم صاحب په نزددپخته کجوروتازه کجوروپه عوض دکیل په اعتبارسره سرپه سرخرڅول هم جائزنه دی. علامه عینی اومحقیق ابن الهمام میلان دصاحبینو قول ته دی.(۳)

{ ه:- دقماراولاټري شرعی حکم }

مسئله:- قماراولاټري ناروادي، دقماراطلاق داسي هره معامله باندی کیږی چی دنفع اوتاوان په مابین کي وي، مثلاً دلاټری ټکت دي- که یوسړی داپه پنځه افغانی رانیسي هغه دګټي هیله هم لري اودتاوان خطرهم لري، کیدلای شي چي ده ته دیولک افغانیوانعام راووزي،اوعیني ممکن دي

---

۱ هدایه، ج۳ص۸۰)

۲ هدایه، ج۳ص۸۳)

۳ هدایه، ج۳ص۸۵)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

چې داپنځه ډوبې هم بيرته رانه شي، يامثلاً ددووخلقوپه مابين کې
دخفستا، منده،، مقابله وي، چې که ته زماځخه مخ ته شوي زه به تا ته
پنځه افغاني درکوم اوکه زه درځخه مخ ته شوم ته به پنځه افغاني ماته
راکوي، دلته معامله دکتې اوتاوان په مابين کې ده، ځکه دقماردي، امام
ابوبکرجصاص رازي رحمه الله تعالى ليکي: لاخلاف بين اهل العلم في
تحريم القماروان المخاطرة من القمارقال ابن عباس رضي الله تعالى ان
المخاطرة قيمار.(۱) پس لاتری هم دغسی دجوارئ کاروباردی چه نن په
بين الاقوامي پيمانه باندی جاری دی، ددی پاره ټکټ اخستل څوک
مقصودنه بولی بلکه ددی فال وتلوپه اراده ئی اخلی، چه کيدی شی پدی
نمبر باندی هغه شی يارقم ملاوشی ،دکوم په اميدئی چه اخلی.لهذاداڅخستل
اوخرڅول تجارت نه دی، بلکه جواری وقمارده ،چه ټکټ اخستل ئی هم
ګناه دی، او ټکټ خرڅول هم ګناه ده،چه دی داڅم اوعدوان کوونکی
يواڅی نه بلکه ديته بلنه هم ورکوي، او دجاهليت په زمانه کی دجواری
کاروبارډيرزيات وو،خلق ددی دومره عاشقان ووچه ډيرکرته به ئی خپل
بال بچ اوخپلی ښځی هم پری داو کولی دبرخوويشلو،اوداخستلو
خرڅولومختلفی معاملی ئی په جوارئ ولاړی وی،اسلام په يوځل ددی
ټولونه منع اوکړه،علامه شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله تعالى په ډيره
ښه طريقه ددی مختلفومعاملودمنعی وجه اود جواری په اقتصادی اوتمدنی
نقصاناتورڅخه اچول ده هلته ئی مطالعه کړی.(۲)

{ و:- دچټ فنداچولوحکم }

مسئله:- قسط CHITFUND چټ فنداچول داچی څوکسان راجمع

---

(۱) (احکام القرآن، ج۱ص۳۸۸).

(۲) حجة الله البالغة ،ج۲ص۹۸)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

شی هره هفته یاهره میاشت پکی دشمیرځوکسان رقم جمع کوی، دغه جمع شوی رقم ټول په یوه ټاکلی نیته یویوکس دخسنی قرغه اندازی اچولوپه ذریعه وارپه وارتراخلی، دچل هرچا ته ورځی دصورت مباح دی دادی (حرمت) نارووالی هیڅ څه وجه پکی نشته ،کله کله داسی هم کیږی چه دی کی څوک شریک دوخت نه وړاند ی دخپل قسط (رقم حاصل کړی) ، پدی شان دغه کس دنوروشریکانو (ملکرو) قراضدارشوچه قرض ورته خپل څه موده مهلت اوډیل ورکوی، اوپه دغه قرض تری نفع هم اخلی ،پدی شان دایواځی روانه بلکه دانسانی همدردی اواسلامی اخلاقوتقاضاهم ده ،خواوس اوس پدی کی داسی یو صورت هم روان دی چه څوک دخپل خپل وخت نه وړاندی خپل قشط وصولول غواړی ،نو دخپلی برخی رقم نه کم واخلی دغه پاتی رقم نور شریکان خپل مینځ کی اوویشی ،داصورت قطعا حرام اوناروادی په سودکی داخل دی ،ځکه چه قرض ورکونکودخپل قرض په بدله کی نفع حاصل کړه .(۱)

{ ز:- دسود خواړونکی سره دشرکت حکم }

مسئله:- دحرام خواړونکی سره شرکت جوازنلری، له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهماروایت دی فرمائی:چه له کوم یهودی عیسائی او مجوسی سره داشراکت کار وبارمه کوه خلقو ورنه وړښتل ولی ؟ده مبارک وفرمائیل چی دا خلق درباواوسود معاملی کوی،اورباواو سودحلال نه دی.(۲)

واللہ تعالی اعلم بالصواب.

---

۱ جدیدفقهی مسائل،ج۱صـــ۲۴۳)

۲ کنز بر مزعبدالرازق فی الجامع ،ج۲صـــ۲۳۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

﴿ اووم فصل: داسلامی اقتصادپه ارتباط څلوېښت (۴۰) احادیث ﴾

﴿ اووم فصل: داسلامی اقتصادپه ارتباط څلوېښت (۴۰) احادیث ﴾

محترمو! په خاتمه کی به ان شاءالله تعالی داسلامی اقتصادپه ارتباط څلوېښت (۴۰) احادیث یعنی نبوی صلي الله علیه وسلم لارښوونی نقل کړوچه له یوی خواپه هغه حدیث شریف عمل وشی چه فرمائی: چه څوک خمامت ته څلوېښت احادیث اوښائی، اودنفعی درسولوپه خاطر څلوېښت احادیث یاد کړی، نودقیامت په ورځ به الله پاک جل جلاله هغه دعالمانوپه ډله کی پورته کړی ،اوزه به دقیامت په ورځ دهغه شفاعت کونکی اوګواه یم، اوبله خوا زمونږدغه رساله ورباندی متبرکه شی.

عن ابن مسعودرضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم طلب کسب الحلال فریضة بعد الفریضة.(۱)

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعودرضی الله تعالی عنه فرمائیلی چه آنحضرت صلي الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیل: دحلال کسب تلاش کول فرض دی وروسته دیوفرض څخه یعنی حلال رزق طلب،اودی لپاره کسب او عمل دنبی کریم صلي الله علیه وسلم په نظرکی دومره اهم کاردی چه ده مبارک صلي الله علیه وسلم کسب حلال طلب کول دنوروفرائضو لکه مونځ، روژه وغیره نه وروسته یو فریضه مقرره کړیده .

(۲)عن ابی رافع رضی الله عنه قال قیل یارسول الله ای الکسب اطیب؟ قال عمل الرجل بیده وکل بیع مبرور. (۲)

ژباړه: حضرت ابورافع رضی عنه نه روایت دی فرمائی چه آنحضرت صلي الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چه ای دالله تعالی رسوله کوم کسب زیات پاکیزه دی؟ وئی فرمائیل چه دسړی دخپلو لاسونه کار، اوهرنیکی واله

---

(۱) کنزل العمال حدیث ۹۲۳۱ ،جلد۴صـــ۹، ومشکوة شریف، ج۱صـــ۲۴۲)
(۲) مستدرک للحاکم، ج۲صـــ۱۲)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

تجارت یعنی سړی چه پخپلولاسو نوباندی کارکوی اوخپله احتیاجی چاته نه ظاهروی داپاکیزه کسب ده،اوددوکی نه خالی تجارت هم پاکیزه ده.

(۳) عن ابی سعید رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال التاجر الصدوق الامین مع النبیین والصدیقین والشهداء. (۱)

ژباړه:حضرت ابوسعیدرضی الله تعالی عنه نه روایت دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: ریښتونی امانت دارتاجردانبیاؤ، صادقینو اوشهداؤسره وی یعنی داخوشخبری دهغه ریښتونی آمین تاجرلپاره ده چه قیامت کی دانبیاء علیهم السلام،صدیقنو اوشهداء کرامو سره به یوځای وی، نو پکارده چه انسان ددغه مرتبی حصول لپاره ریښتونوالی دیانت داری اختیارکړی.

(۴) عن ابی هریرةرضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم قال ان الله یحب سمح البیع سمح الشراء سمح القضاء. (۲)

ژباړه:حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم او فرمائیل: چه بی شکه.الله تعالی خرید اوفروش کی فیصله کولو کی آسانی کول خوښوی. یعنی تجارت کی نرمی آسانی، کم قمتی، اوغریب ته قرض ورکول وغیره آدابولحاظ دکامیابی اودالله تعالی دمحبوبیت ذریعه ده.

(۵) عن ابی هریر رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الرباسبعون حوبا ایسرها ان ینکح الرجل امه. (۳)

ژباړه: حضرت ابوهریررضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:دسوداویاګناه دی،له هغه وړه ګنه داسی ده لکه یو څوک چی له خپلی مورسره زناکوی،یعنی سود دیرقبیح کسب اوکاردی.

---

[۱] ترمذی،ج۱ص۱۴۵)
[۲] ترمذی،ج۱ص۱۵۸)
[۳] ابن ماجه ص۱۶۴)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(٦) عن ابی هریر رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال اجتنبوا السبع الموبقات قال یارسول الله وماهن ؟ قال الشرک بالله والسحر وقتل النفس التی حرم الله الابالحق واکل الربا واکل مال الیتیم والتولی یوم الزحف وقذف المحصنات الغافلات المومنات. (۱)

ژباړه: حضرت ابوهریررضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: تاسی د اوو شیانو څخه ځان وژغورئ چی هلاکوونکی دی اصحاب کرامو عرض وکړو یارسول الله هغه اوه شیان کوم دی؟ حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:اول د الله تعالی سره یوځوک شریک نیول. دوهم جادوکول. دریم داسی څوک په ناحقه وژل چی دهغه وژل الله تعالی حرام کړی وی. څلورم سودخوړل. پنځم دیتیم مال خوړل. شپږم دجنګ جګړی ډګرته شاګرځول اوتبنتیدل. اوم اوپر پاک لمنو ناخبرومؤمنو بنځو باندی تهمت لګول،یعنی سود ډیر مذموم اومهلک شئی دی چه عظیمو مهلکوګناهونوسره یوځای ذکرشوېده.

(۷) عن عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه قال لعن رسول الله اکل الربا وموکله وشاهده وکاتبه.(۲)

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه آنحضرت صلی الله تعالی علیه وسلم پرسودخوړونکی، سود خورونکی ، سود پرشاهدان،و اولیکونکی باندی لعنت فرمایلی دی یعنی سود یوه بدترینه ګناه ده چه په څلورو کسانوباندی ورکی لعنت وئیلی شوېدی.

(۸)عن ابی هریررضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیاتین علی الناس زمان لا یبقی منهم احدالااکل الربوافمن لم یاکله اصابه من غباره.(۳)

---

(۱) رواه البخاری ،ج۱ص۳۸۸)

(۲) رواه الترمذی ،ج۱ص۱۴۵)

(۳) رواه ابوداود،ج۲ص۱۱۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ژباړه: حضرت ابوهریررضی الله تعالی عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: یوه زمانه راځی چه هیڅوک به خوندی پاتی نشی سود به خوری ،اوکه ئی ونه خوری هم خوګرد به ئی ورته ورسیږی یعنی دحدیث شریف له وړاندوینی سره سم دسود درواج پدی زمانه دومره ډیرشوکه تجارتی معاملی وی ، اوکه عرفی معاملی خلق پکی ګرفتاردی په حراموطریقوسره(العیاذبالله تعالی)

(۹) عن ابن مسعودرضی الله تعالی عنه قال قال رسوالله صلی الله علیه وسلم ان الرباوان کثرفان عاقبته تصیر الی قل.رواه ابن ماجه والحاکم وقال صحیح الاسناد.

ژباړه: حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چی رسوالله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه سود مال اګرچه ډیر زیات شی خوآخر انجام ئی لږتوب دی یعنی په سودمال کی بی برکتی، اوذلت وي.

(۱۰) عن عبادة بن الصامت رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الذهب بالذهب مثلا بمثل والفضة بالفضة مثلا بمثل والتمر بالتمرمثلا بمثل والملح بالملح مثلا بمثل والشعیر بالشعیر مثلا بمثل فمن زاد اوزداد فقداربی بیعو االذهب بالفضة کیف شئتم یدابید وبیعوا البربالتمرکیف شئتم یدابید والشعیربالتمرکیف شئتم یدابید .([1])

ژباړه: دحضرت عباده بن صامت رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل: دسروزرو ادلون بدلون له سروزرو سره برابروبرابر، دسپینوزرو له سپینوسره برابروبرابر، دکجوری له کجوری سره برابروبرابر،اوداوربشوله اوربشوسره برابروبرابر،کوم چا چی زیات ورکړل، یائی واخیست، نودسودکاروبارئی وکړ. سره زرپه سپینوزروخرېداوفروش کوی څنګه موچه خوښه وی، خولاس په لاس، یعنی

---

[1] روه،البخاری،صـــ ۲۹۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

په نقدمعامله سره اوغنم په کجورو سره خرڅداوفروش کوی څنګه موچه خوښه وی خولاس په لاس، اواوربشی په کجوروسره څرنګه موچه خوښه وی خولاس په لاس، په دی حدیث شریف کی داشیاوفروش اصول ذکردی، داحنافو په نزد کوم شئ کی چه جنس اوقدرموجودوی نو زیادت اونسیه دواړه حرام دی، اوکه یو علت موجود وی، لکه صرف جنس وي اوقدر موجود نوی، نو زیدت جائز دي، اونسیه جائزندی.

(۱۱) عن ابی هريرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسوالله صلی الله عليه وسلم اتيت ليلة اسری بی علی قوم بطونهم کلبيوت فيها الحيات تری من خارج بطونهم فقلت من هؤلاء ياجبرئيل؟ قال هؤلاء اکلة الربوا.(۱)

ژباړه: دحضرت ابوهريرة رضی الله تعالی عنه نه روايت دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: چه دمعراج په شپه زه په داسی قوم باندی راغلم چی نسونه ئی دلويو لويوکورونو غوندي پرسيدلی وو، په هغوی کی ماران وه چه دبهرڅخه ليدلی شول،ماله جبرئيل عليه السلام نه پوښتنه وکړه داخلق څوک دی؟هغوی او فرمائيل چه دغه خلق سودخورونکی دی . يعنی دغه دسودخور بد حال، او رسواکوونکی عذاب دی،الله تعالی دی آمان ترينه راکړی آمين.

(۱۲) عن ابی امامه رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال من شفع لاحدشفاعة فاهدی له هدية عليها فقبلها فقد اتی بابا عظيما من ابواب الربا. (۲)

ژباړه: دحضرت ابوامامه رضی الله تعالی عنه نه روايت دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: چه کوم شخص دبل چاپاره کوم قسم

---

(۱) ابن ماجه،صـــ۱۶۴)

(۲) رواه ابوداودبحواله مشکوة صـــ۳۲۶)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

سفارش اوکړی، بیاهغه سفارش کوونکی ته دهدیه په نوم څه شی ورکړی، اوسفارش کوونکی هغه قبوله کړی، نو هغه دسود یوه لویه دروازه خلاصه کړه. یعنی سفارش په عوض کی دهدیه قبلولوڅخه پدی حدیث شریف کی ممانعت راغلی دی، اولویه ګناه ورته ویلی شوی ده.

(۱۳) عن جابررضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم هداياالامراء من السحت وعن ثوبان رضی الله تعالی عنه لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم الراشی والمرتشی والرائیش الذی یمشی بینهما. (۱)

ژباړه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل: چه سرکاری حکامو(مشرانو) لپاره ورکولی شوي هدیه اوتحفه دارشوت دی. اوحضرت ثوبان رضی الله تعالی عنه روایت دی چه رشوت اخستونکی ،ورکونکی، اومابین کی جوړونکی تولوباندی رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت وئیلی دی. یعنی رشوت یوکبیره ګناه، حق تلفی، اواخلاقی جرم دی.

(۱۴)عن ابی هریرةرضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان الله حرم الخمرورروثمنهاوحرم المیتة ووثمنها وحرم الخنزیز ووثمنها. (۲)

ژباړه: دحضرت ابوهریررضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرئیل:بلاشبه الله تعالی شراب حرام کړي،اوددی قیمت یی هم حرام کړي ،اومرداره ئی حرامه کړیده ،اوقیمت ئی هم حرام کړیدي ، اوخنزیرئی حرام کړي دی، اوددی قیمت ئی هم حرام کړیدی. یعنی دغه درېو شیانواستعمال اوتجارت دشریعت له نګاه څخه حرام،اومضردی.

---

[۱] احکام القرآن للجصاص،ج۲ص۴۳۳)

[۲] رواه،ابوداودمسلم ،ج۲ص۲۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(۱۵) عن عبدالله بن مسعودرضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان اشد الناس عذابا یوم القیامه المصورون .([1])

ژباړه:دعبدالله بن مسعودرضی الله تعالی عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:بلاشبه هغه خلق به دقیامت په ورځ کی اشدترین عذاب کی وي،چه هغه تصویرجوړونکی دی. یعنی تصویرکشی،فوټوګرافی کسب اوددی تجارت یو عظیم جرم ،اوګناه دی.

(۱۶) عن ابی طلحة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتدخل الملائکة بیتا فیه کلب وتصاویر.([2])

ژباړه: دحضرت ابوطلحه رضی الله تعالی عنه نه روایت چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چی فرشتی هغه کورته نه داخلیږی چه هغه کورکی سپئی اوتصاویر(عکسونه) وی. یعنی دغه کوردالله تعالی خصوصی رحمت نه محروم وی،چه هلته سپئی، اوذی روحه تصاویروی.

(۱۷)عن عمربن الخطاب رضی الله تعالی عنه قال سمعت رسول الله صلي الله علیه وسلم یقول لوانکم تتوکلون علی الله حق توکله لرزقکم کما یرزق الطیرتغدوخماصا تروح بطانا .([3])

ژباړه: دحضرت عمرفاروق اعظم رضی الله تعالی عنه نه روایت دی فرمائی چه ماد نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه اورېدلی دی چی فرمائیل ئی کچېری تاسی داسی توکل چه وکړی لکه څرنګه توکل کېږی ، تاسی ته به داسی روزی درکولېشی لکه مارغانوته ورکولی شی چی صبائی وړی خالی خپتی ځی ،اوبېګاه (ماشام) ته ډاکی خپتی واپس شی. یعنی دحرامو څخه اجتناب،

---

[1] صحیح مسلم،ج۲ص۲۱)

[2] صحیح المسلم،ج۲ص۲۰۳)

[3] رواه الترمذی وابن ماجه بحواله مشکوة،ج۳ص۱۴۵۸،طبع بیروت)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

تقوی اختیارول، اوپه الله تعالی توکل کول سره به الله تعالی
دغیږونه دروزی وسپله جوړه کړي.

(۱۸)عن ابی ذررضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال ثلاثة لاینظر
الیهم یوم القیامة ولایزکیهم ولهم عذاب الیم قلت من هم یارسول الله قد
خابو اوخسروا. قال المنان والمسبل ازاره والمنفق سلعته بالحلف الکاذب

ژباړه: دحضرت ابوذررضی الله تعالی عنه نه روایت دی چی آنحضرت صلی
الله علیه وسلم اوفرمائل: دری کسان داسی دی چی قیامت په ورځ به الله
تعالی دوی ته نه ګوري،راونه به ئی ګناهونه پاک کړی، اودوی لره
دردناک عذاب وی. صحابی فرمائی چه ماووئیل ای دالله تعالی رسول
داڅوک دی؟ یقینا داخلق خپل کوشش کی ناکام شول، اوهلاک ش
آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: احسان کولو کی احسان ښودونکی،
اوخپل ابزار (لنګ) زوړندکونکی، اوپه درغه قسمونو باندی خپل سامان
خرڅونکی. یعنی پدی حدیث شریف کی دهغه شخص انجام هم ذکردی
چه کوم په دروغ باندي دخپل تجارت کاروبارپه مخ بیائی.

(۱۹) عن صخر الغامدی رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله
علیه وسلم اللهم بارک لامتی فی بکورها قال وکان اذابعث سریة اوجیشا
بعثهم اول النهاروکان صخر رجلا تاجرا
وکان اذا بعث تجاره بعثهم اول النهار فاثری وکثرماله .([2])

ژباړه: دحضرت صخرالغامدی رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول
الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: ای الله برکت ورکړه امت خپله
(کارکونکی) په صبائی وختی وتونکولره ،او رسول کریم صلی الله

---

[1] نسائی ،ج۲ص۲۱۱)

[2] رواه الترمذی،ج۱ص۲۳۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

وسلم داعادت شریف وه چی کله به ئی لوی باوړوکی لښکردسته استوله، نوپه اول دورځی کی به ئی استوله ،اوحضرت صخرالغامدی رضی الله تعالی عنه تاجرسړی وه ،چه کله به ئی خپل تجاراستول نو صبائی وختی به ئی استول، بیا هغه مالدارکېد و،اوخپلومالوکی زباتوالی کیدو. یعنی تجارت لپاره بهترین بابرکت وخت صبائی وختی تجارت کاروبارپسی وتل دی.

(۲۰) عن ابی هریررضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اذا رئیتم من یبیع اویبتاع فی المسجدفقولوا لااربح الله .([1])

ژباړه:دحضرت ابوهریررضی الله تعالی عنه روایت دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم او فرمائیل:چی کله تاسی څوک مسجدکی وګوری چه تجارت خرید وفروخت کوی،نوورته اووایی چه الله تعالی دګټه نفعه درنکړی.یعنی په حدیث شریف کی په مسجدکی دتجارت کولومذمت ذکردی،البته معتکف لپاره مسجد کی صرف تجارت معاملی ګنجائش شته،لیکن مبیعه حاضرول ورته ممنوع دی

(۲۱)عن ابی هریررضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتناجشو([2])

ژباړه:دحضرت ابي هریررضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: دلالی مه کوی.یعنی چه یو سړي قیمت کی زباتوالی کوئ،خواخستل ئی مقصود نوی، اوپه تجارت کی خو دوکه ورکول منع دی،نوداهم بوقسم دوکه ده،فلهذا دغسی دلالی هم حرام دی.

(۲۲) عن ابن عمررضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال لایبع احدکم علی بیع اخیه حتی یبتاع اویذر.([3])

---

[1] رواه،الترمذی،ج۱ صـــ ۱۵۸)

[2] رواه البخاری،ج۲ صـــ ۲۸۷)

[3] رواه،البخاری، ج ۲ص ۲۸۹)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم نه مروي دی هغه مبارک وفرمائیل: چې تاسو کې کوم شخص هم دخپل ورور په معامله باندی تر هغه وخته پورې معامله مه کوی، چه ئې واخلی اوبائی پرېږدی. یعنی په تجارت کې هرقسم دوکه فریب ممنوع دی، لکه ورته ووایي چه هغه خبارشرط ختم کړو نوزه به یې سمدستی درځخه واخلم، اوبا ورته اووائی چه زه ئې په زیات قیمت درنه اخلم ، اویا اخستونکي ته اووائی چه داشان شئ زه په کم قیمت درکوم، اوده ځخه یې مه اخله اوادسی نورصورتونه.

(۲۳) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مر علی صبره من طعام فادخل یده فیها (فنالت)اصابعه بللا فقال باصاحب الطعام ما هذا قال اصباته السماء یارسول الله قال افلا جعلته فوق الطعام حتی یراه الناس ثم قال من غش فلیس منا.([1])

ژباړه: دحضرت ابي هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دغنمو په یوه ډیری باندی تېریدلو په هغه کی ئی خپل لاس دننه کړو، نوآنحضرت صلي الله علیه وسلم ګوتی مبارکی لندی شوی، پس رسول کریم صلي الله علیه وسلم غنمو واله ته اووئیل داځه دی؟ هغه اووئیل ای دالله تعالی پاکه رسوله!باران لنده کړیدی، نورسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائل:نوبیائی ولی دغنمو دپاسه طرف باندی نه ګرځوی ،ترڅو چه خلق ئی وګوری، پس آنحضرت صلي الله علیه وسلم وفرمائل: چه څوک دوکه کوی هغه زمونږځخه ندی،یعنی دعیب دارشی تجارت کول، جعلی شئی داصلی شی په نامه خرڅول، اوبنه اوبدشئ ګډول ، اودهوکه کولوپحقله ممانعت اوسخت وعید پدی مبارک حدیث شریف کی ذکردی.

---

[1] رواه الترمذی،ج۱ صـــ ۱۵۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(۲۴) عن عبدالله بن فضلة رضی الله تعالی عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لایحتکرالاخاطئی.(۱)

ژباړه:حضرت عبدالله بن فضله رضی الله تعالی عنه فرمائی: چه ماد آنحضرت صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه فرمائیل به ئی چی ذخیره اندوزی نه کوي مګر ګناه کار. یعنی خواراکی شیانو کی دتجاروذخیره اندوزی حرامه ده ،او دګناهونو ذربغه ده ،دضرورت په وخت کی ، چه خلق ورته محتاج وي.

(۲۵) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال یأتی علی الناس زمان لایبالی المرء مااخذمنه امن الحلال امن الحرام.(۲)

ژباړه:دحضرت ابي هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم نه مروي دی چی اوفرمائیل: چه خلقو باندی به داسی زمانه راشی چه کوم سړی کسب کوی، داپرواه به نه کوی چه داحلال مال دی، اوکه حرام مال دی. یعنی دغه پیشګوئی مبارکه پدی زمانی باندی صادقه ده،لهذامسلمان بایدفکر مندشی چه حراموڅخه ځان مخفوظ کړی .

(۲۶)عن انس رضی الله تعالی عنه قال قلت یارسول الله اجعلنی مستجاب الدعوة قال یاانس اطب کسبک تستجاب دعوتک فان الرجل لیرفع الی فیه القمة من حرام فلا تستجاب له دعوته اربعین یوم .(۳)

ژباړه:دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دی فرمائی چه ماو ویل ای دالله پاک رسوله! مامستجاب الدعوة (چه دعائی قبلیږی) وګرځوه، آنحضرت صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل :ای انس! خپل کسب لره پاکیزه کړه ،نو ستادعاګانی به قبلیږی ،کله چه سړی خپلی خولی ته دحرامولقمه (قپه) ږوسی ،نوڅلویښت ورځو پوری دده دعاګانی نه قبلیږی. یعنی ددینه

---

(۱) رواه ابوداود،ج ۲ صـ ۱۳۲)

(۲) رواه،البخاری،ج ۱ صـ ۲۷۶)

(۳) عمدة القاری‌صحیح البخاری،ج۱۱صـ۱۷۴)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

معلومه شوه چه حرام مال په وجه دانسان دعاګانی نه قبلېږی،سره لدینه چه مونږ زیات محتاج یو، فلهذا دحراموخخه پر هېز لازمي پکاردی.

(۲۷) عن انس رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم اذا اقرض احدكم قرضا فاهدى اليه اوحمله على الدابة فلابركبه ولايقبلها الاّ ان يكون جرى بينه وبينه قبل ذلك.([1])

ژباړه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه روایت دی چه آنحضرت صلي الله عليه وسلم اوفرمائیل:چې تاسی کی کوم یوکوم شخص ته قرض ورکړی،نوکه مقروض کوم شی لره هدیه ورکړه ،یائی پخپله سواری سپرولو، نو قرض ورکوونکی دپه هغه سواری مه کښی، اونه دهغه هدیه قبولوي ،البته که مخکی ددوی په مابین کی دامعامله جاری وه ، نوبیا څه باک نشته چه هدیه قبوله کړی. یعنی داهم درشوت یوه نوعه ده، اورشوت شریعت اسلامیه کی یو عظیم جرم دی، لهذا په هرمسلمان فرض اولازمی ده،چه حتی الامکان داکوشش وکړی چه بغیر درشوت نه خپل کارونه انجام ، اواخلاص کړی.

(۲۸)عن قبس بن ابی عرزه رضی الله تعالی عنه قال خرج علينا رسول الله صلى الله عليه وسلم نحن نسمى السماسرة فقال يا معشر التجار إن الشيطان والاثم يحضران البيع فشوبوا بيعكم بالصدقة .([2])

ژباړه:دحضرت قیس بن ابی عرزه رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چی آنحضرت صلي الله عليه وسلم مونږته راغلو،اومونږ دلال مقررکولو،پس آنحضرت صلي الله عليه وسلم اوفرمائیل: ای تاجرانو! بیشکه شیطان او دګناه (خیال) خرید وفروش وقت کی حاضریږی،نوخپل تجارت صدقی سره خلط ملط کړی.یعنی انسان باندی تجارت سره سره بائد دغرباء، مساکینو،اوفی سبیل

---

[1] روه ابن ماجه بحواله معارف الحديث ،ج۷صـــ۱۱۱)

[2] رواه السنن الكبر،ج۵صـــ۲٦٦)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

الله خلقو خدمت،اواعانت وکړی ، چه یوه خوالی تجارت بابرکت شی، اوبله خوائی دمهلک مرض دحب مال څخه محفوظ شی.

(۲۹)عن انس رضی الله تعالی عنه قال غلاالسعرعلی عهدالنبی صلی الله علیه وسلم فقالوا یارسول الله سعرلنافقال النبی صلی الله علیه وسلم ان الله هوالمسعرالقابض الباسط الرازق وانی لارجوان القی ربی ولیس احدمنکم یطلبنی بمظلمةبدم ولامال(۱)

ژباړه: دحضرت انس رضی الله تعالی نه روایت دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم په دورمبارک کی دشیانوقیمتونه لوړشول، نوخلقو آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته اووئیل ای دالله تعالی رسوله! مونږته قیمت مقررکړه ، آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه بی شکه الله تعالی رزق تنګولووالله ،رزق پراخه کولو واله دي، اوما دا امیدده چه مارب چه کومه فیصله څمایه زړه کی القاء کوي، نومالپاره به داسی نه کیږی چه ماڅخه دکومی وینی (قتل) بدله طلب کړي ،اونه دمال بدله طلب وکړی. یعنی بعضی علماء دحدیث په ظاهر باندی حمل کړی اوبعضی علماء فرمایي:چه امام اوحاکم وخت لپاره لازمی ده چه دهرشئ قیمت مقررکړی، چه خلق دظلم زیاتی اودتکلیف نه محفوظ شی.

(۳۰) ان اباهریرة رضی الله تعالی عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول الحلف منفعة للسلعة ممحقة للبرکة .(۲)

ژباړه: حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه فرمائی: چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه می اوریدلی دی چی فرمائیل ئی چه قسمونه دسامان (خرڅولولپاره) نفعمند دی، لیکن برکت لره ختمولووالله دی. یعنی په دروغه قسمونه

---

(۱) رواه سنن الدارمی، ج۲ص۳۲۴)

(۲) رواه ابوداود،ص۱۱۷)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

کول دومره منحوس دی، چه تجارت برکت ورسره لاهو کېږی.

(۳۱) عن عائشة رضی الله تعالی عنها قالت لمانزلت آیات سورة البقره من اخرها خرج النبی صلی الله علیه وسلم فقال حرمت التجارة فی الخمر. (۱)

ژباړه: دحضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها نه روایت دی فرمائی: چی کله سورت بقره آیات نازل شو نوآنحضرت صلی الله علیه وسلم بهرته تشریف رواړو،اوفرمائیل ئی چی داشرابو تجارت حرام شویدی. یعنی پدی حدیث شریف کی دشرابو تجارت ممانعت مقصوددی، چه شرابو څکل په لهولعب ګمراهبو کی ګرفتارهم ده ،نوتجارت ئی ددی ذریعه جوړېږی.

(۳۲) عن ابن عمررضی الله تعالی عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کل مسکر خمروکل مسکرحرام .(۲)

ژباړه: د عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: هرنشه راوستونکی شئ شراب دی، اوهرنشه راوستونکی شی حرام دی.یعنی دی حدیث شریف نه د هم معلومیږي چی دبنګو،چرسو، اوافیومیوخوارک حرام دی، ځکه داعقل خرابوی، اوانسان دالله تعالی ذکر،اومانځه نه بند وي.

(۳۳) عن عائشة رضی الله تعالی عنها قالت: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول کل مسکرحرام وما اسکرمنه الفرق فملا الکف منه حرام .(۳)

ژباړه: ام المومنین عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی: مادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدل چه فرمائیل ئی هرنشه وارشئی حرام دی،اوکوم شئی چه دشپږو کیلو په اندازه استعمالولو سره نشه پیداوکوی، نو دبوه ورغوی په

---

[۱] رواه البخاری ،ج۱صـــ۲۹۷)

[۲] رواه مسلم،صـــ۱۶۷)

[۳] رواه ابوداو،ج۲صـــ۱۶۳)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

اندازه استعمال هم حرام دی. یعنی په شرابواوجوارئ کی بها څه فائده شته، لیکن کله چه ددی تاوان ډیر، او فائده یې کمه ده، الله رب العزة دا حرام اوګرځول، نونسوار، سګریټ، چرس ،اوافیم وغیره خودشرنه ډک دی اوفائد هم نلری، نوځان ترلری ساتل په طریقه اولی سره پکاردی، اوخپل خان اواولاد اومعاشره ددی قسم آفتونه لری ساتل ضروری دی.

(۳۴) عن ابن عمررضی الله تعالی عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لعن الله الخمروشاربهاوساقیها وبائعها ومتباعها وعاصرها ومعتصرها وحاملها والمحولة الیه.([1])

ژباړه:دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: چی الله تعالی په شرابودهغی په څښونکی، اودهغی په څښوونکی، اودهغی په خرڅونکی، اودچادپاره چه داخرڅولی شی، اودهغی په جوړونکی، اودهغی په نچوړونکی، اودهغی په وړونکی ،اوچاله چی وړل کیږی، په هغه باندی لعنت فرمائیلی دی. یعنی په شرابوکی ددنیا ذلت سره مخامخ کیدل دی،لکه بغض، حسد،اودوشمنی وغیره، اودآخرت رسوائی خوډیره زیاته ده، نواجتناب ترینه ضروری دي.

(۳۵) عن جابررضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله حرم بیع الخمروالمیتة والخنزیر والاصنام .([2])

ژباړه: د جابررضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: بیشکه الله تعالی شراب ،مرداره،خنزیر،اوبتان اخستل اوخرڅول ټول حرام کړیدی. یعنی چی کوم شئ نه فائده اخستل الله تعالی

---

[1] رواه ابوداود، ج۲ص۱۲۱)

[2] رواه البخاری، ج۱ص۲۹۸)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

نوي حلال کړي، دهغی خرڅول اودهغی پیسی خوړل جائزنه دی ،اوعلامه قرطبی رحمه الله تعالی فرمائیلی دی: چی په دي کی دلیل دی پدی خبره چه دګندګی، اودنورونجاساتو، دغه شان دهغه څه چه شرعاحلال نوي، نوخرڅول اخستل يې جائزندي.

(۳٦) عن ابی الدرداء رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله انزل الداء وانزل له الدواءوجعل لکل داء دواء ولاتداووا بحرام .([1])

ژباړه:دحضرت ابودرداء رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:الله رب العزت بیماری هم پیداء کړیده،اوهغه دهری بیماری دپاره دوائی مقرره کړی ده، نوتاسوپه حراموباندی دوائی مه کوی. یعنی بغیردحالت اضطراری نه چه بل شئ موجودنو ي،پس که دمرګی یقینی خطره نوئ، نوپه حراموباندی تداوی کول جائزندي .

(۳۷) عن جابر رضی الله تعالی عنه قال اتیت النبی صلی الله علیه وسلم وهو فی المجلس فقال صل رکعتین وکان لی علیه دین فقضانی وزادنی .([2])

ژباړه: له حضرت جابررضی الله تعالی عنه نه روایت دی فرمائی:زه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلم،اودی په مجلس کی تشریف فرماوه، پس اوئی فرمائیل: دوه رکعة مونځ وکړه، ماپه هغه باندی قرض وه پس ادائی کړومالره هغه، اوزیادتی ئی هم راکړو. یعنی دقرض اداء په احسنه طریقه سره پکارده، البته کچیری زیاتوالی شرط کړی،اویاعرف په دی زیاتوالی باندی وی، بیاجائز ندی ځکه معروف کالمشروط وي.

---

[1] رواه ابوداد،ج۲صـــ ۳۸۵)

[2] رواه،البخاری صـــ۲۳۹۴فی الاستقراض)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(۳۸) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال قال الله تعالی ثلاثة انا خصمهم یوم القیامة رجل اعطی بی ثم غدر ورجل باع حرا فاکل ثمنه ورجل استاجراجیرا فاستوفی منه ولم یعطه اجره.([1])

ژباړه:دحضرت ابي هريرة رضی الله تعالی نه روایت دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه مروی دی اویي فرمائل:چه الله پاک فرمائی: زه به دریو کسانو سره دقیامت په ورځ خصم په جنګ وم،یوهغه دی چه ماپه نامه وعده وکړی بیا غداری وکړی،اوهغه سړی چه اصیل(حُر)خرڅ کړی بیائی پیسی اوخوری، او هغه سړی چه مزدوری دمزدورڅخه پوره واخلی اوهغه ته اجرت ورنکړی. یعنی دغه درې ډیرلوی جرمونه دی،پکاردی چه هرمسلمان ترینه ځان وساتی.

(۳۹)عن ابی سعیدالخدری رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن استجارالاجیر،یعنی حتی یبین له اجره .([2])

ژباړه: حضرت ابي سعیدالخداری رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دمزدزر داجاری نیولونه منع فرمائیلی ده، یعنی چه اجرت ورته معلوم نشی. یعنی داجاری دصحت لپاره دوه شرط دی یوداچه منافع معلوم وی،دوهم داچه اجرت معلوم وی.

---

[1] رواه،البخاری،صـــ۴۳۷)

[2] رواه،سنن البیهقی،ج٦صـــ۱۲۰)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

(۴۰) عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من ابتاع طعاما فلا یبعه حتی یقبضه.(۱)

ژباړه: دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دی فرمائی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چاچی طعام واخستو، پس مه دخرڅوی ترڅوپوری ئی چی قبض کړی نوي. یعنی په مثل دطعام منقولی شیان هم دی، ځکه چی قریب دی چی داهلاک شی، نوبیا به بیعه فسخه شی ، نوداد دوکی صورت کیږی ، اوشریعت غراءکی د دوکی کولونه منعه راغلی ده. پای والله تعالی اعلم بالصواب.

دالله تعالی په مرسته اوتوفیق سره درجب المرجب مبارکی میاشتی په اته ویشتم _۲۸_۱۴۲۷_ء دچارشنبی په ورځ پای ته ورسیده.ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم.الهی کل ماطلبته وکتبته ما اردت به الاّوجهک ومرضاتک،فان اصبت فبتوفیقک اصبت فاقبله من هذاالمسکین الباس الفقیر بفضلک،وان اخطات فتجاوزعنی بفضلک ورحمتک یاعلم بذات الصدور ووفقنا للعمل الصالح والقول المصیب،وان یجعل لناذخیرة اللهم اغفرلی ولوالدي والاستاذي ولسائرالمسلمین امین. بجاه سیدالمرسلین صلی الله علیه وسلم

بنده ګل الرحمن نقشبندی مهاجرمد نی عفی عنه الباری.

---

(۱) رواه مسلم ،ج۲ص۱۱۶)

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

تصنيفات: الدكتور العلامة ابو الحبيب گل الرحمن المهاجر المدني الحقاني الأريوبي مدظله العالي

١:- تفسير الأريوبي المسمى زبدة التفاسير الجلد الأول، والثاني، والثالث، والآخر
٢:- معراج العقائد شرح شرح العقائد ...
٣:- معراج الواعظين پشتو.....
٤ معراج الواعظين فارسي.....
٥:- معراج الاسلام پشتو.....
٦:- معراج الاسلام فارسي سياست وحكومت.....
٧:- معراج الاصول شرح حسامي .....
٨:- معراج المنطق.....
٩:- معراج التصوف.....
١٠:- معراج الحجاج والمعتمرين پشتو.....
١١:- معراج الحجاج والمعتمرين فارسي.....
١٢:- معراج الحجاج والمعتمرين أردو...
١٣:- معراج الصرف .....
١٤:- معراج النحو.....
١٥:- الرسالة الحقانية العالية.....
١٦:- زبدة المسائل في توضيح مسائل البيوع پشتو .....
١٧:- زبدة الصلوات على اشرف المخلوقات .....
١٨:- تنوير المسلمين في حكم تلفيزون پشتو .....
١٩:- تنوير المسلمين في حكم تلفيزون فارسي.....
٢٠:- سيف القهار على المستهزئين الكفار پشتو .....
٢١:- سيف القهار على المستهزئين الكفار فارسي.....
٢٢:- دگستاخ رسول په وړاندي دمسلمانانو مسؤليت. ....
٢٣:- مرام نامه.....
٢٤:- ملفوظات.....
٢٥ :- زبدة النحو شرح هداية النحو.
٢٦ :- زاد المسافر پشتو.....
٢٧:- آداب الزيارة المشاهد في المدينة المنورة

Made with Xodo PDF Reader and Editor

ضرورې خبرتیا: لوستونکي که ته هم نوې کتابونه لرې او تر اوسه نوې PDF شوې ، نو سکن یې کړئ د ثواب په نیت او مور ته یې را واستوه چې مور یې تر زرهاوو مسلمانانو ورسوو ، او سکن کول دومره سخت کار نده . یا هم لیکوال یاست که مو ناول یا هم هر قسم کتابونه لیکلي وي ، په خپرولو کې مور مرسته درسره کوو ، ان شاء الله چې تاسو اجازه راکړئ مور به یې نشر کړو که په هره ژبه او هره برخه کې وې ، تر څو مور یې له نورو مسلمانانو سره شریک کړو او په ثواب کې سره شریک شو ، او ما سره په دغه

لاندې نمبر په ټلیګرام کې رابطه کولای شئ : +93789212634

یادونه: وروڼو / خویندو که تر اوسه هم زمور سره نه یاست یو ځای شوې نو په فیسبوک او ټلیګرام کې مو په سرچ سره پیدا کولای شئ یواځې په پښتو یا هم انګلیسي رحماني کتابتون ولیکئ پیدا به مو کړئ او په ټلیګرام کې مو د لاندې بټني او یوزرنیم یا سرچ سره پیدا کړئ او که په واټساپ کې له مور سره یوځای کیږي په هغه پورته نمبر رابطه وکړئ چې لینک درکړم او بل خپل ملګري مو هم درسره راولئ ، زمور د کتابتون کورنۍ تاسو ته سترګې په لاره ده نوځرله دغې خوږې کورنۍ سره یوځای شئ.!

Join

@RahmaniLibrary1

@PaktekawalAfghan

Made with Xodo PDF Reader and Editor
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

زمونږ چاپ شوي کتابونه

0333-9173398
0345-6931477